# ألقول المسرج في حكم إسقاط المروج

## مع

# الاقساط في دفع الاعتراضات على الاسقاط

لأستاذ الحديث فداء محمد
بن محمد عارف بن محمد معصوم ألمعصومي
ألحنفي

أدام الله خدمته للدين الهادي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فداء محمّد المعصومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الفهرس

**الموضوع** **الصفحة**

تمهيد:.............................................................. ۱۰

خطبة الکتاب:.......................................................... ۱۲

حیله اسقاط مرکب اضافي ده: ............................................ ۱۲

د حیلې تعریف:......................................................... ۱۲

د حیلې اقسام:.......................................................... ۱۳

حیله اسقاط د قسم اول ځخه ده:......................................... ۱۷

حیله اسقاط مسنون او مستحب عمل دی: ................................. ۱۸

حیله اسقاط په حقیقت کې حیلة الفدیه ده: ................................ ۱۸

حیله په قرآن کریم ثابته ده: ............................................ ۱۸

حیله په احادیثو مبارکانو ثابته ده: ....................................... ۱۹

حیله په اجماع ثابته ده: ................................................. ۱۹

حیله په قیاس ثابته ده: .................................................. ۱۹

فدیه په قرآن کریم ثابته ده: ............................................. ۲۰

فدیه په احادیثو مبارکانو ثابته د: ......................................... ۲۰

فدیه په اجماع ثابته ده: ................................................ ۲۰

فدیه په قیاس ثابته ده: .................................................. ۲۱

د مجموع مرکب نسبت یو فقهي رسول الله «صلعم» ته کړی دی:...... ۲۳

د مجموع مرکب نسبت یو فقهي عمر بن الخطاب ته کړی دی:........ ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيرانونکې واقعه: ........................................................ ٢٨
علامه ابن نجيم المصرپه البحر الرائق کې وايي: ........................... ٢٨
علامه محمد علاء الدين الحصکفي په در المختار کې وايي:............ ٢٩
علامه محمد آمين ابن عابدين په رد المحتار کې وايي:................. ٢٩
علامه محمد آمين په منحة الخالق کې وايي: ............................. ٣٢
علامه سيد احمد الطحطاوي په طحطاوي کې وايي:...................... ٣٤
علامه نظام او نور کبار علماء کرام په الفتاوى الهندية کې وايي:......... ٣٦
علامه حسن بن علي الشرنبلالي په مراقي الفلاح او نور الايضاح کې
وايي:.................................................................................. ٣٧
علامه فريد الدين عالم بن العلاء الدهلوي الهندي په الفتاوى التاتارخانية
کې وايي: .............................................................................. ٣٨
علامه شيخ امام حافظ الدين محمد بن محمد بن شهاب المعروف «بابن
البزاز» په الفتاوى البزازية کې وايي: ........................................ ٣٨
علامه محمد علاء الدين ابن ابن عابدين په منة الجليل کې وايي........ ٣٩
مفتي ممتاز احمد ته پنځه خبرې: ............................................:٤١
حيله اسقاط پر دوه قسمه ده: ............................................... ٤٥
علماء کرامو ته شکايت او ګيله: .............................................. ٤٨
د ميت لپاره پينځه احوال دي: ................................................ ٥١
د حيله اساقط کيفيت: ........................................................... ٥٤
الاقساط في دفع الاعتراضات على الاسقاط:................................ ٦٢
لومړی ځواب: ...................................................................... ٦٣
دوهم ځواب: ....................................................................... ٦٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېيم ځواب: ........................................................................٦٤
ځلورم ځواب: .....................................................................٦٦
پنځم ځواب: ......................................................................٦٧
شپږم ځواب: ......................................................................٧٧
اووم ځواب: ............. ۷۷..............اتم ځواب.........................٧٨
بعض علماء کرامو ته ځواب: ..................................................٧٩
تحقيق عجيب و مفيد په بدعت کې: .........................................٨١
محمل د هغه احاديثو مبارکانو چې وارد په ذم د بدعت کې دي:........٩٠
د فقهاء کرامو عبارات په بدعت کې: .........................................٩٣
د بعض علماء کرامو اشتباه؛ که د رسول الله «صلعم» يا د صحابه کرامو
رض څخه ثابت و، سنت دی، ګڼې نو بدعت دی: ........................٩٥
اوله سهوه: .........................................................................٩٥
دويمه سهوه: .......................................................................٩٥
درېيمه سهوه: ............۹۸...........ځلورمه سهوه.........................٩٨
لومړی سوال: د حيله اسقاط په وجه خلک بې لمانځه کيږي:............٩٩
ځواب: ..............................................................................٩٩
دوهم سوال:حيله اسقاط داسې حيله ده، لکه د بني اسرائيلو............١٠٠
ځواب: ..............................................................................١٠٠
درېيم سوال: په حيله اسقاط کې رجوع في الهبه ده:......................١٠٠
ځواب: ..............................................................................١٠٠
ځلورم سوال: حيله اسقاط مسخرې دي: ....................................١٠١
ځواب: ..............................................................................١٠٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم سوال: په حیله اسقاط کې غنیان ناست وي:.......................۱۰۶
ځواب: ........................................................................۱۰۶
شپږم سوال: په حیله اسقاط سره دفن ځنډېږي: ............................۱۰۹
اووم سوال: ولئ حیله اسقاط پدغه ورځ کوئ: ............................۱۰۹
اتم سوال: ولئ یې همېشه کوئ، دا خو التزام دی: .........................۱۱۰
نهم سوال: په حیله اسقاط کې مفاسد دي: ..................................۱۱۱
لسم سوال: علماء کرام یې د خپل مفاد لپاره کوي:........................۱۱۳
یوولسم سوال: حیله اسقاط باید د بې لمانځه کس وسي:................۱۱۴
دوولسم سوال: د جنازې له لمانځه وروسته دعا کول مکروه ده:.......۱۱۵
دیارلسم سوال: بعض علماء کرام وایي: د میت د کور ډوډۍ خوړل
مکروه ده: ...................................................................۱۲۵
څوارلسم سوال: بعض علماء وایي: چې رسول الله ندی کړی، مونږ یې
ولئ وکړو، او بل د یو شيء چې مقتضی موجود وي، او مانع نوي موجود
د هغه ترك سنت دی: .......................................................۱۲۶
اهمه مسئله: .....................................................................۱۳۲
مهمه مسئله: .....................................................................۱۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## نحمده ونصلي على رسوله الكريم

أما بعد: محترمو مسلمانانو تاسي ته معلومه ده، چې په موجوده دور کې يو چپه باد را الوتی دی، يو ډول برعکس معاملاتې په جهان کې شروع دي، تور ته سپين او سپين ته تور وايي، حق ته باطل او باطل ته حق وايي،عدل ته ظلم او ظلم ته عدل وايي، حلال ته حرام او حرام ته حلال وايي. تاسي يې بالمشاهده ويني، چې د الله تعالی پر ځمکې د الله جل جلاله بندګانو ته د الله جل جلاله قانون نه غواړي، د بندګانو قانون ورته غوره بولي؛ بلکې د غرب قانون ورته لايق ګڼي، او په دې نظريې کې له دغو خلکو سره ډير علماء هم شريک دي. د الله جل جلاله د قانون نه باغيان په اسلامي رياستونو کې ارتې تنې ګرزي، او د بنده د قانون باغيان ګنهګاران او واجب القتل بلل کيږي. د الله جل جلاله د قانون خواهان او محافظين دهشتګرد او مفسدين دي، او د کفري قانون خواهان او محافظين اتلان او مصلحين دي، عرياني و فحاشي کمال او بشر دوستي بلل کيږي، ستر او حياء نقص عيب او تجاوز بلل کيږي، فريب او چل بازي چالاکي بلل کيږي، د شريعت مطابق ژوند تيرول سادګي بلل کيږي. د ډيرو نارينه وو د ښځو لباس او فيشن خوښ دی، او د ډيرو ښځو بيا د نارينه وو لباس او هيئت خوښ دی، حتی داسې وخت راغلی دی، چې علماء د سنتو او مستحباتو په ترک کې کوښښ کوي، دليل دا وايي: چې دا خو نه فرائض دي، او نه واجبات دي، پاته دې سي، هيڅ پروا نلري، او هغه څوک چې دوام ورباندې کوي، پر هغه د بدعتي مهر وهي، پسې وايې: دا التزام د ما لايلزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، خپل دوام على الترک التزام د ما لا يلزم نه بولي، او د بل دوام على الإتيان التزا د ما لايلزم بولي، و إلى الله المشتکی.

له دې جملې نه حيله اسقاط ده؛ مگر دغه حيله چې په قرآنکريم، سنت نبوي، اجماع او قياس باندې، او دغه رنگه په اقوالو د مفسرينو، محدثينو، اصولينو او فقهاء کرامو ثابته وه، نو دغه علماوو ته د انکار هيڅ وجه نه وه. نو بيا يې داسې کوشش وکړ، چې حيله اسقاط منو؛ مگر مروج اسقاط نه منو.

بعض وايي: چې په قرون الثلاثه کې نه و موجود، نو بدعت دی او بعض وايې: چې کونکي دوام ورباندې کوي، نو التزام د ما لايلزم دی، او بعض وايې: چې مروج اسقاط په ډيرو مفاسدو مشتمل دی، بالآخيره پدې کې ټول متفق دي، چې ترک يې لازم دی. او دې خبرې ته نه گوري، چې قاضي بيضاوي او انور شاه کشميري وغيرهما وايي: چې استقباح د مباح کفر دی. لهذا زمونږ په دغه رساله کې زمونږ د علاقو اسقاط مروج ثابتول او د دغه درو خبرو رد کول مقصود او هدف دی. او بل مو قصد کړی دی، چې په ډير اختصار سره ليکنه وکړو؛ ځکه په حيله اسقاط کې له ډير پخوا څخه علماء مذهب کتابونه ليکلي دي، له هغو څخه يو عمده کتاب منة الجليل لبيان اسقاط ما على الذمة من کثير و قليل، دا کتاب د محمد علاء الدين إبن إبن عابدين الشامي رحمة الله عليه دی، وما توفيقي إلا بالله وهو حسبي نعم المولی ونعم النصير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله الواحد المنان الذي و عد من أطاعه بنعيم الجنان، و توعد من جحده بجحيم النيران، و ستر من فجر بجميل الإحسان، و عذر من اعتذر من قبيح العصيان، و غفر لمن عبر الى حرم الغفران يسبح له الملك بالاعوان، و الفلك بالدوران، والبرق باللمعان، والسحاب بالسريان، والنهر بالجريان، والشجر بالأغصان، والزهر بالالوان، والروض بالغدران، والبر بالكثبان، والبحر بالحيتان، ومنّ علينا بالكد، والاحتيال للفرار عن الحرام، والتباعد عن الوقوع في الاثام لدفع الضرار ، واسقاط الواجب عن النفس، وعن ذمة الأنام لا لإبطال الشرع وتحليل الحرام، ولا لإبطال حق المسلم والولدان، فإنه اثم والعدوان، والصلوة والسلام على محمد خير الخلائق والجان وعلى آله وأصحابه ما دام الدوران وتعاقب الملوان.

أما بعد: قال الله تعالى في محكم القرآن: ﴿وتعاونوا على البر والتقوى، ولا تعاونوا على الإثم والعدوان﴾ ألمائدة.

**حيله اسقاط مركب اضافي ده:** «حيلة الاسقاط» يعني: د اسقاط حيله. د مركب تشريح موقوف وي پر تشريح د اجزاوو، ځکه چې د مركب تعريف موقوف وي پر تعريف د اجزاوو باندي.

«**حيلة**» **هغه شيء ته وايي:** چې د هغه په سبب مقصود ته انسان په پټه جائزه طريقه رسيږي، هغه كه قول وي، او كه فعل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ألحيلة هي ما يتوصل به إلى مقصود بطريق خفي مباح. فتح الباري، والعيني، والقسطلاني.

او علامه إبن نجيم مصري وايي: الحيل جمع حيلة وهي الحذق في تدبير الامور وهي تقليب الفكر حتى يهتدي الى المقصود وأصلها الواو، آه. يعني: حيل د حيلې جمع ده، او حيله په تدبير د أمورو کې هوښياري او بيداري ته ويل کيږي، او سوچ او فکر وهل دي تر داسې وخته پورې چې مقصود ته ورسيږي.

«اسقاط» مصدر دی، مجرد يې سقط يسقط دی، د نصر ينصر له باب څخه دی، او معنی يې «غورځول» ده. د مسلمان پر ذمه باندې لمونځ روژه يا کفاره قسم او يا حج وي، مثلا: نو کوم وخت چې مسلمان دغه ادا کړي، د ده له ذمې څخه دغه أمر ساقط سي، او دی ترې فارغ شي، او يا يې د ادا کولو نه عاجز شي، بيا فديه ورکړي، د فديې په ورکړې سره يې ذمه فارغه شي، او يا د ده پر ځای بل څوک حج وکړي، نو د ده له ذمې نه حج وغورځي. نو د مجموع مرکب اضافي «حيلة الاسقاط» معنی دا شوه، حيلة في اسقاط هذه الامور أو لاسقاط هذه الأمور، يعني: د مسلمان د ذمې د فارغه کېدلو له لمانځه، روژې، او کفاره قسم وغيرهم څخه په يو اسانه او جائزه لار؛ ځکه فارغه کېدل خو په فديه سره کيږي په وخت د عجز کې، او هغه فديې ته داسې طريقه جوړه کړي، چې هم فديه ورکړي، او هم د وارث قدرت په ورسيږي.

**حيله بيا اقسام لري:** بعض جائز دي او بعض ناجائز دي.

مطلق فديه په قرآن عظيم الشان سره او په نبوي أحاديثو سره ثابته ده، انکار ځيني کفر دی؛ ځکه انکار د قرآن عظيم الشان څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلق شيء هغه ته وايي: چې وجود يې په خارج کې په وجود د يوه فرد سره راځي، کله منحصر په واحد کې وي، او کله بيا ډير افراد لري، د دغو افرادو امتياز په قيوداتو او تشخصاتو سره وي، د دغو افرادو و ما به الاشتراک ته نوع يا جنس ويل کيږي، دغه مطلق دی. او ما به الامتياز ته يې قيد او تشخص وايي او مجموع ته فرد ويل کيږي، او د مطلق حکم دا دی، چې احکام د عموم و خصوص او احکام متضاده په اعتبار د افرادو ورباندې جاري کيږي په قرآن کريم کې د حيلې لپاره ډير افراد ذکر دي، يو فرد يې د يوسف عليه السلام حيله ده، چې د خپل ورور د راګرځيدو لپاره يې جوړه کړه او بل فرد يې د ابراهيم عليه السلام حيله ده، چې له کفارو څخه يې ځان په خلاص کړ، ورته ويې ويل ميلې ته نه ځم، مريض يم. او بل فرد يې د ايوب عليه السلام حيله ده، چې د قسم د حانث توب څخه يې ځان په خلاص کړ، او بل فرد د اصحاب السبت حيله ده، چې حرام يې ځان ته په حلال کړو، او دا ډول نوري هم ذکر دي، اوس په دغو ټولو افرادو کې حيله موجوده ده، مګر د هر فرد د هغه بل فرد څخه امتياز په قيد او تشخص سره حاصل دی، په حيله کې ټول افراد سره شريکان دي، او تشخص د هر فرد ځانته دی، مثلا: د ايوب عليه السلام حيله د حنث څخه د خلاصون لپاره وه، او د اصحاب السبت حيله لپاره د تحليل د حرامو وه؛ نو يوه جائز ده او بله ناجائز ده؛ ځکه هر کلی په اعتبار د افرادو په حکمين متضادين متصف کيږي، لکه: انسان، عالم، جاهل، قائم، قاعد، اسود او ابيض، مثلا: دا ټول صحيح دي؛ ځکه يو فرد عالم دی او بل فرد جاهل دی، وعلی هذا القياس. نو يوه حيله بغير د قيد زائده ده، دا نفس حيله ده. او بله حيله سره د قيد زائده ده، دا فرد د حيلې دی، مثلا: حيلة الابراء، حيلة

(c) ketabton.com: The Digital Library



التحليل، حلية التحريم او حيلة الاسقاط. لهذا په قرآن عظيم الشان كې نفس حيله ثابته ده؛ ځكه په قرآن عظيم الشان كې د حيلې افراد موجود دي، په ضمن د افرادو كې نفس حيله لازمي وجود لري؛ مگر دغه افراد بعض جائز دي، او بعض ناجائز دي، د دغو افرادو د معرفت لپاره علماء كرامو حيله تقسيم كړې ده.

إعلم ان الحيل الواردة في القرآن والحديث ثلاث.

ألأول: ما كان لتحليل الحرام و ابطال الشرع وهي حرام، كحيلة لبني إسرآئيل للصيد يوم السبت، وكما حرم الله تعالى عليهم الشحوم فجملوها، يعني: أذابوها ثم باعوا دسمها.

والثانية: ما يكون لدفع الضرر عن نفسه او عن غيره، كما احتال يوسف عليه السلام.

والثالثة: ما يكون لاسقاط الواجب عن الذمة كما احتال ايوب عليه السلام للبر عن اليمين الواقع في شأن إمرأته، وكما احتال النبي صلى الله عليه وسلم في شأن المريض الزاني الغير المحصن، منهاج السنن (۴/۲۲). وهكذا في زاد المحتاج، (۵/۷۲).

قال: في التاتارخانية: مذهب علمائنا ان كل حيلة يحتال بها الرجل لابطال حق الغير ليتخلّص بها عن حرام او يتوصل بها إلى حلال فهي حسنة، وهو معنى مانقل عن الشعبي: لا بأس بالحيلة فيما يحل. قوله: قال الله تعالى: ﴿وخذ بيدك ضغثا فاضرب به ولاتحنث﴾ هذا تعليم الملخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



لأيّوب عليه السلام عن يمينه التي حلف ليضربن إمرأته مائة عود، وقد تعلق محمد بهذه الآية في مسائل الحيل، والخصاف لم يتعلق بها في حيله..........

وعن إبن عباس (رضي الله تعالى عنهما) انه قال: وقعت وحشة بين هاجر و سارة، فحلفت سارة إن ظفرت بها قطعت عضوا منها فأرسل الله تعالى جبرئيل عليه السلام إلى ابراهيم عليه السلام أن يصلح بينهما، فقالت سارة ما حيلة يميني فأوحى الله تعالى إلى ابراهيم عليه السلام أن يأمر سارة أن تثقب أذني هاجر فمن ثم ثقوب الآذان، كذا في التاتارخانية، حموي شرح الاشباه والنظائر، (٤/٢٣٦).

**«ألفصل الأول: في بيان جواز الحيل وعدمه جوازها»**

من مذهب علمائنا رحمهم اللله تعالى أن كل حيلة يحتال بها الرجل لابطال حق الغير أو لإدخال شبهة فيه، أو لتمويه باطل، فهي مكروهة، وكل حيلة يحتال بها الرجل ليتخلص بها عن حرام أو ليتوصل بها إلى حلال فهي حسنة، والأصل في جواز هذا النوع من الحيل قوله الله تعالى: ﴿وخذ بيدك ضعثا فاضرب به ولا تحنث﴾ وهذا تعليم المخرج لأيّوب على نبينا وعليه السلام عن يمينه التي حلف ليضربن إمرأته مائة عود، وعامة المشائخ على ان حكمها ليس بمنسوخ، وهو الصحيح من المذهب كما في الذخيرة. الفتاوى الهندية. (٦/٣٩٠). مكتبة رشيدية

(c) ketabton.com: The Digital Library



فالحاصل: أن ما يتخلص به الرجل من الحرام أو يتوصل به إلى الحلال من الحيل فهو حسن، وإنما يكره ذلك ان يحتال في حق لرجل حتى يبطله او في باطل حتى يموهه او في حق حتى يدخل فيه شبهة فما كان على هذا السبيل فهو مكروه، وما كان على سبيل الذي قلنا أولاً فلا بأس به؛ لأن الله تعالى قال: ﴿وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الإثم والعدوان﴾. (سورة المائدة) ففي النوع الأول: معنى التعاون على البر والتقوى، وفي النوع الثاني معنى التعاون على الإثم والعدوان. المبسوط للسرخسي، كتاب الحيل، (٣٠/٢٣٠). مكتبة رشيدية.

د ټولو عبارتونو خلاصه دا ده، هغه حیله چې د حرامو څخه د خلاصون لپاره وي، او یا حلالو ته د وصل لپاره وي، او یا لپاره د اسقاط واجب وي، او یا د ضرر د دفع لپاره وي، مستحب او حسنه حیله ده. او هغه حیله چې لپاره د تحلیل د تحریم وي، یعني: د غیر د حق د ابطال لپاره وي، او یا د غیر په حق کې د شبهې اچولو لپاره وي، او یا د حق ورکولو د ځنډ لپاره وي، و باطل ته دغه حیله حرام او مکروه تحریمي ده.

**حیله اسقاط د قسم اول څخه ده**، ځکه حیله اسقاط لپاره د کثرت د مال د وارث، یا لپاره د حفاظت د مال د وارث ده، او دغه رنګه لپاره د اسقاط د واجب ده، چې پر ذمه د میت وي، حقیقة یا احتیاطا، او وارث سره له ملګرو دغه اسقاط د واجبو له ذمې د مرده تبرعاً کوي، نه پر وارث واجب ده، او نه د وارث تر ماله د یو چا حق تعلق نیولی ده، چې په حیلې سره د هغه حق ضائع سي، او تبرع أمر مسنون او مندوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لهذا په عامو حالاتو کې حیله اسقاط مستحب ده:** الله جل جلاله فرمایي: ﴿وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الإثم والعدوان﴾. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «خیر الناس من ینفع الناس». او بعض وخت په ثواب کې مسنون او مستحب تر واجب افضل وي، لکه څنګه چې هغه مقامات په فقه کې ذکر دي، حیله اسقاط هم د هغو د جملې څخه ده؛ ځکه زما او ستا په تبرع باندي د یو عاجز مسلمان د ذمې څخه واجب ساقطیږي، په آئنده کې به پر دغه ثواب یوځه بحث وکړو، إن شاء الله.

**په بل عبارت:** حیلة الاسقاط په حقیقت کې حیلة الفدیة ده، ځکه وارث د میت د لمونځونو او کفارو فدیه ورکوي، و هغې فدیې ته حیله جوړه کړي، په صورت د حیلې فدیه اداء کړي.

حلیة الفدیة بیا مرکب ده له دوو لفظونو څخه. یو لفظ «حیله» ده، او بل لفظ «فدیه» ده.

**حلیه په قرآن کریم ثابته ده:** د ابراهیم علیه السلام په شان کې ذکر دي، چې ابراهیم علیه السلام درې[۳] ځایه حیله جوړه کړې ده، یو ځای د خپلې بي بي په شان کې وایي: «هذه أختي» او بل ځای د نمرودیانو په شان کې وایي: «بل فعله کبیرهم» او په بل ځای کې دوی ته په ځواب کې وایي: زه میلې ته نه ځم، «اني سقیم». او د یوسف علیه السلام په شان کې الله جل جلاله وایي: هغه وخت چې یوسف علیه السلام خپل ورور ته د راګرځیدلو لپاره حیله جوړه کړه، ﴿کذلك کدنا لیوسف، آه.﴾ حتی چې الله جل جلاله هم په مقام د امتنان کې ذکر کړې ده، او هم یې د حیلې نسبت خپل ځان ته کړی دی، داسې نوري حیلې هم ذکر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه ډول حیله په احادیثو مبارکانو هم ثابته ده:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو جره سړي زنا کړې وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته أمر وکړ، چې پلان شخص را حاضر کړئ، زنا یې کړې ده، چې په درو یې و وهو، صحابه کرام چې بیرته راغلل، ویې ویل: یارسول الله! د دغه سړي په څیر مرض مونږ په خلکو کې ندی لیدلی، دونه کمزوری دی، که یې تر تا پورې راوړو، نو هډوکې یې ماتیږي، پر هډوکانو یې خالي څرمن پاتې ده، رسول الله ورته و ویل: د خرما د پاڼو ۱۰۰سل خاشې د جارو غوندي سره یوځای کرئ، بیا یوځل دغه شخص په و وهئ. یعني: د سلو درو پر ځای یې یوځل په جارو و واهه.

وقالوا: ما رأينا بأحد من الناس من الضرِّ مثل الذي هو به، لو حملناه اليك لتفسَّخت عظامه، ما هو إلا جلد على عظم. فأمر رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم أن يأخذوا له مائة شمراخ فيضربوه بها ضربة واحدة. سنن أبي داود (٢/٦١٤).

**دغه ډول حیله په اجماع ثابته ده:** ځکه یو شيء چې صراحتا په قرآن کریم او حدیث سره ثابت وي، پر هغه حتما د مسلمانانو اجماع وي، ځکه انکار ځیني کول انکار له قرآن او حدیث څخه دی، او انکار له قرآن او حدیث څخه کفر دی، بیا خو مسلمان مسلمان نشو پاته؛ لهذا د ټول مسلمه امت پر جواز د حیلې اتفاق دی.

**دغه ډول حیله په قیاس سره ثابته ده:** فقهاء کرامو په خپلو کتابونو کې کتاب الحیل لګولی وي. امام محمد رحمة الله علیه د صحیح قول مطابق یو تصنیف په نامه د (ألحیل) لیکلی دی. په کتاب الحیل کې د لمانځه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيلې، د روژې حيلې، د زکوة حيلې، د طلاق حيلې، د اجارې حيلې، د حج حيلې، د نکاح حيلې، د خلع، د أيمانو، د وقف، د عتق، د شركة، د بيع او شراء، د استبراء او داسې نورې ډيرې حيلې ذکر دي، او دا ټولې قياسي دي، نو حيله په قياس سره هم ثابته ده.

او د (حيلة الفدية) دوهم جزء فديه ده، لکه څنګه چې اول جزء (حيله) په قرآن، سنت اجماع او قياس سره ثابته ده، دغه رنګه دوهم جزء (الفدية) هم په دلائلو اربعه وو سره ثابته ده.

**لومړی: فديه په قرآن کريم سره ثابته ده:** ﴿وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين﴾.

**دوهم: په احاديثو مبارکانو سره ثابته ده:** «عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: «لايصلي أحد عن أحد، ولا يصوم أحد عن أحد، ولكن يطعم عنه». متفق عليه، مشكل الأثار (۳/۱٤۱).

وعن ابن عمر رضي الله عنهما قال: «لايصلين أحد عن أحد ولايصومن أحد عن أحد ولكن ان كنت فاعلا تصدقت عنه او اهديت عنه». سنن الكبرى، (٤/۲٥۷).

عن نافع، عن ابن عمر، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: «من مات وعليه صيام شهر فليطعم عنه مكان كل يوم مسكينا». رواه الترمذي، كتاب الصوم.

**درېيم: فديه په اجماع سره ثابته ده:** لکه څنګه چې مخکې ذکر سو، يو شيء چې په قرآن کريم او حديث سره ثابت وي، له هغه نه يو مسلمان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکار نشي کولای، ځکه انکار یې کفر دی، اجماع پدې معنا نه اخلو، چې مذکور شیان په قرآن کریم او سنت کې صراحتا ثبوت نلري، صرف په اجماع د مسلمانانو سره ثابته ده، ځکه اجماع هم یو حجت شرعي دی؛ بلکې اجماع پدې معنا اخلو، چې په گرده مسلمه امت کې د فدیې منکر او مخالف نسته، او له امام محمد رحمة الله علیه څخه په زیادات کې نقل راغلی دی، او پر دغه قول د علماء کرامو اجماع راغلې ده. یو له همدې علماوو نه علامه شامي رحمة الله علیه دی، وایي: و اعلم أیضا: ان المذکور فیما رأیته من کتب علمائنا فروعا و اصولا، إذا لم یوصي بفدیة الصوم یجوز ان یتبرع عنه ولیه، آه. رد المحتار (۱/۵٤۲).

وقال: محمد رحمة الله علیه في الزیادات بجزئه إن شاء الله تعالی، حسامي، (ص-۳۸). نور الانوار (ص-۳۹). یعني فدیة الصلوة په اجماع د علماء کرامو سره ثابته ده.

**څلورم: فدیه په قیاس سره ثابته ده.**

کما روي ان إمرأة جائت إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت ان ابي قد ادرکه الحج وهو شیخ کبیر لایستمسك علی الراحلة افتجزي، ان احج عنه، فقال علیه السلام أرأیت لو کان علی ابیك دین فقضیته، اما کان یقبل منك، قالت نعم. قال: فدین الله احق بالقبول، فقاس النبي صلی الله علیه وسلم، الحج علی دین العباد، والمعنی الجامع بینهما هو الدین، وهو عبارة عن حق ثابت في الذمة واجب الأدآء، والوجوب حکم شرعي، نور الانوار – مبحث القیاس، (۲۳٤).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني يوه ښځه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله، ورته ويې ويل: چې زما پر پلار حج فرض سوی دی؛ مگر هغه ډېر سپين ږيری دی، پر سوارلۍ ځان نشي تکيه کولای، که زه د ده پر ځای حج وکړم صحيح کيږئ.؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: که ستا پر پلار د يو چا قرض وي، او ته يې اداء کړې، هغه کس به يې ستا د پلار پر ځای له تا څخه قبلوئ.؟

دې ښځې ورته وويل:، هو!. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته و ويل: الله جل جلاله يې په طريقه اولی قبلوي.

صاحب د کتاب وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله حق د بندگانو پر حق ور قياس کړ؛ ځکه دواړه ثابت في الذمة دي، او دواړه واجب الاداء دي.

د کلام خلاصه دا ده، چې حيلة الاسقاط په حقيقة کې حيلة الفديه ده، د حيلة الفدية دواړه اجزاء په قرآن کريم، سنت، اجماع او قياس سره ثابت دي؛ نو مجموع مرکب ولي نده ثابت، پر دې کوم څوک دليل نقلي يا دليل عقلي وړاندې کولای شي، چې حيله دې هم په ادله اربعه وو سره ثابته وي، او فديه دې هم ثابته وي؛ مگر مجموع مرکب، يعني: حيلة الفدية دې نوي ثابته.؟

د افسوس خبره ده: هغو علماء کرامو لره، چې دواړه جزئونه مني، ثابت يې بولي؛ مگر پر يوه ځای يې اثبات نه مني، وای: پر يوه ځای په قرآن کې نده ثابته؛ نو د خدای تعالی بندگانو، پر يوه ځای خو د توحيد کلمه هم نده ثابته، د دوو ځايونو څخه به يې را اخلئ، بيا کلمه ترې جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بل پر یوه ځای د ثبوت لپاره** د فقهاء کرامو عبارات کافي او شافي دي، حتی بعض فقهاء کرام مو د حیلې نسبت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کړی دی.

ذكر في فتاوى املح، جاءالصحابي إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: هلكت وأهلكت، فقال: كيف؟

قال: جامعت مع إمرأتي في نهار رمضان، فقال: فعليك رقبة، فقال: رقبتي هذه، وليس لي غيرها، فقال: النبي صلى الله عليه وسلم، صم شهرين متتابعين. فقال: ليس لي طاقة صوم واحد جامعت مع إمرأتي فكيف أصوم شهرين ليس لي طاقة، فقال: فاعط طعام ستين مسكينا. فقال: ليس طاقة، انا بنفسه مسكين. فقال: أعطيني صاعا من تمر لا فك به رقبتك، فقال: والله ليس عندي صاع تمر، فقال: النبي صلى الله عليه وسلم يا عثمان «رضي الله عنه» اعط لذلك الرجل صاعا من تمر، ففعل عثمان بن عفان كما امر رسول الله، فاعطي لذلك الرجل، فقال: النبي صلى الله عليه وسلم اعطيني هذه الصاع من التمر من فدية صوم واحد، ففعل. وقبل النبي صلى الله عليه وسلم ثم اعطى له، فقال: صلى الله عليه وسلم، اعطيني ثانيا، ففعل. وقبل النبي صلى الله عليه وسلم، ففعل كذلك ستين مرة بالإيجاب والقبول، فقال: صلى الله عليه وسلم قد فك رقبتك بهذه الحيلة وأعطى الصاع المسكين، فقال: والله ليس المسكين أفضل مني، فتبسم النبي صلى الله عليه وسلم وأعطى له، صاع التمر انتهى. تسهيل المشكوة (۱۱۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او امام ابن حجر عسقلاني رحمه الله وايي: قلت هذا الحديث مشهور، اخرجه الأئمة كلهم من حديث ابي هريرة ، لكن في هذا السياق مواضع زائدة و مغايرة. الدراية في تخريج احاديث الهداية – باب ما يوجب القضاء والكفارة-حديث: ٣٧١- (١/٢٨٠).

په فتاوی املح کې ذکر دي، چې يو صحابي رسول الله مبارک ته راغی، ورته و يې ويل، يا رسول الله هلاک شوم، او بل مې هم هلاک کړ. رسول الله مبارک ورته و ويل هغه څنګه؟

صحابي مبارک ورته و ويل: له خپلې کور وداني سره مې په روژه کې د سهار په وخت کې جماع وکړه، رسول الله ورته و ويل: پر تا باندې يوه رقبه ازادول لازمه ده، صحابي مبارک ورته و ويل: ييارسول الله د خپل سر نه ماسوا بل يو شيء په ملکيت کې نلرم، رسول الله ورته و ويل: دوې مياشتې پيوست روژې ونيسه، صحابي مبارک ورته وويل: د يوې ورځې روژې د نيولو توان نلرم، جماع مې له کور وداني سره کې وکړه،؛ نو دوې مياشتې به پيوست روژې څنګه ونيسم. رسول الله بيا ورته و ويل: ٦٠شپېته تنه مسکينانو ته ډوډۍ ورکړه، صحابي مبارک ورته و ويل: طاقت يې نلرم، زه خپله مسکين يم. رسول الله ورته بيا ورته و ويل: يوه کاسه خرما وماته راکړه، چې زه دې غاړې په خلاصي کړم، صحابي ورته وويل: په رب تعالی قسم يوه کاسه خرما هم نلرم.

رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت عثمان بن عفان ته وويل: اې عثمانه! دغه شخص ته يوه کاسه خرما ورکړه، حضرت عثمان بن عفان سمدستي د رسول الله د حکم سره سم يوه کاسه خرما هغه شخص ته ورکړه، رسول الله ورته وويل: دغه يوه کاسه خرما ماته د يوې روژې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فدیه کې راکړه، صحابي مبارک ورکړه، او رسول الله مبارک د یوې روژې په فدیه کې ځیني قبوله کړه، بیا یې بیرته دغه صحابي ته ورکړه، بیا رسول الله ورته وویل: بیرته یې د بلې روژې په فدیه کې راکړه، هغه ورکړه، رسول الله ځیني قبوله کړه، همدغه ډول [۶۰]شپېته ځله یې دغه د ایجاب او قبول عمل ترسره کړ، وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ستا رقبه په دغه حیلې باندې ازاده شوه، اوس دغه کاسه یوه مسکین ورته ورکړه، صحابي ورته وویل: په رب تعالی قسم که تر ما بل مسکین وي، رسول الله مسکی شو، او همدغه کاسه یې دغه صحابي مبارک ته ورکړله، انتهی.

پر دغه قیصې زمونږ اعتماد دی؛ ځکه نه هیڅ یوځای معارض لري، او نه د شریعت سره مخالفت لري. لهذا زمونږ لپاره حجت قوي دی، که یو څوک مخالفت لري، هغه دې دلیل را وړاندې کړي.

د دې تائید په حدیث د صحیح البخاري سره کیږي.

حدثنا محمد بن محبوب، حدثنا عبد الواحد، حدثنا معمر، عن الزهري، عن حميد بن عبد الرحمن، عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: هلكت. فقال: « وما ذاك؟ » قال: وقعت بأهلي في رمضان. قال: « تجد رقبة؟ » قال: لا. قال: « فهل تستطيع أن تصوم شهرين متتابعين؟ » قال: لا. آه. فيض الباري شرح البخاري، باب: إذا وهب هبة، (٤/٥٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه ډول د دې تائيد:** د ابي الليث السمرقندي په قول سره هم کيږي، چې هغه يې نسبت حضرت عمر رضي الله عنه ته کړی دی، او نقل يې د امام غزالي رحمة الله عليه څخه کړی دی.

جاء في الدرر للإمام الغزالي رحمة الله عليه حدثنا عباس بن سفيان ، عن ابن علية ، عن بن عوف ، عن محمد بن عبد الله ، انه قال. قال: عمر أيها المؤمنون إجعلوا القرآن وسيلة لنجات الموتى، فتحلقوا وقولوا اللّٰهُمَّ اغفر لهذا الميت بجزء من القرآن لحيلة الاسقاط. قال: العلامة اللبيب مصنف فتوح الشام بسند قوي، اخبرنا: ابو عاصم، عن بن جريج ، عن بن شهاب، عن بن سلمى ، عن بن موسى ، قال: فعل عمر دوران القرآن بجزء منه في حلقة عشرين رجلا بعد صلوة الجنازة لإمرأة ملقبة بحبية بنت عزين زوجة ملدب، وكذا الرجل من الانصار ما حفظنا اسمه، انتهى. وايضا: اخبرنا: سعيد، عن ايوب ، عن جميع ، عن عبد الرحمن ، بن أبي بكر ، انه فعل عمر دوران القرآن بعد صلوة الجنازة، انتهى. ففعل عمر في آخر خلافته حيلة الاسقاط بجزء من القرآن: ﴿من مالي لا أعبد﴾ إلى ﴿عم يتسائلون﴾ ولم يشتهر في خلافته، ثم اشتهر في خلافة هارون الرشيد من غير انكار دوران القرآن لحيلة الاسقاط، انتهى. تسهيل المشكوة . (۱۱۵-۱۱٦).

او په بل ځای کې بيا الفاظ يو څه بدل دي، خو مقصد د ټولو يو دی. يعني: مونږ ته عباس بن سفيان وکړ، هغه د ابن علية څخه، هغه د ابن عون څخه، هغه د محمد څخه، او هغه د حضرت عبد الله ابن عمر څخه، او هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عمر څخه، وايي: حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: اې مؤمنانو! قرآن کريم د خپلو مړو د نجات ذريعه جوړه کړئ، او حلقه جوړه کړئ ،او وواياست دا مړی د دې قرآن کريم په برکت او حرمت سره وبښې، او لاس پر لاس يې کړئ، د حضرت عمر د خلافت په اخيري ورځو کې د قلاب د ښځې لپاره، چې لقب يې حبيبه بنت عربد وو، داسې حيله جوړه سوې وه د قرآن کريم په يو جزء باندې، يعني: له ﴿وما لي لا أعبد﴾ نيولې بيا تر ﴿عم يتسائلون﴾ پوري، او دا طريقه د حضرت عثمان په خلافت کې مشهوره سوه، صرف مروان عنادا ځيني منکر وو، او امام ابو الليث السمرقندي فرمايي: چې دا طريقه بيا د هارون الرشيد په خلافت کې مشهوره سوه، او هيڅا انکار هم ندی ځينی کړی. نو د دې اصل د حضرت عمر رضي الله عنه څخه ثابت دی، که څه هم د حديثو په مشهورو کتابونو کې د دې ذکر نسته؛ مګر د تاريخ په بعض کتابونو کې په قوي سند سره ثابته ده، لکه څنګه چې مؤرخ د فتوح الشام واقدي صاحب ويلي دي، چې مونږ ته ابو عاصم ، او هغه د ابو موسی څخه روايت کوي، چې حضرت عمر رضي الله عنه د شلو کسانو په حلقه کې د جنازې د لمانځه وروسته د يوې ښځې لپاره، چې د هغې لقب حبيبه وو، او د يو انصاري لپاره، چې د هغه نوم راته ياد ندی، دغه طريقه کړې وه، او دغه رنګه په سند سره ثابته ده، چې مونږ ته حضرت سعد بيان کړې ده، له حضرت ايوب څخه، هغه له حضرت جميع څخه ، او هغه له حضرت عبد الرحمن بن ابوبکر څخه، هغه وايي: چې د قرآن د ګرځيدلو طريقه حضرت عمر رضي الله عنه ايجاد کړه، او قرآن کريم د مؤمنانو لپاره هم په ژوند کې او هم له مرګ نه وروسته شفاعت کونکی دی. نفع الموتی (٦٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سند مونږ ته دوو کسانو بیان کړی دی، یو ابو اللیث السمرقندي دی او بل واقدي صاحب دی. پر دغه سند یو عالم دین جرح کړې ده، درایه و روایه،یعني: نقلا و عقلا. مونږ به هم ان شاء الله په عنقریب کې نقلا او عقلا مختصر ځواب ورکړو؛ ځکه ددې عصر ډیر خلک په دغه تحقیق خطاء کیږي، هغو ته به دا معلومه سي، چې دغه جرح او اعتراضات بې ځایه دي.

**حیرانونکې خبره دا ده:** چې دغه سند که بالفرض مجروح هم شي، بیا هم په دغه جرحه خو حیله اسقاط نه باطلیږي؛ ځکه مونږ مقلدین یو، زمونږ د فقهاء کرامو کتابونه په دغه حیله ډک دي، او دغه عالم دین هم مقلد دی، او هم پدې اقرار کوي، چې د فقهاء کرامو کتابونه په ډک دي، د هغه باوجود د منع او د ترک پوره کوشش کوي، وايي: پدې کې مفاسد دي، خؤ مفاسد ځیني لري کړه، دا دومره ستره د خیر دروازه ولي بندوئ.؟

**علامه ابن نجیم مصري په بحر الرائق کې وايي:** إذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة و أوصى بأن يعطى كفارة صلاته يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر، وللوتر نصف صاع، ولصوم يوم نصف صاع وإنما يعطى من ثلث ماله، وإن لم يترك مالا تستقرض ورثته نصف صاع ويدفع إلى المسكين ثم يتصدق المسكين على بعض ورثته ثم يتصدق ثم وثم حتى يتم لكل صلاة ما ذكرنا. البحر الرائق. (۲/۱٦۰).

یعني: که یو سړی مړ شي، او وصیت یې وکړ، چې پر ما قضایي لمونځونه او روژې سته، کفاره یې وکړي. وارث به د ده د مال له دریيمې حصې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر لمانځه په فدیه کې نیمه کاسه غنم ورکوي، او د هرې روژې په فدیه کې هم به نیمه کاسه غنم ورکوي، او که يې مال نه درلود، نو وارث به نیمه کاسه غنم له یو چا څخه قرض کړي، هغه به په فدیه کې یوه مسکین ته ورکړي، مسکین دې بیرته دوی ته په خیرات کې ورکړي، دوی دې بیرته هغه مسکین ته، یا کوم بل مسکین ته په خیرات کې ورکړي. تر داسې حده دې ایجاب او قبول سره وکړي، چې ترڅو لمونځونه او روژې خلاصي سي.

**علامة الحصكفي رحمة الله عليه وايي**: «ولو مات عليه صلوة فائتة و أوصى بالكفارة يعطي لكل صلوة نصف صاع من بر» كالفطرة. «وكذا حكم الوتر» ولصوم وإنما يعطى «من ثلث ماله» ولو لم يترك مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا، ويدفعه لفقير، ثم يدفعه الفقير للوارث، ثم وثم، حتى يتم «ولو قضاها ورثته بأمره لم يجز» ؛ لأنها عبادة بدنية «بخلاف الحج» رد المحتار على هامش در المختار (۱/۵٤۱).

**علامة ابن عابدين رحمة الله عليه وايي**: واعلم ايضا: أن المذكور فيما رأيته من كتب علمائنا فروعا واصولا، اذا لم يوص بفدية الصوم يجوز أن يتبرع عنه وليه، والمتبادر من التقييد بالولي أنه لا يصح من مال الأجنبي، أه. رد المحتار (۱/۵٤۲).

محمد ابن عابدين رحمة الله عليه وايي: ما چې څو کتابونه زمونږ د علماء عظامو ليدلي دي، که د فقهي کتابونه دي، او که د اصولو کتابونه دي، په ټولو کې دا ذکر دي، میت که وصیت په فدیې د روژې نه و کړی، او وارث تبرعا او احسانا ورکړه، دغه فدیه جائز ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل څای کې وايي: (قوله ويستقرض وارثه نصف صاع مثلا) أي: أو قيمة ذلك، والأقرب أن يحسب ما على الميت ويستقرض بقدره بأن يقدر عن كل شهر أو سنة، أو يحسب مدة عمره بعد اسقاط اثنتى عشرة سنة للذكر، وتسع سنين للانثى، لأنها أقل مدة بلوغهما فيجب عن كل شهر نصف غرارة قمح بالمد الدمشقي مد زماننا؛ لأن نصف الصاع أقل من ربع مد فتبلغ كفارة ست صلوات لكل يوم و ليلة نحو مد و ثلث و لكل شهر اربعون مدا و ذلك نصف غرارة و لك سنة شمسية ستة غرائر، فيستقرض قيمتها ويدفعها للفقير، ثم يستوهبهما منه، ويتسلمها منه، لتتم الهبة، ثم يدفعها لذلك الفقير او لفقير آخر، وهكذا فيسقط في كل مرة كفارة سنة، وإن استقرض اكثر من ذلك يسقط بقدره، وبعد ذلك يعيد الدور لكفارة الصيام، ثم للاضحية، ثم للايمان لكن لابد في كفارة الايمان من عشرة مساكين ولايصح أن يدفع للواحد أكثر من نصف صاع في يوم للنص على العدد فيها بخلاف فدية الصلوة، فإنه يجوز اعطاء فدية صلوات لواحد كما يأتي، وظاهر كلامهم أنه لو كان عليه زكوة لاتسقط عنه بدون وصية لتعليلهم لعدم وجوبها بدون وصية باشتراط النية فيها؛ لأنها عبادة فلابد فيها من الفعل (أي من النية) حقيقة او حكما بأن يوصى باخراجها فلا يقوم الوارث مقامه في ذلك ثم رأيت في الصوم السراج التصريح بجوازه تبرع الوارث باخراجها وعليه فلا بأس بإدارة الولي للزكوة، ثم ينبغي بعد تمام ذلك كله أن يتصدق على الفقراء

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشيء من ذلك المال أو بما أوصى به الميت ان كان أوصى. مطلب: في اسقاط الصلوة عن الميت، رد المحتار (۱/۵۴۲).

یعني: وارث دې نیمه کاسه غنم او یا د نیمې کاسې قیمت قرض کړي. ښه خبره دا ده، پر میت چې څونه فدیې او کفارې وي، هغه دې حساب کړي. مثلا: د میت ټول عمر دې شمار کړي، دوولس کاله د ماشوم والي عمر دې څیني کم کړي، نهه کاله دې د نجلۍ والي عمر کم کړي، ځکه په دې عمر کې دوی مکلف نه وي، نو وارث دې د یوې میاشتې په مقدار، یا د یوه شمسي کال په مقدار، او یا د ټول عمر په مقدار ما سوا له عمره د ماشوم والي قرض واخلي، چې د یوې میاشتې د لمونځونو فدیه، نیمه غراره، چې نیم جوال کیږي؛ ځکه نیمه کاسه د مد تر څلورمې حصې کمه ده، د یوې ورځې او شپې د شپاږو لمونځونو یو مد او دریمه د مد کیږي، د یوې میاشتې د لمونځونو څلویشت مدّونه کیږي، او څلویشت مدّونه نیم جوال کیږي، او د شمسي کال چې ۳۶۵درې سوه پنځه شپیته او ۴/۱ څلورمه د ورځې او شپې کیږي، احتیاطا (۳۶۶)درې سوه شپاږشپیته ورځې حساب کړئ، شپاږ جواله کیږي، دغه شپاږ جواله په انګریزي پخو کیلوګانو ۳٬۸۴۳درې زره اته سوه درو څلوېښت کیږي، او په کچه کیلوګان ۴٬۳۹۲څلور زره درې سوه دوه نېوي کیلو کیږي؛ ځکه کاسه په اصلي کیلو ۳٫۵درې نیمي کیلو ده، او په کچه کیلو څلور کیلو ده.سږکال یو کیلو غنم په پنځه شپېته کالداري دی، یوه فدیه په احتیاطي حساب یو سل او دېرش روپۍ کیږي، د یو کال د لمونځونو ۲۸۵٬۴۸۰ دوه لکه پنځه اتیا زره څلور سوه اتیا روپۍ کیږي. او یو لک پنځه اویا زره شپاږ سوه اتیا افغانۍ کیږي. دغه مبلغ هر څونه چې وي، د یوې ورځې وي، د یوې میاشتې وي، د یوه کال وي، کم وي، او که زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، كه موسم د حج د داخيلې وو، كوشش دې وكړي چې كم مبلغ وي، يو فقير ته دې په فديو كې هبه كړي، هغه دې قبول كړي، بيا دې هغه پخپله وركړي، يا دې طلب د هبې ځيني وكړي، له فقيره له تسليم كېدلو وروسته دې بيرته و دغه فقير ته، يا بل فقير ته وركړي، تر داسې وخته پوري دې دغه ايجاب، او قبول وكړي، چې د ټول عمر د لمونځونو فديه يې پوره سي، بيا دې د روژو فديه په دغه شان وركړي، بيا دې د قسم كفاره وركړي : مگر لس كسان به خامخا پوره كوي، ځكه (عشرة مساكين) منصوصي دي، او د لمونځونو هر څونه فديه يوه فقير ته هم وركولى سي، او د فقهاء كرامو له تعليله داسې معلوميږي، چې زكوة بې له وصيته وارث نسي اداء كولى؛ ځكه زكوة عبادت دى، او عبادت نيت حقيقتا، يا حكما غواړي، مگر : د كتاب السراج د روژې په باب كې تصريح سوې ده، چې وارث زكوة هم وركولى سي، د دغه قول مطابق د زكوة فديه دې هم وركړي، دغه رنگه د اختري او وغيره، او په اخير كې دې له دغه ماله يوځه دغه فقيرانو ته په صدقه كې وركړي. رد المحتار (۱/٥٤۲).

**علامه محمد امين:** الشهير بابن عابدين په منحة الخالق كې وايي: (ثم طريق اسقاط الصلوة الذي يفعله الائمة في زماننا... ولا عبد ولا صبي ولا مجنون؛ لان هبتهم لاتصح، ثم يحسب سن الميت فيطرح منه اثنتا عشرة سنة لمدة بلوغه ان كان الميت ذكرا، وتسع سنين ان كانت انثى؛ لان اقل مدة بلوغ الرجل اثنتا عشرة سنة، ومدة بلوغ المرأة تسع سنين. ثم يأخذ الوارث من مال اليتيم وجوبا إن أوصى و إستحبابا ان لم يوص..... أو يأخذ الاجنبي من مال نفسه تبرعا مقدار ماذكر. فيدور المسقط

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنفسه- وارثا كان أو غير وارث - او يؤكل غيره فيقول المسقط أو وكيله لواحد من الفقراء هكذا فلان بن فلان ويذكر اسمه واسم ابيه فاتته صلوات سنة هذه فديتها من ماله نملكك اياها ويعلم أن المال المدفوع إليه صار ملكا له، ثم يقول الفقير هكذا، وانا قبلتها، وتملكتها منك، فيدفع المعطي ويسلم اليه، فيقبض المعطي، فحينئذ يصير فدية صلوة سنة كاملة مؤداة، ثم يفعل مع فقير آخر هكذا الى ان تتم العشرة، فحينئذ تصير فدية عشر سنين مؤدات في دور واحد، ثم يفعل هكذا مرة اخرى ثم وثم الى ان تتم فدية فوائته بحسب الحساب، فاذا تمت فدية فوائته من الصلوة يقول المعطي لفقير واحد من تلك العشرة هكذا فلان بن فلان ملكك سائر ماوجب عليه من ماله، ان كان الميت ذكرا، وان كان انثى يقول فلانة ملكتك جميع ما وجب عليها في مالها. ويفعل مع كل فقير كذلك، فيعترفون كلهم بالقبول ثم يهبونه المال فيأخذه صاحبه وارثا كان او غير وارث ثم يتصدق على الفقراء العشرة ماشاء من الدراهم، ولا يجب تقسيم المال المذكور جميعا على الفقراء، وهذه حيلة شرعية.) منحة الخالق على حاشية بحر الرائق (۲/۱۶۰)-

د دغه عبارت ترجمه هم د مخکيني عبارت په شان ده، مگر په اخير د عبارت کې په دوو لفظونو کې نسبت د ملک و مړي ته سوی دی، دا نسبت مجازي دی، او يا سهو له قلم د ناسخ نه سوې ده. د املکك يا نملکك پر ځای ملکك او ملکتك ليکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علامه سید احمد الطحطاوي رحمة الله علیه وایي:** قوله: ولو مات و علیه صلوات فائتة و أوصى بالكفارة یعطى لكل صلاة نصف صاع من بر كالفطرة و كذا حكم الوتر والصوم، و انما یعطى من ثلث ماله، ولو لم یترك مالا یستقرض وارثه نصف صاع مثلا: ویدفعه لفقیر ثم یدفعه الفقیر للوارث ثم و ثم حتى یتم، آه.

قوله: نصف صاع من بر، آه. او دقیقه او سویقه او صاع تمر او شعیر، وفي الزبیب خلاف او قیمة ما ذكر وهي افضل.

وفي الدر المنتقى: انهم اذا ارادوا الاخراج عنه یحسب عمره بغلبة الظن، ویخرج منه مدة الصبي وهو اثنا عشر في الغلام، و تسعة في الأنثى، و یخرج عنه بقدرها ان كان عندهم ما یكفي و الا تدفع مرارا، انتهى. «قوله ولو لم یترك مالا» او ترك ولم یوص وتبرع عنه ولیه او اجنبي جاز، ولو في كفارة قتل او یمین إلا العتق لما فیه من الزام الولاء على الغیر، وهو المیت. زیلعي.

والمراد بالقتل قتل الصید لا النفس؛ لأنه لا اطعام فیها، نور الأیضاح وشرحه لابي سعود. «قوله: یستقرض وارثه» أي على سبیل التبرع لا الوجوب، والإستقراض والوارث لیسا بقید حتى لو دفع من ماله او دفع غیر الوارث صح. «قوله: للوارث» أي أو لأجنبي كما في شرح نور الأیضاح لأبي سعود، فما یفعل الآن من تدویر الكفارة بین الحاضرین، وكل یقول للآخر وهبت هذه الدراهم لاسقاط ما على ذمة فلان من الصلوة او الصیام، ویقبله الآخر صحیح، ثم لو اخذها احدهم عند قبضها ولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يدفعها واستقل بها يفوز بها على الظاهر، والاولى بعد تدويرها أن يتساووا فيها؛ لانهم انما حضروا ليعطوا منها فنفوسهم متشوقة للاخذ لا سيما المساكين منهم. «قوله: ثم و ثم» الواو داخلة على محذوف كالعاطف قبلها، أي ثم الورث للفقير، والفقير للوارث، ثم الوارث للفقير. «قوله: حتى يتم» أي اخراج ما عليه الطحطاوي على الدر، قبل باب سجود السهو (۳۰۷– ۱/۳۰۸).

علامه طحطاوي رحمة الله عليه هم د در المختار په شرحه کې وايي، که پر سړي لمونځونه او روژې وغيرهما پاته وي ، او وصيت وکړي، د ده د مال له ثلث څخه دې ورکړي، او که يې وصيت کړی وو؛ مګر مال يې نه درلود، يا يې وصيت هم نه وو کړی، وارث يا اجنبي تبرعا و استحسانا د ده لپاره قرض هم کولی سي ، کم سې کم نيمه کاسه د غنمو او له خپله ماله څخه يې هم کولائ سي ، پداسې طريقه چې وارث يا اجنبي دغه فديې و فقير ته ورکړي، او فقير يې له قبلېدو وروسته بيرته مالک ته ورکړي، او مالک يې بيرته فقير ته ورکړي، تر داسې وخته چې د ټول عمر فديه اداء سي، ماسوی (۱۲)دولسو کلونو د نارينه په حق کې او ما سوا له ۹نهه کلونود زنانه په حق کې، او دا صحيح طريقه ده.

په اخير کې چې فديه خلاصه سي، دغه ماليت که يو فقير واخلي، ظاهرا خو صحيح ده؛ خو اولی دا ده، چې له دغه ماليت څخه وروسته ټولو حاضرينو ته، که غنيان وي، او که فقيران وي، يوڅه شيء په صدقه کې ورکړي؛ ځکه د حيلې له خلا صيدلو وروسته هر يو د اخيستلو شوق لري، او خاص بيا مسکينان، آه. پردې ځای په آئنده کې هم يوڅه بحث کوو، إن شاء الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په فتاوی هندیه کې،** چې مشهوره په عالمګیري ده، علماء کرام وایي: اذا مات الرجل و علیه صلوات فائتة فأوصی بأن تعطی کفارة صلواته یعطی لکل صلوة نصف صاع من برّ وللوتر نصف صاع، ولصوم یوم نصف من ثلث ماله، وإن لم یترك مالا یستقرض ورثته نصف صاع، ویدفع الی مسکین ثم یتصدق المسکین علی بعض ورثته، ثم یتصدق، ثم و ثم، حتی یتم لکل صلوة ما ذکرنا کذا في الخلاصة.

وفی الحجة وإن لم یوص لورثته وتبرع بعض الورثة یجوز، ویدفع عن کل صلوة نصف صاع حنطة منوین، ولو دفع جملة إلی فقیر واحد جاز، بخلاف کفارة الیمین، و کفارة الظهار، و کفارة الافطار، الفتاوی الهندیة، (١/١٢٥).

محمد اورنګزیب عالمګیر بادشاه د ټول هندوستان په کچه مشهور مشهور علماء عظام د مولانا نظام «رحمة الله علیه» په سرپرستۍ کې راټول کړل، په هغه وخت کې [٢]دوه لکه روپۍ وظیفه ورته مقرره کړه، د دې لپاره چې عمده او معتمد روایات له کتب مختلفه وو څخه راټول کړي، او یو معتمد کتاب د خلکو د سهولت لپاره ځیني جوړ کړي، چې هر څوک د ضرورت په وخت کې استفاده ځیني واخلي، او دا به د هر چا یقین وي، چې پدې کتاب کې ضعیف اقوال او د امام صاحب «رحمة الله علیه» د مذهب مخالف اقوال نسته. دغه علماء عظام ټول زمونږ په مروجه حیله اسقاط قائل دي، والله اعلم، چې د منکرینو لپاره کوم کتاب په فقه حنفي کې حجت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علامه حسن بن علي الشرنبلالي** «رحمة الله عليه» په نور الايضاح کې وايي:

«فصل: في إسقاط الصلوة والصوم»

إذا مات المريض ولم يقدر على الصلوة بالإيماء لا يلزمه الإيصاء بها، وإن قلّت، وكذا الصوم إن أفطر فيه المسافر والمريض وماتا قبل الإقامة والصحة وعليه الوصية بما قدر عليه، وبقي بذمته فيخرج عنه وليّه من ثلث ما ترك لصوم كل يوم، ولصلوة كل وقت حتى الوتر نصف صاع من برّ او قيمته، وإن لم يوص وتبرع عنه وليّه جاز، ولا يصح أن يصوم ولا أن يصلي عنه، وإن لم يفِ ما أوصى به عما عليه يدفع ذلك المقدار للفقير، فيسقط عن الميت بقدره ثم يهبه الفقير للولي ويقبضه ثم يدفعه الولي للفقير، وهكذا حتى يسقط ما كان على الميت من صلوة وصيام، ويجوز إعطاء فدية صلوة لواحد جملة، بخلاف كفارة اليمين، والله سبحانه و تعالى أعلم، نور الايضاح (۱۰٤).

او دغه ډول مذکور شيخ صاحب «رحمة الله عليه» په مراقي الفلاح کې ويلي دي، (**۲۳۹**).

او د ده په شان کې عبد الحي اللکهنوي په تعليقات على الفوائد البهية في تراجم الحنفية کې وايي:

«وكان من أعيان الفقهاء وفضلاء عصره» حسن بن علي الشرنبلالي د خپل عصر له بهترينو فقهاء او فاضلانو څخه وو، الفوائد البهية في تراجم الحنفية (۷٤).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علامه فريد الدين عالم بن العلاء الإندرپتي** الدهلوي الهندي (المتوفی۷۸٦) په التاتارخانية کې وايي:

رجل مات وعليه صلوات فأوصى ان يطعموا عنه بصلاته إتفق المشائخ على انه يجب تنفيذ هذه الوصية من ثلث ماله، واختلفوا أنه هل يقوم الإطعام مقام الصلوة؟ آه.

وفي الفتاوى الحجة: وان لم يوص الورثة وتبرع بعض الورثة يجوز، وان كانت الصلوات كثيرة والحنطة قليلة يعطى الورثة عشرة امناء مسكين واحد الفداء صلوة يوم وليلة، ثم يدفع الفقير تلك العشرة الى الوارث ثم يدفع الوارث تلك العشرة لفداء يوم وليلة، هكذا يفعل مرارا حتى يستوعب الصلوة فيخرج الميت عن العهدة، ويدفع عن كل صلوة نصف صاع حنطة منوين، ولو دفع جملة الى فقير واحد جاز، وفى الحجة: بخلاف كفارة اليمين وكفارة الظهار وكفارة الافطار، الفتاوى التاتارخانية، رشيدية (۲/٤٥۸).

علامه فريد الدين «رحمة الله عليه» وايي: که ميت وصيت کړی وو په ثلث د مال کې، وصيت يې نافذ دی، او که يې وصيت نه وو کړی، وارث تبرعا فديه ورکړه، هم صحيح ده، او که غنم کم وو، او فديې ډيري وې، بيا دې حيله اسقاط وکړي، د ميت ذمه دې فارغه کړي.

**شيخ امام حافظ الدين محمد بن محمد شهاب:** المعروف بابن البزاز الكردي الحنفي (المتوفى ۸۲۷هق) په فتاوى البزازيه کې وايي: چې مسمى په جامع الوجيز ده:

مات وعليه صلوات يطعم لكل صلوة حتى الوتر نصف صاع، وإن لم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يكن له مال يستقرض نصف صاع ويعطيه المسكين ثم يتصدق به المسكين على الوارث ثم الوارث إلى المسكين ثم و ثم حتى يتم لكل صلوة نصف صاع كما ذكرنا، الفتاوى البزازيه على هامش الهندية، (٤/٦٩). ط- رشيدية.

او د دغه مصنف او كتاب په شان كې علماء كرامو ليكلي دي:

وهو كتاب جامع لخص فيه زبدة مسائل الفتاوى والواقعات من الكتب المختلفة ورجح ما ساعده الدليل وذكر الأئمة أن عليه التعويل فرغ من تاليفه عام ثنتى عشرة و ثمان مأئة. قيل لابي سعود المفتي لم لم تجمع المسائل المهمة ولم تؤلف فيها كتابا، قال: أنا أستحيي من صاحب البزازية مع وجود كتابه؛ لأنه مجموعة شريفة جامعة للمهمات كما ينبغي، آه. كشف الظنون الفتاوى الهندية (٤/١٠).

داسې جليل القدر فقيه چې له نن څخه تقريبا [۶۱۹] شپاړ سوه نولس كاله مخته تېر سوی دی، دا هم پدغه حيله اسقاط قائل دی؛ مگر يو چند منكرين انكار كوي، چې هيڅ يو دليل هم نلري، نه عقلي او نه نقلي.

**علامه محمد علاء الدين بن ابن عابدين** په منة الجليل كې په وجه د تصنيف كې وايي:

أذكر فيها فوائد حسا ن تقربها العينان قد خلت من ذكرها تلك الرسالة «شفاء العليل» وقيدتها هذه العجالة جل مأخذها من كلامه على وفق رأيه و مرامه لم يفرد لمسائلها فيما أعلم مؤلف ولم يسبق في احكامها مصنف مع أنها من أهم المهمات الدينية والفرائض العينية حملني على جمعها ما رأيته وسمعته من بعض جهلة الأئمة من الإخلال بما يتعلق بإسقاط ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



في ذمة، آه. منة الجليل لبيان اسقاط ما على الذمة من كثير و قليل، مجموع الرسائل، (٢٥٨).

علامه محمد علاء الدين شامي «رحمة الله عليه» وايي: پدغه رساله منة الجليل کې يوه داسې ښايسته او زبردسته فائدې ذکر کوم، چې د مسلمانانو سترگې په يخې سي، او هغه داسې فوائدي دي، چې په شفاء العليل کې نه وې ذکر سوې، او پدغه تلوارجنه رساله کې مې هغه مسائلي وتړلې، چې د هغو معظم ماخذ اوس هم د ده له کلامه «ابن عابدين» د ده د رأيې او مرام مطابق را اخيستل سوې دي،، او دغه فوائدي او مسائلي زما د علم مطابق تر اوسه پوري يو بل مؤلف په داسې تفصيلي انداز نه وې بيان کړې، او نه دغه احکام يو مصنف په داسې انداز بيان کړي وو، سره لدې چې په ديني ضروري مسائلو کې هغه ضروري مسائلي دي، او له مسائلو فرضيه وو عينيه ځخه دي، او د دې مسائلو پر جمع کېدلو باندي باعث دا وو، چې له بعضي بې عقلانو امامانو مې داسې شيان اورېدل، چې حيله اسقاط لره مخل وو، يعني: په حيله اسقاط کې يې شکوک او شبهې اچولې.

او زه هم داسې شيء باعث کړم، چې په موجوده دور کې داسې ملايان سته، چې د دغه خير عظيم دروازه وتړي، او دا کوشش کوي، چې دغه طريقه بدنامه کړي، او وايي: چې اسقاط منم؛ خو مروج نه منم؛ بلکې داسې مفتي سته، په نامه د ممتاز احمد رښتيا هم، چې په تعصب او عناد کې ممتاز دی، هغه وايي: چې مروجه حيله اسقاط بدعت او گناه کبيره ده، او د کونکي امامت مکروه تحريمي ده، که يو مقتدي د امام په جواب کولو قدرت نلري، هغه مسجد دې ترک کړي، او بل مسجد ته دې ولاړ شي، العياذ بالله من هذه العقيدة الفاسدة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اول:** مفتي ممتاز صاحب!

منم چې په سندهـ او پنجاب کې به ممتاز صاحب تا یو چند بریلوي حضرات لیدلي وي، او یا به دې اوریدلي وي، چې په هغو کې داسې اسقاط مروج دی، لکه څنګه چې ته وایي. د هغو له وجې د ټولي دنیا ، او بیا خاصکر د افغانستان حیله اسقاط ته بدعت او ګناه کبیره مه وایه.

راسه! و یې ګوره، چشم دید فیصله وکړه، که یو فیصد د فقهاء کرامو له حیله اسقاط څخه مخالف وو، بیا ستا دعوه برحق ده، یو څو د ملازیې ملایان غریبان دې په یوه ړنده فتوی باندي خطاء کړو، ځکه فتوی خو د اکابرینو حضراتو ده، هغه پر خپل ځای صحیح ده، ځکه هغه خو د سندهـ او پنجاب د یو چند کسانو پر مروج اسقاط لیکله سوې وه ، او تا د بلوچستان او افغانستان پر اسقاط ورولګوله .

**دویم:** مفتي ممتاز صاحب!

که له تاسره حقیقي د مسلمانانو غم وي او له ګناه کبیرې یې خلاصه وي، او دونه غټ سفر پسې کوي ، چې له سندهـ څخه بلوچستان ته راځې، او دلته دا کوشش کوئ، چې حیله اسقاط بند سي، خلک به له بدعت ، او ګناه کبیرې څخه خلاص سي، یو چند قدم مخته ولاړ سه، د مسلمانانو له حاله ځان خبر کړه: د [٥٢]مملکتونو کفار راغلي دي، خلک یې په کفر اخته کړو، اسلامي نظام یې ړنګ کړ، مدارسې یې ختمې کړې، مساجد یې ونړول ، عالمان او طالبان یې بندیان ، او شهیدان کړو، د مسلمانانو عزت یې پایمال کړ ، قرآن کریم یې په مرمیو سوری سوری کړ ، دغه دفاع پر تا هم فرض عین ده، د دغه کفري نظام د ختمېدلو لپاره او د دغه ظلم او ستم د دفع کېدلو لپاره هم یو کوشش وکړه، یو تحریک شروع کړه.

او یو څه پخپل ګرېوان ته سر ټیټ کړه ، ستا خاوره د مسلمانانو پر خلاف د کفارو په خدمت کې استعمالېږي ، ستا فوځیان د کفارو د خوشحالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره قرباني کيږي ، ستا زندانونه د مسلمانانو د غازيانو لپاره تياريږي ، ستا په پارلمان کې کفري او انگريزي قانون چليږي ، پر تا صدارت او آمريت کله ښځه او کله يې شيعه کوي ، او تا دغه قانون هم منلی دی، او هم يې اسلامي بولې نعوذ بالله .

دغه خپل ځان او مسلمانان له دې گناه ، او کفر څخه خلاص کړه ، د دغه شيء لپاره هم يو د ملازيې د ملايانو په شان يو جماعت جوړ کړه ، يو تحريک شروع کړه ، چې دغه مسلمانان له گناه کبيرې څخه نه ، بلکې له کفر اون کفري عقيدې وساتل سي.

او يوځه خپل نظام او دستور ته وگوره ، په ملک کې رشوت بند کړه ، شراب خانې او فحاش خانې وتړه ، سود ختم کړه ،له سيکولرانو ، بريلويانو، سلفيانو ، او شيعه گانو سره اتحاد ، او اتفاق ختم کړه .

د حکومت د حصول لپاره مو هره نارواه خپل ځانته د حکمت په نام رواه کړې ده ، د غربي ډيموکراسۍ دروازه بنده کړه ، پخپل گوند کې د شريعت مخالف کس ته ځای مه ورکوه ، د نر او ښځې په منځ کې فرق وکړه ، که دغه کارونه کولای نسئ، کم از کم يو تحريک خو شروع کړه، او که يې جائز بولې بيا خو خبره نوره هم خرابه سوه ، نعوذ بالله من ذلک .

**درېيم :** مفتي ممتاز صاحب!

که هر حيله گر ملا د دغو الفاظو مستحق سي، لکه ته چې وايي: مثلا بدعتي دی ، مرتکب د گناه کبيرې دی ، فاسق دی ، امامت يې مکروه تحريمي دی ، او داسې نور ....

نو د هندوستان ، پاکستان او افغانستان ټولي مدارسي خو په حيله چليږې ، بيا خو به دغه عالمان ، مهتممان او ناظمان ټول بدعتيان ، او فاسقان سي، د مسجد د جوړېدلو لپاره به هم حيله بنده وي ، او د مدرسې د چلېدلو لپاره به هم حيله بنده وي، او که يې نکړې بنده بيا خو ستا په فتوی بدعتيان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاسقان دي ، نعوذ بالله من هذه الاقوال.

او فقهاء کرام وايي: وکذلك في جميع ابواب البر اللتي لايقع بها التمليك ، كعمارة المساجد ، وبناء القناطر ، والرباطات لايجوز صرف الزكوة الى هذه الوجوه ، والحيلة له أن يتصدق بمقدار زكوته على فقير ثم يأمره بعد ذلك بالصرف إلى هذه الوجوه، فيكون للمتصدق ثواب الصدقة ولذلك الفقير ثواب بناء المسجد والقنطرة، الفتاوى الهندية - كتاب الحيل (٦/٣٩٢).

ممتاز صاحب!

پر دغه فقير دا گمان مه کوه، چې دغه روپۍ دې والله که د زړه له اخلاصه مسجد ته ورکړې وي؛ ځکه زه تا پيژنم، چې تر اوسه دې سل روپۍ چاته ندي ورکړې، اوس څنگه سخي د زمانې سوئ، چې لس لکه روپۍ و مسجد ته ورکوئ، او دونه مسکين هم يئ، چې مستحق د زکوة يئ؛ ځکه دغه ورکونکی يې داسې چاته ورکوي، چې هغه يې پر مسجد ولگوي، نو فقير دغه فرصت له لاسه نه ورکوي. فقير وايي: که دغه وعده نه وکړم، بيا خو يي په بل چا قبض کوي، نو دغه ثواب له لاسه مه ورکوه. د حيله اسقاط والا هم داسې ده، دغه د ځان لپاره فرصت بولي، که فقير دغه او تبرع او تصدق نه کوي، نو وارث د ميت هم له ده سره دغه تبرع نه کوي.

**څلورم:** مفتي ممتاز صاحب!

علماء کرام خو وارث الانبياء دي، انبياء کرامو د امتيانو اصلاح کوله، امتيان يې د شريعت مطابق جوړول، د امتيانو د نيت او اعمالو اصلاح يې کوله، لکه رسول الله «صلی الله عليه وسلم» چې ويلي دي، «صلوا كما رأيتموني أصلي». داسې لمونځونه کوئ، لکه زه چې يې کوم. او بل ځای يو صحابي مبارک د رسول الله «صلی الله عليه وسلم» مخ ته لمونځ وکړ، په لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یوځه خلل وو، رسول الله ورته وویل، ولاړسه، لمونځ وکړه، تا لمونځ ندی کړی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې ندي ورته ویلي، چې لمونځونه مه کوي، ستاسو په لمونځونو کې خلل دی، العیاذ بالله؛ بلکې ورته وایي: چې داسې وکړئ، لکه تاسي چې زه لیدلی یم، او لمونځ کوم. یعني: زما په طرز او طریقه یې وکړي.

ممتاز صاحب! ته هم خلک پوه کړه، او ورته ووایه، چې پداسې طریقه اسقاط کوئ، لکه زه چې کوم، زما په طرز او طریقه یې کوي؛ ځکه زه یې د فقهي او مذهب موافق کوم.

داسې مه ورته وایه، چې مه یې کوئ، ستاسي په حیله اسقاط کې خلل او مفاسد دي؛ ځکه بیا خو د دې فتوی نوبت راځي، چې امت ته ووایو، ستاسي په لمونځونو کې خلل او نقصان دی، لمونځونه پرېږدئ. دغه ډول حج په صحیح طریقه نه ادا کوئ، حج پرېږدئ، دغه ډول جهاد، روژه، زکوة او صدقات، نعوذ بالله من ذلک.

ممتاز صاحب!

علماء کرام وارثان او آمران دي، د امت په هر عمل کې چې فساد او خلل و ویني، هغه نقصان او فساد به ختموي، عمل به نه بندوي، که وارث خپل مسئولیت اداء کولای، په امت کې به ولي د شریعت خلاف شیان مروج کیدل.؟

**پنځم:** مفتي ممتاز صاحب!

زما په فکر ته د مطلق حیله اسقاط منکر یئ، خالي دې په مروج پسې لاس نیولی دی؛ ځکه ته او انصاف په ژوند کې دې په څو مړیو «میت» پسې حیله اسقاط کړی دی.

فقهاء کرام وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم میت لمونځ گزار وي، او وصیت یې هم نوي کړی، او وارث روپۍ هم نلري، له بل کس څخه دې قرض واخلي، تبرعا دې د میت د لمونځونو فدیه په حیله اسقاط اداء کړي، او پدغو عباراتو ټول احناف متفق دي، که برېلویان حضرات دي، که دیوبندیان حضرات دي، که سیفیان حضرات دي، او که مطلق افغانان حضرات دي.

په چېلنج درته وایم!

یو منکر پکې را پیدا کړه، او که دې نوي کړی، نو ته د مذهب د ټولو علماء کرامو خلاف یئ، پر دغه میت غریب دې نه خپله تبرع لوریږي او نه د بل تبرع ورته غواړئ، پر دغه میت که بلکل فدیه نه وي، دغه ایجاب او قبول تصدق دی، تصدق څنگه منکر یا مباح بولئ.؟

هكذا ينبغي ان يفعل، وان كان الشخص محافظا على صلواته احتياطا خشية ان يكون وقع خلل، ولم يشعر به، مجموع الرسائل – ابن عابدين(٢١٢). و حاشية الطحطاوي على الدر (٣٠٧/).

فان كفت عنها عندالله تعالى فبها، وإلا فله ثواب الصدقة، نور الأنوار (٣٩).

بلا تاخیر خپل مقصد ته را گرځم، د ممتاز صاحب په حق کې مو اوس هم خبره اوږده کړه، ممتاز صاحب پوه سو، او فتوې یې پوه سوه، ممتاز صاحب پدغه فتوی کې ممتاز دی؛ هو کی! خو بل ملگری په مذهب کې نلري.

**حیله اسقاط پر دوه قسمه ده:** یو حیله اسقاط من حیث الکم والذات ده، او بل حیله اسقاط من حیث الکیف والوصف ده.

په حیله اسقاط من حیث الذات کې ټول علماء احناف پر جواز باندي متفق

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، که سابقه احناف وي، لکه څنګه چې د هغو د يوڅو کتابونو ذکر مخته وسو. مثلا: فتاوی سمرقنديه، فتاوی بزازيه، فتاوی هنديه، در المختار، رد المحتار، بحر الرائق، منحة الخالق، الطحطاوي على الدر المختار، نور الايضاح، مراقي الفلاح، طحطاوي على مراقي الفلاح، مجموع الرسائل لابن عابدين، وغيرهم.

او که جديد احناف وي، هغه که بريلوي حضرات وي، او که ديوبندي حضرات وي، د هغو کتابونه لکه، فتاوی رضويه، بهار شريعت، فتاوی بحر العلوم، فتاوی دار العلوم ديوبند، فتاوی دار العلوم زکريا، فتاوی حقانيه، فتاوی فريديه، احسن الفتاوی، آپ کے مسائل اور ان کا حل، فتاوی قاسميه، خير الفتاوی، فتاوی محموديه، امداد الفتاوی، وغيرهم.

دغه ټول علماء کرام د حيله اسقاط پر جواز من حيث الذات قائل دي، يو هم نه منکر دی او نه منکر کېدلی سي.

د حيلې اسقاط من حيث الکيف والوصف يوڅو ديوبندي علماء کرام منکر دي، د دغه انکار دوې وجې دي.

اوله وجه داده:

دغه علماء کرام وايي: چې په حيله اسقاط کې د شرائطو مراعت کول نه ترسره کيږي، لهذا دغه مروجه حيله اسقاط ناجائز دی، او دا نزاع لفظي ده؛ ځکه يو عالم هم داسې نه وايي، هغه که بريلوی وي، که سيفی وي او که افغانی وي، چې په اسقاط کې دې مراعت نه کول کيږي، او د هغه باوجود دغه حيله اسقاط مسنون او مستحب عمل دی، کلا و حاشا؛ بلکې ټول پدې متفق دي، چې حيله اسقاط له شرائطو سره مستحب او ښه کار دی، او بې له شرائطو ممنوع او ناجائز دی، صرف پدې کې فرق سره لري، چې دغه بعض ديوبندي علماء د دغو مفاسدو په وجه دغه عمل بندوي، باقي نور ديوبنديان، بريلويان، سيفيان او عام افغانان عمل نه بندوي، بلکې اصلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې کوي.
الحمد لله زمونږ په حیله اسقاط کې یو د فقهي مخالف شيء هم نسته، لهذا زمونږ د حیله اسقاط منکر په یوه مسلک کې هم نسته.
دوهمه وجه د انکار دا ده: چې په هندوستان او پاکستان کې دوې ډلي د امام صاحب رحمة الله علیه په مذهب کې ډیر تعصب او عناد سره کوي.
د دغه ډلو د اکابرینو حضراتو په منځ کې په یوڅو مسائلو کې اختلاف جوړ سو، په هغه اختلاف کې یې د تعصب او عناد نه کار واخیست، تر داسې حده، چې پر یوه او بل یې د کفر فتواوي سره ولګولې، چې هر طرف تجاوز او تېری کړی وي، الله جل جلاله دې عفوه ورته وکړي. بالاخره یې یوڅو اعتقادي مسائلي سره ښکاره کړې، او یوڅو یې عملي سري ښکاره کړې، او هر طرف پر خپل نظر او رأیي ټینګ ودرېد.
اعتقادي مسائلي: لکه مسئله د نورانیت او بشریت، علم غیب، حاضر او ناظر، او مختار کل، چې اوس هم د انصاف نه کار واخلي، نزاع لفظي ده.
عملي مسائلي: لکه عمامه، حیله اسقاط، دعا بعد السنن، دعا بعد صلاة الجنازة، وضع الابهامین علی العینین عند ذکر أشهد أن محمد رسول الله في الآذان، او میلاد نبوي صلی الله علیه وسلم، او الصلوة والسلام علیک یارسول الله تر اذان لمخه ویل، او تقبیل الیدین والرجلین، او نذر لارواح الاولیاء والاموات، وغیرهم.
دغه اعمال بریلوي حضراتو کول، او دیوبندي حضراتو به ورته ویل، چې دا خو ناجائز دي؛ مګر دونه په اهتمام باندي کول، لکه تاسي چې کوي، لازم ندي؛ ځکه التزام د مالایلزم دی، او پدغه مسائلو کې هم، که له انصاف نه کار واخیستل شي، د دوی مینځ کې نزاع لفظي ده.
په موجوده دور کې د هر طرف متبعین پدغه مسائلو کلک سره ولاړ دي، یو طرف دونه شدت کوي، چې وجوب ته یې رسوي، او بل طرف دونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سستي او لاپرواهي پکې کوي، چې بدعت او ناروا ته يې رسوي. تقريبا اکثر يې تحقيق نه کوي، د خپلو اکابرينو په فتوی يې دونه اعتماد حاصل دی، چې هر يو خپل نسبت ته د مذهب په نظر گوري. د دغو اکابرينو مقلدين جوړ سوي دي، لهذا بريلوي حضرات اسقاط کوي، او په ديوبندي حضراتو کې يوڅه متعصب کسان د دغه عمل د بنديدلو کوشش کوي، نه ټول ديوبندي علماء کرام.

**علماء کرامو ته يو شکايت او گيله ذکر کوم:** له هغه وروسته زمونږ په علاقو کې د حيله اسقاط مروج کيفيت او طريقه ذکر کوم.

له بعض علماء کرامو دا شکايت لرم، چې د اسلام تر دفاع او د مذهب تر دفاع د اشخاصو دفاع ته ترجيح ورکوي.

مونږ مسلمانان يو، په مسلمانانو کې د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه مقلدين يو. مونږ يوڅه موده وړاندې نه بريلويان او نه ديوبنديان وو، دواړه جماعته يو حنفي جماعت وو، کوم وخت چې شخصي فتواگاني او افتراگاني وسوې، يو پر بل د کفر فتواوي ولگيدلې، د هر يوه شاگردانو او ملگرو په شخصي دفاع او شخصي اعتراضاتو لاس پوري کړ، مثلا: د بريلويانو اعلی حضرت پر مولانا محمد قاسم نانوتوي، او پر مولانا اشرف علي تهانوي «رحمة الله عليهما» د کفر فتوی ولگوله، د دوی شاگردانو هم د فاع متې راونغښتې، او پر احمد رضاخان يې د کفر فتوی ولگوله. بيا د هغه په جانب کې داسې وسو، چې تر اوسه دغه د کفر فتواوي العياذ بالله يو او پر بل باندي لگيږي.

حال دادی، چې يو څوک پر چا د کفر فتوی ولگوي، که هغه کافر و؛ خو صحيح ده، او که نه و کافر، ويونکی پرې کافر کيږي، او که دې له سره فتوی ونه لگوله، په ورځ د محشر خو دا پوښتنه نه در څخه کيږي، چې تا پر فلاني شخص ولې د کفر فتوی نه وه لگولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید چې داسې ونه کړو، چې په شخصي دفاع کې خپل ځانونه کافران کړو، العیاذ بالله.
که احمد رضاخان  اشرف علي تهانوي «رحمة الله علیهما» په یوه وینا باندي کافر بولي، که په هغه وینا باندي سړی رښتیا کافر کیږي، او اشرف علي تهانوي هم کړې وي، د اشرف علي تهانوي کار خراب سو.
او که هغه وینا د کفر نه وي، او یا اشرف علي تهانوي کفر نوي کړی، نو د احمد رضاخان کار خراب سو، دغه له هغه بله جانبه. نو ما او تا ته څه ضرورت دی، چې ورگډیږو.؟

او که له ما او تا پوښتنه وسي، چې فلان کس په فلاني قول یا عمل کافر دئ، او که نه.؟
مونږ باید هغه قول او عمل پر شریعت عرض کړو، که په هغه انسان کافر کیده، نو به ځواب ورکړو، چې پدغه قول یا عمل کافر کیږي، داسې باید ونه وایو، چې فلانی کافر دی. څه معلومه ده، چې هغه دغه قول یا عمل کړی دی، او که نه.
او که نه کافر کیدو، بیا به ځواب ورکړو، چې پدغه قول یا عمل انسان نه کافر کیږي.
شخصي دفاع سړی له هغه چا کوي، چې د کوم شخص مقلد وي، مونږ د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په مسائلو اجتهادیه وو کې مقلدین یو. یعني: په مسائلو غیر منصوصیه وو کې، او په منصوصه متعارضه وو کې او غیر متعارضه محتمله وو کې، او یا غیر محتمله وو کې، لیکن حکم معلوم نه وي.
مونږ نه د دیوبند او نه د بریل مقلدین یو؛ ځکه دا د دوو ځایونو او تعلیمي ادارو نوم دی، لکه څنگه چې، قاري محمد طیب رحمة الله علیه ویلي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



«چې دیوبند نه زمونږ مذهب دی او نه زمونږ مسلک دی، صرف پر مونږ تپل سوی دی، مونږ اهل السنة والجماعة یو؛ خو خلک مو دیوبندیان بولي».

او که بالفرض شخصي دفاع کوو، باید چې دونه دفاع یې وکړو، چې معترض ته ووایو، چې ستا خبره الزام ده، افتراء ده، حقیقت نلري. او که یې حقیقت درلود، باید تسلیم یې کړو؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: ډیر محبت د شيء انسان هم کوڼ کوي، او هم یې ړوند کوي، بیا نه حق ویني او نه د هغه شيء عیب ویني. لکه څنگه چې مفتي ندیم صاحب یوڅه وخت مخکې خپلو شاگردانو ته ویلي: «که د دیوبند او د احنافو د مذهب ټکر سره راغی، تاسي به ترجیح دیوبند ته ورکوي، که څه هم مونږ احناف یو، او دغه ډول که د دیوبند او ماتریدیت ټکر سره راغی، تاسي به ترجیح دیوبند ته ورکوي».

او دا تقلید دی، بالاخره داسې حد ته دا سلسله ورسیده، چې ډیر داسې اعمال دي، چې بریلویان یې کوي، او د دې عصر دیوبندي حضرات د هغو اعمالو د منع کوشش کوي؛ ځکه د بریلویانو خاصه ده، چې تحقیق نه کوي، چې دغه اعمال زمونږ د مذهب سره موافق دي، او که مخالف دي.

ډیر داسې اعمال دي، چې بریلویان یې د دیوبندیانو له وجې د منع کوشش کوي، او دا تحقیق نه کوي، چې دغه اعمال د مذهب مطابق دي، او که مخالف دي.

لهذا التماس کوم، باید چې د مذهب مقلدین سو، د هر شخص، د هر مشر، او د هر رهبر مقلدین جوړ نسو؛ ځکه ډیر رهبران دې پدې ملک کې، عالمان هم دي، مفتیان هم دي، شیخان هم دي، په جمهوري او ډیموکراسي نظام کې ناست دي، او ملت سره وعدې کوي، چې پدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوري نظام کې اسلامي نظام درته راولو، بس خالي یوڅه فرصت راکړي.

دا داسې مثال لري، لکه یو څوک چې ووايي، چې زه له دې مردارې چرګ او یا مردار څاه څخه د پاکو خوړو اوبو پیپ درته راولم. او یا لدې «ادب دې وي» سپي او خرې څخه د غوا کار درته اخلم، چې هم به یې غوښه پاکه وي، او هم به یې شیدې پاکې وي، او هم به ډیري وي، بس، خالي موقع راکړئ. این خیال است، و محال است، و جنون است. پدغه وینا یې ډیرو عوامو او خواصو ته قناعت ورکړی دی، او هغو دغه ړوند تقلید قبول کړی دی، بغیر د کوم دلیل نه یې دغه خبره منلې ده، افسوس صد افسوس. عوام که دوکه سي، عالمه ته څنګه دوکه کیږئ!

دا خو یوه شرعي مسئله ده. هغه به څنګه عالم وي، چې پدغه منصوصې مسئله هم نه پوهیږي، الله جل جلاله دې مونږ او تاسي ټولو ته د اسلامي نظام تر سایه لاندې ژوند را نصیب کړي ، جمهوري نظام غربي او کفري نظام دی، د اسلامي نظام توقع ځیني کول جهل او نا پوهي ده.

## د میت لپاره پینځه احوال دي:

**لومړی:** هغه میت دی، چې تر شا یې مال نسي پاته، وصیت یې کړی وي، او که یې نوي کړی، د وارث لپاره مستحب دا دی، چې د ده د ټول عمر د لمونځونو وغیره فدیه ورکړي، او که یې په توان او قدرت کې نه وي، حیله اسقاط دې وکړي، او که د وارث بلکل مال نه وي، و دغې حیلې ته دې قرض وکړي، او یا دې اجنبي دغه تبرع وکړي.

**دویم:** هغه میت دی، چې تر شا یې مال پاته وي؛ خو وصیت یې نوي کړی، د دغه حکم هم داسې دی، لکه د اول قسم، یعني: پر وارث یې فدیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واجب نده؛ خو مستحب دا ده، چې ور یې کړي، یا دې حیله اسقاط وکړي، یا دې دغه تبرع اجنبي شخص وکړي.

**درییم:** هغه میت دی، چې تر شا یې مال پاته وي، او وصیت یې هم کړی وي؛ خو وصیت یې تر ثلث د مال کم کړی وي، او هغه کم مال د ده د روژو او لمونځونو وغیرهما فدیه نه په اداء کیده، د دغه حکم هم د اول په څیر دی، حیله اسقاط دې وکړي.

**څلورم:** هغه میت دی، چې هم یې مال پاته وي، او هم یې وصیت په ثلث د مال کړی وي، خو دغه ثلث د مال د فدیو کفایت نه کوي، پدغه دواړو صورتونو کې هغه د وصیت مال په فدیو کې ورکول پر وارث باندي واجب دی، د باقي لمونځونو او وغیره لپاره دې وارث یا اجنبي حیله اسقاط وکړي، که یې حقیقتا اداء په قدرت کې نه وه.

**پینځم:** هغه میت دی، چې هم یې مال پاته وي، او هم یې وصیت کړی وي، او هم یې په ثلث مال کې کړی وي، او هم دغه ثلث د ده د هغو فدیو کفایت کوي، مثلا: ویلي وي، چې پر ما پنځوس لمونځونه پاته دي، او شل روژې پاته دي، او د ده په ثلث د مال سره د سلو لمونځونو او روژو فدیه اداء کېده، پر وارث باندي د دغه سلو لمونځونو او روژو فدیه ورکول واجب ده، حیله اسقاط به نه پکې کوي ، مگر د هغه باقي لمونځونو او روژو فدیه خو احتیاطا ورکول کیږي، که څه هم ده اداء کړې وي ، د هغو لپاره بیا حیله اسقاط مستحب ده، او که دغه ثلث مال د ټول عمر د لمونځونو، او روژو وغیره لپاره کفایت کاوه ، په دغه صورت کې فدیه ورکول پر وارث باندي واجب ده . حیله اسقاط کول ناروا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هكذا ينبغي ان يفعل وان كان الشخص محافظا على صلواته احتياطا خشية ان يكون وقع خلل ولم يشعر به مجموع الرسائل (٢١٢).

وان لم يوصي وتبرع عنه وليه او اجني جاز ان شاء الله وان لم يكف ما اوصى به الميت عما عليه ، او لم يكف ثلث ماله ، او لم يوصي بشيء واراد احد التبرع بقليل لايكفي فحليته لابراء ذمة الميت عن جميع ما عليه ان يدفع ذلك المقدار اليسير بعد تقديره لشيء من صيام او صلوة او نحوه ويعطيه للفقير بقصد اسقاط ما يرد عن الميت فيسقط عن الميت بقدره ثم بعد قبضه يهبه الفقير للولي ، او للاجنبي ويقبضه للتتم الهبة وتملك ثم يدفعه الموهوب له للفقير بجهة الاسقاط متبرعا به عن الميت فيسقط عن الميت بقدره ايضا ، ثم يهبه الفقير للولي ، او للاجنبي ويقبضه ثم يدفعه الولي للفقير متبرعا عن الميت وهكذا يفعل مرارا ، حتي يسقط ماكان بظنه على الميت من صلوة وصيام ونحوهما مما ذكرناه من الواجبات وهذا هو المخلص في ذلك انشاء الله بمنه وكرمه ، مراقي الفلاح مع الطحطاوي – بحث اسقاط الصلوة والصوم (٢٣٩ ).

وفي الدر المنتقى انهم اذا ارادوا الاخراج عنه يحسب عمره بغلبة الظن ويخرج منه مدة الصبا وهي اثنا عشر في الغلام وتسعة في الانثى ويخرج عنه بقدرها اذا كان عندهم مايكفي والا تدفع مرارا، آه. وذلك لاحتمال نقصان صلوته بترك ركن او شرط ، فان الكثير من الناس لايحسن اداءها الطحطاوي على الدر (١/٣٠٧).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حیله اسقاط کیفیت:**

زموږ د علاقو یعني د بلوچستان او افغانستان جنوبي او مغربي ولایتونه تر کوم حده چې زه علم په لرم، د حیله اسقاط مروج کیفیت او طریقه داسې ده، کوم وخت چې یوڅوک مړ سي ، نو وارثان او قریبان یې پخپل کلي کې هم اعلان وکړي ، او نورو ځایونو ته هم اطلاع ورکړل سي، چې عبد الله مثلا په حق رسیدلی دی ، پر لس بجې یې مثلا د جنازې لمونځ ادا کیږي ، او زموږ د علاقو عادت داسې دی ، چې د جنازې لمونځ له قبرستان سره یوځای د قبرستان و طرفته کوي ، اوس د کلي یوڅه ځوانان د قبر جوړېدلو ته ولاړسي ، یوڅه کسان په تکفین او غسل اخته سي او یوڅه کسان دلته په کلي کې د جنازې وړلو ته انتظار وي، او یوڅه کمزوري او سپینږیري وختي کوشش کوي ، چې قبرستان ته ځان ورسوي ؛ ځکه خو د جنازې لمونځ له قبرستان سره اداء کیږي ، او شاوخوا احباب او قریبان او عام مسلمانان چې راځي ، هغه هم هلته په قبرستان کې انتظار کیږي، و نهه بجو او یا نهه نیمو بجو ته میت قبرستان ته راوړي ، په قبرستان کې یو طرف ته د قبر کار شروع وي او بل طرف ته ډیر خلک راغلي وي، د جنازې په انتظار وي.

یو عالم ولاړ سي ، اعلان وکړي چې عبد الله په حق رسېدلی دی ، دا زموږ او ستاسي یو مسلمان ورور دی، دا پر موږ حق لري، باید هر قسم تعاون ورسره وکړو ، او په ښه اخلاص سره دا تعاون وکړو ، او عبد الله خو الحمد لله مسلمان وو ، لمونځونه یې کول ، روژې یې نیولې ، او نور فرضیات او واجبات یې اداء کول ، خو بیا هم انسان دی ، د ده پر ذمه به لمونځونه یا روژې وغیره پاته وي ، یا به یې اداء کړي وي ، او یا به یې په یو عذر قضاء کړي وي ، بیا به یې نه وي راگرزولي ، او یا به یې اداء کړي هم وي، مگر د هغه باوجود د ده ذمه به نوي فارغه سوې، یو رکن به ځیني پاته سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، او يا به يو شرط ځيني پاته سوی وي، او يا به يو بل نقص او خلل ور رسېدلی وي.

نن يې دی له اداء څخه عاجز دی ، مورږ او تاسي بايد تعاون ورسره وکړو، هغه کسان چې مستحق د صدقة الفطر او زکوة دي، هغه کښېنئ، د الله لپاره د ده د لمونځونو او روژو وغيره فديه قبلوئ ، او بيرته يې د ده وارث ته ور وبښئ ، که څوک دغه وعده نه کوي ، هغه په دائره کې مه کښېنئ. او په غنيانو نه وځي، هلکان او ليونيان په دائره کې مه پرېږدئ ، او دغه اعلان اوس په اکثرو ځايونو کې نه کيږي ؛ ځکه په سلهاوو کلونه د دغې طريقې سوي دي ، اوس د خلکو يو قسم عرف پر دې راغلی دی، چې يو وار کښېني، بيا يې له ورکولو نه انکار محال دی، د ځان لپاره يې عار او پېغور بولي، بې ننگي او بې غيرتي يې بولي، چې د ميت د تعاون په ځای کې انکاري سي، د سلهاوو کلونو د اجماع مخالفت يې بولي، د وعدې خلاف فرضي يې بولي. خلک گول دائره جوړه کړي، په گول دائره کې حکمت دا وي، چې يو قسم سهولت وي گرزونکي ته؛ ځکه گرزونکی د عالم څخه روان سي، د خلکو په ختمېدلو سره بيرته عالم ته را ورسيږي، په دغه دائره کې علماء غالبا يوه اړخ ته کښيني، د مسجد امام وارث را وغواړي، او پدغه ناستو علماء کرامو کې چې يو جيد عالم وي، او يا سپينږيری عالم وي، د سپينږيتوب لحاظ يې وکړي.

هغه ته و وايي، چې دغه د حيله اسقاط کار ته وکړه، هغه له وارث نه پوښتنه وکړي، چې عبد الله وصيت کړی وو، او که نه،؟ چې پر ما لمونځونه يا روژې پاته دي.؟

که يې وصيت کړی و، بيا عالم صاحب ورته ووايي، عبدالله په خپل مال کې وصيت کړی دی، وارث ځواب ورکړي، چې، يا، مال نلري، او يا يې لري، خو په خپل مال کې وصيت ندی کړی، او يا يې په خپل مال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصیت کړی دی. که یې په خپل مال کې وصیت کړی و، ورته ووایي، چې د دونه لمونځونو، څومره چې عبدالله یاد کړي دي، مثلا: دونه روپۍ کیږي، دا مسکینانو ته ورکړه، او یا یې په کلي کې ښځو ته ورکړه.

او که یې خپل مال نه درلود، بیا وارث ته ووایي، چې ته د خپل ځان څخه دونه روپۍ په فدیه کې ورکړه، او که یې وصیت نه و کړی؛ خو خبره خلاصه ده.

بیا عالم صاحب وارث ته ووایي، چې عبد الله مرحوم د څونه عمر دی، که وارث ته معلوم و، خو فبها والنعمة، او که نه و معلوم، بیا په دغه ناسته دائره کې سپینږیرو ته ووایي، هغه یې یقیني ور وښه یي، او یا یې په اټکل ور وښه یي، مثلا: د شپېتو کلونو دی.

بیا عالم ورته ووایي، چې مبلغ څونه دی، یعني: پدغه دسمال کې څو روپۍ دي. نه قرآن کریم ور سره ږدي، او غنم وغیره. هغه یې مقدار ور وښه یي، که هغه یو دیرش یا څلویښت زره وي، خو صحیح دی.

او که ډیري زیاتي وي، مثلا: په لکونو وي، بیا ورته ووایي، چې کمې یې کړه. او که ډیرې کمې وي، مثلا: لس یا پنځلس زره وي، بیا ورته ووایي، چې یو په نورې را واخله، که یې نه درلودلې، او یا نه وې ورسره، بیا ورته ووایي، چې د یو چا څخه قرض را واخله، په خواست او امانت یې مه را اخله. بیا عالم صاحب د عبدالله د عمر څخه دوولس کاله عمر کم کړي، د اته څلویښت کلونو عمر ته حساب ولګوي، چې څونه لمونځونه کیږي. اول: د یو کال لمونځونه حساب کړي، کال ۳٦٦ درې سوه شپاږ شپېته ورځې دی په شمسي حساب باندي، او په یوه ورځ کې شپاږ لمونځونه دي له وترو سره، ۲۱۹٦ دوه زره یو سل و شپاږ نېوي لمونځونه جوړیږي، بیا روپو ته حساب وکړي، چې څو روپۍ دي، مثلا: ۵۰۰۰ پینځوس زره روپۍ دي.

او فدیه د غنمو له حسابه نیمه کاسه ده، او نیمه کاسه احتیاطا په انګریزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيلوګانو سره دوه کېلو ده، کيلو ته فرض کړه په پينځوس روپۍ ده، يوه فديه په سل روپۍ سوه، پينځوس زره روپۍ پنځه سوه فديې سوې، دغه پينځوس زره روپۍ چې په دائره کې څلورو مسکينانو ته ورکړي، تقريبا د يوه کال د لمونځونو فديه په اداء کيږي.

اوس نو که وارث په خپله په پوهېدو، مثلا: ملا، طالب او يا دغسي خبردار شخص وي، خو فبها والنعمة، که وارث نه پرې پوهېدو، بيا عالم په دائره کې يو باخبره شخص را ولاړ کړي، او وارث ته ووايي، چې دغه کس د ځان لپاره پدغه ورکړه کې وکيل کړه، ورته ووايه، چې په هره ورکړه کې څما وکيل يئ، او په را اخيستلو کې زما رسول يئ، يعني: زما لپاره يې ځيني را اخله، دا د علماء کرامو په مينځ کې اتفاقي صورت دی.

او که يې په ورکولو کې هم خپل وکيل کړ او په اخيستلو کې هم وکيل کړ، بيا د هغو علماء کرامو په قول جائز دی، چې تبرع د اجنبي په فديه کې جائز بولي. او د هغو علماء کرامو په قول ناجائز دی، چې تبرع د اجنبي په فديه کې ناجائز بولي.

بيا عالم صاحب دغه وکيل ته ووايي: چې دغه مبلغ په فديه کې د قضايي لمونځونو که بالفرض والتقدير پر ذمه د دغه ميت پاته وي، او دی يې نن له اداء څخه عاجز دی، و دغو مسکينانو ته وکالة ورکوه، پام چې کوچني، لېوني يا يې معتو ته ورنکړئ، او په اخذ کې تلوار مه کوه، کوم وخت چې يې فقير قبض کړي، او تا ته يې په خپل اختيار ونيسي، بيا يې را اخله. د موکّل لپاره دوّار مسکين ته ووايي، دغه مبلغ د دې حاضر ميت د قضايي لمونځونو په فديه کې ما تا ته درکړی دی، مسکين ورته ووايي، چې ما قبول کړی دی، او بيرته مې در ببښلی دی، او يا دوار صرف «وهبتک» ورته ووايي، او هغه فديه و مبلغ وغيره خالي يې په ذهن کې ساتلی وي، او فقير «قبلت و هبتک» ورته ووايي، هم صحيح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالم صاحب په خپل ذهن کې د هر مسکین په قبضولو پینځه سوه فدیه کموي، تر داسې حده چې د اته څلوېښتو کلونو فدیه اداء سي، په صورت مذکوره کې چې دوه سوه لس کسان قبوله کړي، یعني: دوه سوه لس قبضه وسي، نو تقریبا د اته څلویښتو کلونو د لمونځونو فدیه اداء سوه. او که په دائره کې د عالم په فکر غنیان ناست وي، هغه په حساب کې نه شماري، یعني: د هغو په قبض باندي فدیه نه کموي، بیا له هغه وروسته دوار ته ووایي، چې دغه مبلغ ددې حاضر میت د قضایي روژو په فدیه کې که چېري پر ذمه د دغه میت پاته وي، چې نن یې دی د اداء نه عاجز دی، و مسکینانو ته ورکړه.

دوار مسکین ته ووایي، دغه مبلغ ما په فدیه کې د قضایي روژو تا ته در کړی دی، مسکین ووایي، ما قبول کړی دی، او بیرته مې در بښلی دی. په کال کې دیرش روژې دي، د اته څلوېښتو کلونو [۱۴۴۰]یو زر څلور سوه څلوېښت روژې کیږي، مذکور مبلغ چې درو مسکینانو ته ورکړي، حساب پوره کیږي.

بیا عالم صاحب دوار ته ووایي: چې مبلغ مذکور د روژو په کفاره کې ورکړه، گرزونکی و مسکین ته ووایي، دا مبلغ د دې حاضر میت د کفارو د روژو په فدیه کې ما تا ته درکړی دی، مسکین ورته ووایي، ما قبول کړی دی، او ما بیرته در بښلی دی. یا دواړه صرف وهبت او قبلت سره ووایي، که هر څو کفارې وي، د یوې کفارې فدیه کافي ده، ځکه کفارې تداخل خوري، د کفارې لپاره شپېته مسکینان ضروري دي، که په دائره کې شپېته مسکینان پوره وو؛ خو فبها والنعمة، او که نه و پوره، چې څونه باقي سي، و دغو کسانو ته دې په سبا ورځ ورکړي، دا په فقه کې افضل او راجح قول دی. او پر مرجوح قول باندي شپېته قبضه کفایت کوي، که څه هم شپېته کسان نه وي پوره، د دویم ځل لپاره دې پر وگرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د دې عالم صاحب په رهنمایي کې دوار و مسکین ته ووایي، ما دغه مبلغ په فدیه کې د کفارو د قسمونو و تا ته درکړی دی، مسکین ورته ووایي، ما قبول کړی دی، بیا یوه کفاره کفایت کوي. په کفاره د قسمونو کې د لس تنه مسکینانو قبض ضروري دی.

بیا عالم صاحب  د لس تنه خلکو پر ځای دوولس دیارلس تنه کسانو ته ورکړي، چې پدغه لس تنه کسانو کې غنیان موجود وي، او که یقینا لس تنه سره مسکینان وو، بس دغه لس کفایت کوي، مالابد ته ضرورت نسته.

بیا د عالم صاحب په رهنمایي کې دوار و مسکینانو ته په کفاره د ظهار کې مبلغ ورکړي، د هرې نکاح، یوه کفاره د ظهار ورکوي، د هرې ښځې کفارات د ظهار تداخل سره خوري، مگر د یوې ښځې او د بلې ښځې کفارات ظهار تداخل نه سره خوري، پدې کې بیا پر قول راجح باندي شپېته مسکینان ضروري دي، او پر قول مرجوح شپېته قبض کفایت هم کوي.

د هرې سجده تلاوت فدیه، د یوې روژې او یا د لمانځه فدیه ده، دغه ډول د صدقة الفطر په ځای کې، د اخترې په ځای کې، د عشر او زکوة په ځای کې، دا مبلغ ورکوي..

د عالم صاحب په رهنمایي کې دوار و مسکین ته ووایي، مبلغ د دې حاضر میت د ټولو حقوقو شرعیه وو په فدیه کې ما و تا ته درکړی دی، مسکین ووایي، ما قبول کړی دی، او ما بیرته و تا ته ښبلی دی.

پدغه دوران اسقاط کې اکثر وخت یو بل عالم تقریر کوي، د دوره اسقاط په اخیره کې د میت وارث پر موجوده کسانو په خپله خوښه د تصدق په نام تقسیم کړي، مسکین، غني، هلک، لېونی، معتو ټولو ته یې ورکوي، لدې وروسته یو عالم دعا وکړي، چې یا الله جل جلاله زمونږ دغه حیله شرعیه او خیرات په خپل دربار کې قبول کړه، پدې وخت کې د صلوة جنازې مقرر وخت پوره وي، پر دغه میدان باندي د جنازې لمونځ اداء

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، لدې وروسته که قبر تيار و، ميت ور واخلي و قبر ته، او که قبر نه و تيار، خلک صفونه مات کړي، او کښيني، د قرآن کريم يوڅه تلاوت وسي، بيا له هغه وروسته دعا وسي، له دعا وروسته ميت دفن کړي، له دفن څخه وروسته خلک کښيني.

يو عالم يا يو حافظ صاحب د قبر سر ته سورة البقرة اول آياتونه مبارکان ووايي، او د قبر پښو ته بل قاري صاحب د سورة البقرة اخيري آياتونه ووايي. له هغه وروسته حاضر ميت ته، خپلو څانونو ته، ټولې مقبرې ته، او ټول مسلمه امت ته دعا وکړي.

بيا يو عالم صاحب خلکو ته ووايي: چې دغه ميت ته تر خپلو حقوقو ور تير سي، کيداى سي، پدغه حاضر خلکو کې به يې د يو چا غيبت کړى وي، او يا به يې دغه حق په بل شيء وربانديي سوى وي. د ميت وارث اعلان وکړي، که د هر چا مالي حق پر باندي وي، و هغه ته مونږ تيار يو، که اوس نه وايي، په وروسته کې دې زمونږ سره رابطه وکړي. له قبرستان څخه چې را ووځي، هغه کسان چې له اطرافو څخه راغلي وي، د هغو په خاطر دغه خلک يو ځل کښيني، هغه د ليري ځاى ميلمانه اکثره ځي، رخصت اخلي، د ميت و وارثانو ته ووايي، چې زمونږ بس دغه ناسته د تعزيت ناسته ده، زمونږ کورونه ليري دي، الله جل جلاله دې عبد الله مرحوم ته مغفرت وکړي، و تاسو ته دې الله جل جلاله صبر جميل درکړي. هغه و دوى ته دعا وکړي، چې تاسي ډير تکليف کړى دى، او الله جل جلاله مو دغه سعي او تکليف قبول کړه، الله جل جلاله مو هر قدم د نيکۍ په تله کې واچوه. دغه دعاوې سره وکړي، او سره رخصت سي.

دلته بعض خلک د خيرات په نوم يو شيء راوړي، اکثره وخت خرما وي، په سابقه کې د هغه حکمت دا و، چې هغه کسان به ليري ځاى ته تلو، او موجوده د کلي خلک به هم وږي سوو، نو د خرما راوړل تر هر شيء هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسانه وو، او هم ښه غذا په حاصلې ده، وارثانو به دا زړه غوښتو، چې دغه خلک یو شيء وخوري، او ماړه سي، او دغه خوراک ته په فقه کې خوراک حاجت وايي، دا اتفاقا جائز دی؛ ځکه دا ضيافت ندی، تصدق دی، او تصدق مستحب دی.

او په اوس کې وخت کې يې ډير کم خلک راوړي؛ ځکه هغه حاجت رفع دی، تلونکي خلک په موټرانو کې ځي، او هم په لارې کې د خوراک شيان ډير دي، بلکې اکثره وخت د اطرافو نه راغلي خلک د کلي خلک راولي، ډوډۍ ورکړي، بيا يې رخصت کړي، دا زمونږ د علاقو مروج حيله اسقاط دی.

الحمد لله چې يو جزء د فقهي له حيله اسقاط سره مخالفت نلري، او کوم شيان چې د دغه بيان په ضمن کې ما ذکر کړو، د هغو لپاره يوڅو مختصر د فقهي عبارات ذکر کوم.

ثم كفارة واحد عما بقي عن ايمان العمر على قول محمد «رحمة الله عليه» بتداخلها كما ثقله سيدي الوالد عن المقدسي عن البغيه عن شهاب الأئمة. وقال: صاحب الأصل هو المختار عند ومثله في القهستاني عن المنيه، وهو مذهب الامام احمد بن حنبل «رحمة الله عليه» آه. منة الجليل (٢٢٤). لو اعطى من كفارة ظهار مسكينا واحدا كله في يوم واحد لا يجزيه الا عن يومه ذلك هذا في الاعطاء بدفعة واحدة او اباحة واحدة من غير خلاف ، اما اذ ملّكه بدفعات فقد قيل يجزيه، وقيل: لايجزيه الا عن يومه ذلك وهو الصحيح، كذا في التبيين، الفتاوى الهندية (١/٥٣٨).

و اما التمليك من مسكين واحد في يوم واحد بدفعات فقد قيل: لا يجزيه، و قد قيل: يجزئه؛ لأن الحاجة الى التمليك تجدد في يوم واحد بخلاف ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



إذا دفع بدفعة واحدة؛ لأن التفريق واجب بالنص الهداية في فتح القدير (٣/٢٤٤). و هكذا في مجمع الانهر (١/٤٦٢).

د فقهاء کرامو د قتل خطاء په کفاره کې اختلاف دی.
علامه الشرنبلالي رحمة الله عليه وايي: د قتل خطاء په کفاره کې تبرع د وارث صحت نلري؛ ځکه د قتل خطاء په کفاره کې لومړی د رقبې عتق دی، او وارث د رقبې اعتاق د ميت له جانبه نسي کولای؛ ځکه خو بيا الزام د ولاء پر ميت باندي راځي، بې له وصيته د ميت، او روژه د اعتاق بدل ده، د روژې فديه نه صحيح کيږي؛ ځکه هغه بدل د بدل ده، په فقه کې بدل معتبر دی، او د بدل بدل غير معتبر دی.
او کافي النسفي وايي: د قتل خطاء کفاره دې ورکړي؛ ځکه روژه د ميت په حق کې اصل دی؛ ځکه اعتاق خو له جهته د الزام د ولاء صحت نه درلود، او فديه بدل د روژې دی، په فقه کې بدل معتبر دی؛ خو احتياط دادی، چې د قتل خطا فديه هم ورکړي، منة الجليل (٢١٦).

## «الاقساط في دفع الاعتراضات علی الاسقاط»

پدې بحث کې زمونږ مقصد د هغه اعتراضاتو دفع کول دي، کوم چې بعض علماء کرامو پر حيله اسقاط کړي وي، او يا يې په حيله کې پر يو خاص عبارت کړي وي، د دې لپاره چې مسلمه امت ته حق واضح سي، زما مقصد نه پر علماء کرامو اعتراض کول دي، نه د بريلويانو د فاع کول دي، او نه هم د بريل سره کوم تعلق لرم، زما ټول استاذان ديوبندي حضرات دي، او مطلق حنفيان دي.
نظر مې دا دی، چې زمونږ لپاره حنفيت کافي دی؛ ځکه ديوبنديت او بريلويت نه مذهبونه دي، او نه يې مونږ مقلدين يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب په سر کې د ابو الليث السمرقندي عبارت ذکر سو، په هغه عبارت کې د دوو شيانو ذکر او اثبات سته.

**لومړی:** د حيله اسقاط ثبوت.

**دوهم:** په حيله اسقاط کې د قرآن کريم گرزول.

پر دغه عبارت باندي مولانا سرفراز خان صفدر رحمه الله په راه سنت کې اعتراضات کړي دي، رواية او دراية يې رد کړی دی، او مفتي ممتاز صاحب په دغو اعتراضاتو ډېر ناز کړی دی، او په دغه ناز ډېر خلک دوکه کيږي، لهذا مونږ د مولانا سرفراز خان صاحب تحقيق ته ځواب وايو، پدې ځواب ويلو کې مونږ خپل ځان پر مولانا سرفراز رحمه الله لوړ نه گڼو، او نه کيدلای سو؛ مگر هر شخص د مذهب په دائره کې د تحقيق حق لري.

**لومړی ځواب:** د مولانا صفدر صاحب تحقيق ته ځواب وايو، چې د ابي الليث السمرقندي رحمه الله په عبارت کې د دوو شيانو اثبات موجود دی. يو حيله اسقاط او بل په حيله اسقاط کې قرآن کريم گرزول. پدغو دواړو خبرو تا په خپل کتاب «راه سنت» کې اقرار کړی دی.

**دوهم ځواب:** تا ويلي دي، چې په اتفاق د علماء کرامو حيله اسقاط ثابت ده. او هم دې تا په احوالو سره ثابته کړې ده: چې قرآن کريم په فديه کې مال دی، د هر قسم مال ورکول جائز دی، پدې شرط مال چې څونه وي، په هغومره يې شمار کړې، بيا د ابو الليث السمرقندي د عباراتو رد کول څه فائده لرئ.؟

هلته به يې رد مفيد وای، چې د ده قول د مذهب سره يا ستا د نظر سره ټکر وای؛ مگر صرف فائده يې دا ده، چې پدغه عبارت سره بريلوي حضراتو دليل نيولی دی، او تا رد کړی دی.

مسلمه امت دې بايد پدې پوه سي، چې مولانا صفدر صاحب چې د کوم اساقط رد کوي، هغه رد يې پر ځای دی، مگر په هغه اسقاط هيڅوک قائل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي، لکه څنګه چې مونږ مخته د خپل اسقاط کيفيت ذکر وکړ.

**درېيم ځواب:** مولانا سرفراز صفدر صاحب ويلي دي، چې ابو الليث السمرقندي که څه هم ډېر لوړ فقيه دی، مګر په فن روايت او حديث کې خو به محدثينو حضراتو ته رجوع کولی شي، لهذا د ده دغه استدلال د محدثينو له نظره صحيح ندی؛ ځکه پدغه سند کې مجهول کسان سته.

**مونږ ورته وايو**: ابو الليث السمرقندي چې ستا په خپله وينا ډېر ستر فقيه دی: خو حال دا، چې انسان تر هغه وخت پوري فقيه کيدلای نشي، چې محدث نه وي. د فقيه او محدث تر منځ عموم او خصوص مطلق دی، فقيه اخص مطلق دی، او محدث اعم مطلق دی، هر فقيه به محدث وي، او هر محدث لازم ندی چې فقيه وي، د فقيه او محدث کلام چې سره ټکر سي، ترجيح فقيه ته ورکول کيږي.

بله خبره دا چې، د ابي الليث السمرقندي په شان کې دا ثابته ده، لکه څنګه چې په فقه کې امام ؤ، دغه ډول حافظ په احاديثو مبارکانو کې هم ؤ، لهذا ابي الليث السمرقندي «رحمة الله عليه» چې کوم سند قبول کړی دی، مونږ يې بايد قبول کړو. کوم شيء چې مونږ په سند کې وينو، د محدثينو په نظر هغه شيء [100]سل چنده وي.

بل د ده دغه سند او عبارت نورو جيدو فقهاء کرامو قبول کړی دی، امام غزالي رحمةالله عليه په کتاب الدرر کې نقل کړی دی، د امام غزالي نقل د تائيد لپاره کافي او شافي دی.

لما صنف الامام الرباني محمد بن حسن الشيباني كتاب الحيل في كل انكر عليه علماء البغداد، بلغوا تلك القصة الى خليفة البغداد، فقال الخليفة: ارسل الى ذلك فان كان موافق للاصول فبها، والافنخرقه، فقال: ان العلماء احسادوا وانكراو حسدا، فجاء الامام بذلك الكتاب الى

(c) ketabton.com: The Digital Library



الخليفة فنظر فيه فتعجب فطلب العلماء، وقال: انظروا فيه بدقت النظر من غير حسد، فلما رأوه، قالوا: فقد احسن محمد ضاعف الله اجره الى الابد، ثم سئل الخليفة عن الامام من أي اصل اخرجت تلك المسائل.؟ قال: اخرجت من قصة ايوب و يوسف و سنة حيلة الرباء والحد. فقال الخليفة: للعلماء من انكر الحيلة فقد انكر القرآن والحديث و اجماع العلماء، فالتقرير واجب عليه، فلما ورقة وقع النظر على حيلة الاسقاط، فقال الامام: اسهل طريقته ان يبيع الوارث على الفقير مصحفا قابل القرأة ثم يهب الفقير للوارث، ثم، فثم، حتى يتم لعل الله يجعل فدية الصوم والصلوة والزكوة و غيرها، فقال العلماء: قلت قولا حسنا بارك الله في عمرك، فاكتب في كتابك، فكتب الامام تلك الحيلة في كتابه، فشاع في زمان الخليفة. الدرر للامام الغزالي. قال: الشارح السمرقندي حدثنا عباس بن سفيان عن ابن عتبة عن ابن عوف عن محمد عن عبدالله، آه.

پدې عبارتونو کې درې شیان ثابت سوي دي.
يو حيله اسقاط د امام محمد رحمه الله څخه، بل د قرآن کريم گرزول په حيله اسقاط کې، او بل د امام غزالي رحمه الله له ابو الليث السمرقندي رحمه الله نه د سند نقل کول. مونږ ته ددې سند د رد کولو هيڅ گټه او فائده نسته.

فان مثل هؤلاء الأئمة الثقات الاعلام الناصرين للاسلام حاشاهم ان ينقلوا الينا شيئا من غير تثبت ولا رؤية، فانهم أَمَنَاء الشريعة الطاهرة النقية، آه. منة الجليل (١/٢١٠).

(الفقهاء هم أعلم بمعاني الحديث) سنن الترمذي ابواب الجنائز، كان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حديث الفقهاء أحب اليهم من حديث الشيخة (كتاب الجرح والتعديل) تحفة المناظر (٦٢).

وقال: العلامة الخفاجي السمرقندي «رحمة الله عليه» هذا هوا الامام الجليل المعروف بامام الهدى الفقيه الحنفي.

او علامه عبد اللكهنوي رحمه الله وايي: نصر بن محمد بن احمد بن ابراهيم ابو الليث الفقيه السمرقندي المشهور بامام الهدى، اخذ عن ابي جعفر الهندواني، عن ابي القاسم الصّفار، عن نصير بن يحيي، عن محمد بن سماعة، عن ابي يوسف وله تفسير القرآن والنوازل والعيون والفتاوى و خزانة، الفقه و بستان العارفين و شرح جامع الصغير و تنبيه الغافلين و غير ذلك، فوائد البهية (٢٨٧).

**څلورم ځواب:** مولانا سرفراز خان صفدر صاحب وايي: چې امام محمد رحمه الله كتاب الحيل نلري، دا د ده په حق كې صرف افتراء ده، بلكې يو چا له ځانه پسې جوړه كړې ده.

**مونږ ورته وايو:** داسې نده، كتاب الحيل د امام محمد رحمه الله كتاب دى. شيخ الاسلام شمس الائمة السرخسي رحمه الله په كتاب المبسوط كې چې امام محمد رحمه الله د ظاهر الروايه كتابونو شرحه ده، په هغه كې داسې ليكلي دي:

و اما ابو حفص رحمه الله كان يقول هو من تصنيف محمد رحمه الله، وكان يروى عنه ذلك، و هو الاصح، فان الحيل في الاحكام المخرجة عن الامام جائزة عند جمهور العلماء، وانما كره ذلك بعض المتعسفين لجهلهم و قلة تأملهم في الكتاب والسنة والدليل على جوازه من الكتاب قوله تعالى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وخذ بيدك ضعثا فاضرب به ولا تحنث﴾ الآية، آه. المبسوط السرخسي - كتاب الحيل (۳۰/۲۲۹).

شمس الائمه سرخسي رحمه الله وايي: چې ابو حفص رحمه الله به ويل: كتاب الحيل د امام محمد رحمه الله له تصانيفو څخه دی، او دغه نقل به يې له امام محمد رحمه الله څخه کوی، او دا ډيره صحيح خبره ده، ځکه دغه حيلې په احکامو کې، چې له امام محمد رحمه الله نقل دی، په نزد د اکثرو علماء کرامو جائز دي، او يوڅو متعسفين يې مکروه بولي، هغه هم د دوی د ناپوهي او د نه فکر کولو نتيجه ده، او حيله په قران ثابته ده. په وروسته کې وايي: دغه ډول په احاديثو مبارکانو ثابته ده، آه.

او مولانا سرفراز خان صفدر صاحب بريلوي حضراتو ته غصه دی، لهذا دغسې ظاهر عبارت او د جمهورو علماء کرامو طرف نه ويني، او مونږ نه بريلويان يو، او نه هم هغه قسم اسقاط کوو، کوم چې ده رد وربانديې کړی دی، او زمونږ د حيله اسقاط سره ټکر او تضادنه لري، ان شاء الله.

اقسوس صد افسوس په بر صغير کې احناف په څو ډلو جماعته تقسيم سو.

بريلويان: هغه بيا په خپلو کې قادريان، نورانيان، عطاريان، او دعوة اسلامي.

ديوبنديان: بيا په خپل منځ کې عثمانيان، مدنيان، پنجپيريان، او سيفيان، د دغو نسبتونو په کشېرانو کې ډير داسې خلک سته، چې و دغه نسبت ته د مذهب په نظر گوري. او دغه تفرقه تر ټولو ستره فتنه ده.

الحمد لله ثم الحمد لله!

يو افغانان دي، چې تر اوسه پر حنفيت قائم پاته دي، بل نوم ندی پر ولاړ سوی، او الله تعالى دې تر قيامته پر دغه حنفيت اتحاد او اتفاق ور نصيب کړي.

**پينځم ځواب:** مولانا سرفراز خان صفدر صاحب وايي: چې په دوهم سند کې محمد بن عمر واقدي رض موجود دی، هغه قابل اعتبار ندی، امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخاري، ابن مبارک، ابن نمير، اسماعيل بن زكريا رحمهم الله تعالى اجمعين و ده ته متروک الحديث ويلى دى، امام معين رحمة الله عليه ورته ضعيف او ليس بشيء ويلي دي.

مونږ شپاړ ځوابونه ورته وايو:

لومړی: واقدي رحمه الله زمونږ جيدو فقهي احنافو معتبر بللى دى، د مقلد لپاره دا شافي او كافي دى.

شيخ الاحناف محقق المحقيقين امام الفقهاء امام ابن الهمام «رحمة الله عليه» د واقدي رحمه الله په شان کي وايي:

قال: كانت بير بضاعة طريقا للماء الى البساتين و هذا تقوم به الحجة عندنا، اذا وثقنا الواقدي، اما عند المخالف فلا لتضعيفه اياه، فتح القدير – باب الماء الذي يجوز به الوضوء (١/٦٩).

او حضرت علامه ابراهيم حلبي رحمه الله وايي:

والصحيح في الواقدي التوثيق، آه. حلبي كبيري – فصل في احكام الحياض (٩٣).

او ابن نجيم المصري رحمه الله وايي:

ما ذكره الطحاوي عن الواقدي اثبات وما نقل ابو داود عن البستاني، نفي والاثبات مقدم على النفي، آه. كتاب الطهارة - بحر الرائق (١/١٤٥).

قال البيقي: الواقدي لايحتاج بما يسنده فضلا عما يرسله، قلنا: قد أثنى عليه الدراوردي، و ابو بكر بن العربي و ابن الجوزي و جماعة. بحر الرائق (١/١٤٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او علامه محمد يوسف رحمة الله عليه وايي:

الواقدي، وان اختلف المحدثون في جرحه و تعديله لكنه رأس في المغازي والسير والاخبار والحوادث الكائنة في وقت النبي صلى الله عليه وسلم و بعد وفاته و هو من أهل المدينة، فلا شك انه اعلم بحالها، آه. اماني الاحبار و شرح معاني الاثار.

او علامه شاه محمد انور شاه الكشميري رحمه الله د واقدي په شان کي وايي: فائدة مهمة واعلم انهم تكلموا في الواقدي وامره عندي أنه حاطب ليل يجمع بين رجل وخيل فأتي بكل رطب ويابس صحيح وسقيم، وليس بكذب وهم متقدم عن أحمد وأكبر منه سنا ، ولكنه رضاعه فقد أن الرفقة ، وقلة ناصريه فتكلم فيه من شاء ، وأما الدار قطني فانه وان أتى بكل نحو من الحديث لكنه شافعي المذهب فكثرت حماته فاشتهر اشتهار الشمس في رابعة النهار ، وبقي الواقدي مجروحا لايذب عنه أحد ، فذلك عندي من أمر الواقدي أما جمعه بين الضعاف والصحاح فذلك أمر لم ينفرد به ، بل فعله آخرون أيضا الخ ، فيض الباري شرح البخاري ( ١٢٤ / ٤ . )

علامه محمد انور شاه کشميري رحمه الله وايي :

په واقدي رحمه الله کې خلک خبري کوي،؛ خو زما په خيال واقدي رحمه الله که څه هم صحيح او ضعيف احاديث نقل کوي ؛ مگر دروا‌غجن ندی، او دی تر امام احمد رحمه الله مقدم دی، او هم پر مشر دی؛ مگر ملگري او مددگاران يې نسته، نو ځکه د هر چا چې زړه وغواړي، هغه يو څه په کې وايي. او امام دار قطني رحمه الله هم صحيح او هم ضعيف حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقل كوي ، مگر شافعي مذهبه دی، ساتونكي يې ډير دي ؛ ځكه په نړۍ كې لكه لمر داسې مشهور سو، او واقدي رحمه الله مجروح سو، هيڅ څوک دفاع نه ځيني كوي.

زما د واقدي رحمه الله په هكله دا نظر دی، چې صحيح او ضعيف حديث جمع كول خو صرف واقدي نه كوي، نور يې هم كوي.

شاه صاحب رحمه الله هم دا گيله كوي ، چې حنفيان يو د بل دفاع نه كوي، بلكې يو پر بل تور داغ سره لگوي .

دوهم : واقدي رحمه الله فقهاء كرامو معتمد بللی دی ، محدثين حضرات كه يې معتمد نه بولي، پدې غير معتبر نه بلل كيږي ؛ ځكه مخته ذكر سو، چې د فقهي او محدث كلام چې سره ټكر سي، تر جيح فقيه ته وركول كيږي. تحفة المناظر - لمولانا منظور احمد مينگل (ص٦٢.)

دريیم : ډير محدثين واقدي رحمه الله معتمد بولي، لكه ابراهيم حربي، ابو يحيى ازهري ، يزيد بن هارون ، ابو عبيد القاسم بن سلام ، مصعب زبيري ، ابوبكر صفاني ، ابوبكر ابن العربي ، حافظ ابن الجوزي ، علامه دراوردي ، مجاهد بن موسى ، عباس عنبري ، محدث ذهلي ، ابوبكر بن شيبه.

څلورم: نه د هرچا جرحه معتبره ده، او نه هره جرحه معتبره ده.

مولانا سرفراز خان رحمه الله چې په كوم چا واقدي رحمه الله مجروح بولي، د هغو په شان كې د مولانا عبد الحي اللكهنوي رحمه الله خبره واورئ!

ومنها أن يكون الجارح من المتعنتين المشددين ؛ فان هناك جمعا من أئمة الجرح والتعديل لهم تشدد في هذا الباب ، فيجرحون الراوي بأدنى جرح،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويطلقون عليهم مالاينبغي اطلاقه عند أولي الباب ، فمثل هذا الجارح توثيقه معتبر ، وجرحه لايعتبر ، اذا وفقه غيره ممن ينصف، فمنهم: أبوحاتم، والنسائي ، وابن معين ، وابن القطان ، ويحيي القطان ، وابن حبان، وغيرهم، فانهم معروفون باالجرح والتعنة فيه ، فليست العاقل في الرواة اللذين تفردوا بجرحه واليتفكر فيه. الرفع والتكميل في الجرح والتعديل (ص ١٨).

مولانا عبد الحي اللكهنوي رحمه الله وايي:

ډير داسې كسان سته، چې په جرحه كې تعنت او تشدد كوي، اسراف او تجاوز كوي، په ډير معمولي شيء باندي راوي مجروح كوي، د داسې خلكو توثيق معتبر دی، مگر جرحه يې نده معتبره، چې ترڅو دغه راوي يو بل انصاف داره شخص نوي مجروح كړی، د هغو له جملې دغه مذكور اشخاص دي.

ايقاظا لا تغتر بقول ابي حاتم في كثير من الرواة على ما يجده من يطالع الميزان، و غيره، آه.

ايقاظا كثيرا ما تجد في ميزان الاعتدال وغيره في حق الراوة نقلا عن يحي بن معين انه ليس بشيء، فلا تغتر به ولا تظنن انه ذلك الراوي مجراو بجرح قوي، فقد قال: الحافظ ابن حجر في فتح الباري في ترجمة عبد العزيز بن المختار البصري، ذكر ابن القطان الفاسي ان مراد بن معين من قوله ليس بشيء، يعنيّ احاديثه قليلة ، انتهى. وقال: السخاوي في فتح المغيث قال: ابن القطان ان ابن معين اذا قال: في الراوي ليس بشيء انما يريد انه لم يرو حديثا كثيرا، الرفع والتكميل (١٥-١٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولانا عبد الحي اللکهنوي رحمة الله علیه وایي:
که څوک میزان اعتدال مطالعه کوي، د ډیرو راویانو په شان کښې دې د ابي حاتم په قول نه دوکه کیږي، او دغه ډول په میزان اعتدال وغیره کښې دې د یحیی ابن معین په قول نه دوکه کیږي، چې ووایي: فلان راوي «لیس بشيء» یعني: دغه لیس بشيء د ده جرحه نده مقصد، بلکې دی وایي: چې دغه راوي دونه حدیث ندي نقل کړي. معنا دا، چې لږ حدیث یې نقل کړي دي.

ایقاظ قد کثر علماء عصرنا من نقل جروح الرواة من میزان الاعتدال مع عدم اطلاعهم علی انه ملخص من کامل ابن عدي و عدم وقوفهم علی شرطهما فیه في ذکر احوال الرجال فوقعوا به في الزلل و اوقعوا الناس في الجدل، فان کثیرا ممن ذکر فیه الفاظ الجرح معدود في الثقات سالم من الجرح فلیبتصر العاقل ولیتنبه الغافل ولیجتنب عن المبادرة الی جرح الرواة بجرد وجود الفاظ الجرح في حقه في المیزان، فانه خسران أي خسران. الرفع والتکمیل (۲۱).

مولانا عبد الحي اللکهنوي رحمة الله علیه وایي:
خبردار! زمونږ د زمانې ډیرو علماء کرامو له میزان الاعتدال په راویانو جرح نقل کړي دي، او پدې ناخبره دي، چې میزان الاعتدال له کامل بن عدي څخه را خلاصه سوی دی، او دغه علماء کرام د کامل او میزان اعتدال په شرائطو د خلکو د احوالو په اړه علم هم نلري، لدې وجې دغه علماء پکې وختل او ونښویدل، او خلک یې په جنگ کې سره واچول؛ ځکه ډیر داسې کسان په میزان الاعتدال کې مذکور دي، چې جرحه ورباندې سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هغه ثقه او له جرحې سالم خلک وي.
لهذا عاقلان دې د غفلت له خوبه را بیداره سي، د راویانو په جرحه کې دې تلوار نه کوي، چې خالي په میزان الاعتدال کې ووینې، ځکه دا د عدل ترازو ندی؛ بلکې د خسران او تاوان ترازو دی.
نوموړی علامه رحمه الله د الله جل جلاله دغه قول ته اشاره کوي، ﴿وأقیموا الوزن بالقسط ولا تخسروا المیزان﴾.
یعني: میزان الاعتدال په خپله غیر معتمد دی، بیا ته په ده باندې څنګه بل څوک غیر معتمد ثابتوئ.؟
او شیخ الاسلام تاج الدین سبکي رحمة الله علیه وایي:
الحذر کل الحذر ان تفهم ان قاعدتهم ان الجرح مقدم علی التعدیل علی اطلاقها ولو اطلقنا تقدیم الجرح لما سلم لنا احد من الائمة اذ ما من امام الا وقد طعن فیه طاعنون ، و هلك فیه هالکون، مقدمه تعلیق الممجد علی موطاء امام محمد (۳۱).
و بعض الجروح صدر من المتاخرین المتعصبین کالدار قطني وابن عدي و غیرهما، و منهم من عادته في تصانیفه کابن عدي کامل والذهبي في میزانه انه یذکر کل ما قیل في الرجل من دون الفصل بین المقبول والمهمل، فایاك ، ثم ایاك ان تجرح احدا بجرد قولهم من دون تنقیده باقوال غیرهم کما ذکرت کل ذلك في السعي المشکور في رد المذهب الماثور مقدمه تعلیق الممجد (۳۳).
او علامه تاج الدین سبکي رحمة الله علیه وایي:
وډاریږئ، او مکمل ځان وساتئ لدې خبر، چې د علماء کرامو دا قاعده ده، چې جرح مقدمه ده، پر تعدیل مطلق؛ ځکه که جرحه مقدمه سي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعدیل باندي، یو امام به سالم نسي را پاته؛ ځکه داسې امام نسته، چې پر هغه دې یو طعن ویونکی طعن نوي ویلی، بلکې د عادل او منصف جرحه مقدمه ده پر تعدیل. او د متعصب او متجاوز جرحه نده مقدمه پر تعدیل باندي؛ ځکه بعضي جرحې له متعصبینو متأخرینو صادري وي، لکه دار قطني او ابن عدي و غیرهما، له دوی څخه د بعضو عادات په خپلو تصانیفو کې دا دی، لکه ابن عدي په کامل کې، او ذهبي په میزان الاعتدال کې، چې یو چا د یوه شخص په حق کې څه را نقل کړي وي، دوی یې را نقل کوي، و دېته نه گوري، چې دغه جرحه مقبوله ده، او که مردوده ده. لهذا ځان وساتئ او مکمل یې وساتئ لدې خبر، چې پر یو چا باندي د دوی په قول جرحه و نکړئ، تر هغه وخته پورې چې د دوی پر قول بل چا جرح نوي کړې، او دا ټول ما السعي المشکور في رد مذهب الماثور کې ذکر کړي دي.

تاج الدین سبکي رحمة الله علیه وایي:

ومنها انه قد جرحه سفیان الثوري، والدار قطني، والخطیب، والذهبي، و غیرهم من المحدثین، وهذا قول صدر عن الغافلین فان مطلق الجرح ان کان عیبا یترك به المجروح فلیترك البخاري، و مسلم، والشافعي، و احمد، و مالك، و محمد بن اسحاق صاحب المغازي، «رحمهم الله» و غیرهم من أجلة اصحاب المعاني، فان کلا منهم مجروح و مقدوح، مقدمه تعلیق الممجد علی موطاء امام محمد «رحمه الله».

علامه سبکي رحمه الله وایي:

دا د غافلانو خلکو قول دی، چې مطلق جرحه پر تعدیل مقدمه ده؛ ځکه سفیان ثوري، دار قطني، خطیب بغدادي، ذهبي، او داسې نورو محدثینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابو حنیفه «رحمة الله علیه» هم مجروح کړی دی، که مطلق جرحه عیب سي، او مجروح وربانديي متروک سي، نو امام بخاري، مسلم، شافعي، احمد، مالك، محمد بن اسحاق صاحب المغازي، «رحمهم الله» او داسې نور مخور او معظم اشخاص به متروک او غیر معتبر سي؛ ځکه پر دغو ټولو جرحه سوې ده.

لهذا مولانا سرفراز خان صفدر صاحب!

نه هره جرحه معتبره ده، او نه هم د هر چا جرحه معتبره ده.

پینځم: د علامه واقدي رحمه الله په کلام کې د دوو شیانو اثبات دی، یو په قرآن کریم باندي توسل کول، او بل قرآن کریم په فدیه کې ورکول. توسل په قران مجید سره په قرآن کریم او حدیث نبوي باندي ثابت دی، رسول الله «صلی الله علیه وسلم» ویلي دي، «اللّٰهُمَّ ارحمني بالقرآن العظیم» او دغه رنگه قرآن کریم په اعتبار د کاغذ، د جوړ او د چاپ سره مال متقوم دی، خرید او فروخت یې جائز دی، د هر مال متقوم په اعتبار د خپل قیمت سره په فدیه کې ورکول جائز دی.

لهذا د واقدي رحمه الله دواړې خبرې د شریعت سره موافق دي، نو بیا د ده کلام رد کول څه فائده لرئ.؟

هماغه فائده یې باید د مولانا سرفراز خان صفدر رحمه الله د دغه قول منونکي بیان کړي.

شپږم: مولانا سرفراز خان صفدر صاحب او د ده د قول منونکو ته وایو، چې مونږ حیله اسقاط د واقدي رحمه الله په قول نه ثابته وو، حیله اسقاط د فقهاء کرامو په قول ثابت ده، د واقدي رحمه الله کلام په تائید کې ذکر کوو، واقدي رحمه الله که بالفرض ضعیف في الحدیث سي، لکه بعض محدثین چې وایي؛ خو قوي في التاریخ دی، لکه څنگه چې د معاني الآثار په شرحه اماني الاخبار کي ذکر دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الواقدي وان اختلف المحدثون في جرحه و تعديله؛ لكنه رأس في المغازي والسير والاخبار والحوادث الكائنة في وقت النبي «صلى الله عليه وسلم» و بعد وفاته وهو من اهل المدينة فلا شك انه اعلم بحالها، آه.

او علامه محمد انور شاه كشميري رحمه الله له امام مسلم څخه نقل کوي، وايي: محدثين چې په يوه حديث کې من حيث التصحيح والإعلال اختلاف وکړي، زما په فکر احتياط دا دی، چې عمل په وسي.

قلت اخرجه مسلم وأئمة الحديث اذا اختلفوا في التصحيح والإعلال، فالإحتياط عندي في الاعمال، آه.فيض الباري شرح البخاري (٤/٩١).

اووم: د مولانا سرفراز خان صفدر صاحب د قول پر منونکو، لکه مفتي ممتاز صاحب يو اعتراض کوو، هغه دا دی: د احاديثو په اصطلاحاتو کې دا قاعده ده، چې د دوو حديثو مبارکانو ضد او ټکر سره راسي، اول به د دوی په منځ کې تطبيق کوئ، که تطبيق ممکن نه وو، بيا به يوه ته ترجيح ورکوئ، او که ترجيح ممکنه نه وه، بيا به سکوت کوئ، د ترجيح په صورت کې چې يو راجح سي، په يوه وجه د ترجيح باندي به په هغه عمل کوئ، او مرجوح به متروک العمل گرزوئ.

اوس پوښتنه دا ده، چې واقدي رحمه الله خو ويلي دي، چې حضرت عمر «رضي الله عنه» په دوره اسقاط کې قرآن کريم گرزولی دی، او واقدي صاحب ضعيف دی، هغه قوي راوي څوک دئ، چې ويلي وي، چې حضرت عمر رضي الله عنه له دغه عمل نهي او انکار کاوه، او يا يې نهي او انکار نکړي ذکر، خو د ده «رضي الله عنه» پر نه کولو تواتر نقل کړی وي، چې له حضرت عمر «رضي الله عنه» يې نه کول په تواتر ثابت دی، مونږ به ټول د هغه قوي راوي په قول عمل وکړو، او د ضعيف راوي قول به

(c) ketabton.com: The Digital Library



متروک العمل وګرزوه.

**شپږم ځواب:** مولانا سرفراز خان صفدر صاحب وايي: چې د واقدي رحمه الله په سند کې ابن جريح دی، ابن جريح که څه هم ثقه وو، مګر د خواهش د تکميل لپاره د حيلې قائل و، چنانچه هغه د ۹۹نهه نيوي ښځو سره نکاح متعه کړې وه. مونږ هغه ځوابونه ورکوو، کوم چې مو د واقدي رحمه الله په دفاع کې ورکړل، چې نه هره جرحه معتبره ده، ته دې و جرحې ته نظر وکړه. او نه د هر چا جرحه معتبره ده، او نه د ده کلام د شرعي سره ټکر دی، چې رد يې کړو. او نه مونږ په ده د حيله اسقاط اثبات کوو، د فقهاء کرامو تائيد په کوو، او نه په مقابل کې قوي راوي لرئ، چې د هغه په قول عمل وکړو، او که وي، تاسي يې پيش کړئ.

**اووم ځواب:** مولانا سرفراز خان صفدر وايي: د ابو الليث السمرقندي په سند کې عباس ابن سفيان و غيره مجهول دي، په کتب الرجال کې مونږ ندی پيدا کړی، او بل ابن علية په ۱۹۳/۴يوسل و درې يا څلور نيوي کې وفات سوی دی، او ابو الليث السمرقندي په ۳۷۳درې سوه درې اويا کې وفات سوی دی، په منځ کې يوه واسطه لري، او عمر يې په منځ کې ۱۷۹يوسل و نهه اويا کاله دی، دا کيدای نسي، يو عجيبه بې فائدې اعتراضات کوي.

**مونږ ورته وايو:**

اول: خو هماغه مخکيني ځوابات د دې سوالو لپاره کفايت کوي.

دويم: تاسي په کتب الرجال کې ندی پيدا کړی، آيا دغه عدم وجدان مستلزم عدم وجود لره دئ، او يا عدم ذکر مستلزم عدم وجود لره دئ، چې تاسي نکړ پيدا، لدې خو دا نده لازمه، چې موجود نه دئ، او يا د رجالو په کتابونو کې ندی ذکر، نو نسته. موجود دې وي، تاسي دې نه يې پيدا کړئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود وي، خو په اسماء الرجال کې دې نه يې ذکر.

په بل تعبير، په نفي د رؤيت نفي د روايت نه راځي، په بل تعبير، په نه ديد د کابل، نفي د کابل نه راځئ.

درېيم: يوځل خو دا معلومه کړه، چې دغه راوي ابن علية دى او که ابن عتبة دى، او بل چا ويل، چې يوسل او نهه اويا کاله طويله زمانه په يوه واسطه د دې متحمله نده، عقل يې نه مني؛ بلکې بلکل متحمله ده، مثلا: ابن عليه و عباس ابن سفيان «رض» ته په ۱۹۲يو سل و دوه نيوي سنه کې دغه حديث ور اورولى دى، او عباس ابن سفيان و ابو الليث السمرقندي ته په ۲۸۲دوه سوه دوه اتيا کې ور اورولى دى، ته يې فرض کړه، چې عباس ابن سفيان د اورېدلو په وخت کې د دوولس کالو وو، او ابو الليث السمرقندي هم د اورېدلو په وخت کې د دوولس کالو وو، پدې کې څه مشکل سته.؟

عباس ابن سفيان په وخت د تعلم کې د دوولس کالو دى، او په وخت د تعليم کې د ۱۰۲يوسل دوه کلونو دى.

او ابو الليث سمرقندي په وخت د اخذ او تعلم کې د دوولس کلونو دى، يعني: په ۲۸۲دوه سوه دوه اتيا کې، او وفات يې په ۳۷۳درې سوه درې اويا کې سوى ده، ټوټل عمر يې ۱۰۳يوسل و درې کاله کيږي، سل کاله عمر په اوس وخت کې بعيد نه دى، په هر کلي کې سل کلن خلک سته، او د پخوانيو خلکو عمر غالبا د دې زمانې تر خلکو زيات وو.

**اتم ځواب:** مولانا سرفراز خان صاحب وايي: چې پدغه سند کې دې اوجد دوران القران له الفاظو صراحتا د دغه سند جعلي توب معلوميږي، که څه هم دغه نقطه بل چا ذکر کړې ده، خو خير په دغو الفاظو سند غير معتبر او جعلي نه گرځي، پدې ځاى کې تر امر او حکم اوجد لائق دى؛ ځکه خو په سند کې وايي: چې ددې طريقې ابدا او ايجاد حضرت عمر «رضي الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنه» کړی دی، یعني: مخکې معدومه وه، نوموړي مبارک موجوده کړه، او دوران او تدویر دواړه ویل کیږي، دواړه مصدرونه دي، صرف یو لازمي دی، او بل متعدي دی، د لازمي په صورت کې نسبت مجازي دی، که داسې حق سي، لکه مولانا صاحب چې وایي، باید په ټول شریعت کې نسبت مجازي ختم سي، او دا کیدای نسي، د عقل او د نقل خلاف خبره ده. او داسې نور بې فائدې سوالانه یې هم کړي دي، د هغو ځوابونه د آئنده سوالونو په ځوابونو کې خپله کیږي، مستقل ځوابول نه غواړي.

**بعض علماء کرام دا سوال کوي:** چې حیله اسقاط په خیر القرون کې نه و موجود، نو بدعت دی، او هر بدعت ضلالت او گمراهي ده، لدې سوال نه درې خبرې معلومیږي.

اوله خبره: حیله اسقاط په خیر القرون کې وجود نلري.

دوهمه خبره: هر شيء چې په خیر القرون کې وجود نلري، هغه بدعت دی.

دریمه خبره: هر بدعت ضلالت او گمراهي ده.

دغه درې سره خبرې علی الاطلاق باطلې او غلطې دي.

**اوله:** ځکه خیر القرون د صحابه کرامو زمانې او د تابعینو زمانې او تبع تابعینو زمانې ته ویل کیږي، او یا خو د صحابه کرامو، تابعینو او تبع تابعینو ته ویل کیږي. او مخکې ذکر سو، چې حیله اسقاط په حواله یې نسبت و رسول الله «صلی الله علیه وسلم» ته سوی دی، او بله حواله یې نسبت و حضرت عمر «رضي الله عنه» ته سوی دی، او د دفقهاء کرامو په اتفاق یې نسبت و امام محمد رحمه الله ته سوی دی. او امام محمد رحمه الله تبع تابعي دی.

**دویمه:** هر هغه شيء چې په خیر القرون کې وجود نلري، هغه بدعت دی، دا خبره علی الاطلاق غلطه ده؛ ځکه ډېر داسې شیان سته، چې په خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



القرون کې موجود وو، د هغه باوجود بدعت وو، مثلا: داسې شيء چې په هغه نه صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعين راضي وي، او نه تابعين رحمهم الله اجمعين راضي وي، او نه تبع تابعين راضي وي، مگر خلک يې کوي، او دين يې هم بولي، لکه د مسيلمة الکذاب د نبوة دعوه، او يا د خواجو او روافضو ايجاد، او يا د حضرت عثمان رضي الله عنه په شهادت رسول، او يا نور جهلي رسومات اداء کول، او ډير داسې شيان سته، چې په خير القرون کې نه يې موجود؛ خو علماء کرامو ايجاد کړي وي، او هغه مذموم او سيئه بدعت نه وي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي، «من سن سنة حسنة، آه» د لفظ د «من» اطلاق عام دی، تر قيامته يې پر هر چا اطلاق کول کيږي، بلکې تحقيق دا دی، چې بدعت دوه قسمه دی. سيئه او حسنه. په بل تعبير لغوي او اصطلاحي. يو جائز دی او بل ناجائز دی.

**درېيمه:** هر بدعت ضلالت او گمراهي ده، دا هم علی الاطلاق باطله جمله ده، بلکې هر بدعت سيئه ضلالت او گمراهي ده، دا عام مخصوص البعض دی، او يا په «کل بدعة» کې لفظ د «کل» په معنا د کثير دی، يعني: اکثر مذموم دي او بعض ممدوح او محمود دي.

مشکل پدې ځای کې دی، چې بدعت حسنه و څه ته وايي، او سيئه و څه ته وايي، پدې کې ډيرو علماء کرامو تحقيق کړی دی، په مختلفو عبارتونو يې د دوی تعريفونه کړي دي، مگر د هغه باوجود په موجوده عصر کې ډيرو علماء کرامو يو او پر بل باندې د بدعت مهرونه سره وهي.

يو شيء وي، يو يې مستحب بولي، او بل يې بدعت بولي ، يو يې بدعت حسنه بولي، وايي: مستحب او بدعت حسنه سره جمع کيږي، او بل يې سيئه بولي.

لهذا د دواړو اړخونو تحقيقونه ما په سړو مغزو په رمضان مبارک کې بې د تعصب او کجروي ښخه مطالعه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو تحقیقاتو خلاصه په مختصر انداز پیش کوم، له الله تعالی څخه امید لرم چې هر څوک یې د انصاف په سترګو وګوري، اختلاف او عناد له جانب مقابل سره ختم سي، او د کشیرانو د پوه کولو لپاره یو تمهید او مقدمه وایم.

**تحقیق عجیب و مفید په بدعت کې:**

محترمو! په نړۍ کې دوه قسمه شیان او امور دي، یو امور دینیه دي ، او بل امور دنیویه دي، یو هغه امور دي چې تعلق تر دنیا پوري لري، او بل هغه امور دي چې تعلق تر آخرت پوري لري، دغه دواړه امور کلیات او اصول لري. په دغو اصولو او کلیاتو کې تر قیامته پوري زیادت او نقصان نه راځي، او جزئیات د هر یوه تر حساب زیات دي، په جزئیاتو کې زیادت او نقصان راځي، او دغه زیادت او نقصان چې خپل اصل او حکم ته منسوب سي زیادت او نقصان نه بلل کیږي، او که د بل اصل او حکم ته منسوب سي، بیا زیادت او نقصان بلل کیږي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې وایي: هیڅ یو قوم بدعت نه کوي مګر د هغه په مقدار به سنت له دغه قوم څخه پورته کیږي.

مثلاً د ټولي نړۍ د شیانو څلور اصول دي: [۱]اور [۲]اوبه [۳]خاوره [۴]هوا. له دغو څلورو ترکیبا او انفرادا الله جل جلاله [۳]درې نوع اجسام جوړ کړي دي، حیوانات، نباتات، جمادات، د ټولي نړۍ د موجوده شیانو رجع، او میلان دغه [۳]درو نوعو ته ده.

په دنیا کې هر جسم یا به حیوان وي، یعني جسم نامي حساس متحرک بالاراده، او یا به نبات وي، یعني جسم نامي. او یا به جماد وي، یعني جسم جوهر قابل الانقسام مثلاً. او له دې وروسته چې هر شيء په نړۍ کې پیدا سي، او یا یې خلک په مصنوعي شکل پیدا کړي، له دغه درو نوعو نسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلای، یا به حیوان وي، یا به نبات وي، او یا به جماد وي، دغه شیان که مأکولات وي، او که مشروبات وي، او که مرکوبات وي، او که هر قسم د استعمال او غیر استعمال شیان وي، نو اوس که په نړۍ کې نوی شيء پیدا سي ،لکه څنگه چې مثلا ټیلیفون رادیو ټانگ او وغیره پیدا سوو، من حیث الصورة والتشخص خو نوی دی، مگر من حیث الاصل نوی نه دی، ځکه دا یو جماد دی له جماداتو څخه، و دغه شيء ته بدعت یعني نوی شيء لفظا او لغتا ویل کیږي، مگر اصلا او اصطلاحا نسي ورته ویل کېدای، ځکه خو اصل یې موجود دی، او بل ابداع او تخلیق د الله جل جلاله کار دی مخلوق یې نسي کولای.

دغه اصل بیا ډېر ډېر اقسام لري، هر قسم یې جلا حکم لري، او ځانته خواص او فوائدي لري، او هر قسم یې په موجودیت کې خپل اسباب او شرائط لري، لهذا دغه نوی شيء، لکه ټیلیفون مثلا، که یوڅوک خپلي نوعي ته منسوب کړي، او په خپله نوع کې خپل قسم ته منسوب کړي، او خپل حکم پر ولگوي، مثلا ووایي: دا یو جماد دی، او په جماد کې مساله ده، او تر کاڼن ټینگ او مضبوط دی، او تر اوسپینې سست، او کمزوری دی، له دغه ویونکي سره هیڅوک نزاع او جگړه نه کوي.

او که ووایي، چې دا حیوان دی، او یا و وایي، چې دا جماد دی، مگر اورسپینه ده، او حال دا چې دا مساله وي، او یا و وایي، مساله ده؛ مگر تر اورسپینې درون او مضبوط دی، بیا له ویونکي سره هر څوک نزاع او جگړه کوي، وایي: چې شيء یو شيء دی، او ته یې بل شيء بولی، سره لدې چې دا دنیاوي امور دي، نه احکام دي، او نه عبادات دي.

او دغه رنگه اخروي امور را واخله، الله جل جلاله ټولو دیني امورو ته اصول او کلیات وضع کړي دي، پدغه اصولو او کلیاتو کې تر قیامته پوري زیادت او نقصان نه راځي، او جزئیات یې غیر متناهي دي، هغه بالفعل

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود وي، او که لدې وروسته موجودیږي؛ ځکه د هر فرد اعمال مثلا: لمونځ، روژه، زکوة، د دغو کلیاتو اجزاء او افراد دي، دغه جزئیات زیاتیږي او کمیږي، مګر د دې په زیادت او کمبود سره زیادت او نقصان في الدین نه بلل کیږي، د دغه امورو دینیه وو لپاره بیا اصول او کلیات څلور دي، قرآن کریم، احادیث مبارکه، اجماع او قیاس. په دغه څلورو کې بیا قرآن کریم اصل الاصول دی، یو لدې وجې چې دغه څلور واړه په قرآن کریم ثابت دي، الله جل جلاله وایي: ﴿اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم فان تنازعتم في شيء فردوه الی الله والرسول﴾ له ﴿اطیعوا الله﴾ څخه مراد قرآن کریم دی، او له ﴿اطیعوا الرسول﴾ څخه مراد سنت دی، او له ﴿واولی الامر منکم﴾ څخه مراد اجماع ده، او له ﴿فان تنازعتم في شيء﴾ څخه مراد قیاس دی. او داسې په نورو ایاتونو او حدیثونو مبارکانو سره ثابت دي، او بل لدې وجې چې قرآنکریم پر ټولو امورو دینیه وو مشتمل دی، تر قیامته چې څونه امور دینیه دي، یو هم داسې نسته، چې پر هغه دې قرآنکریم مشتمل نه وي، ځکه الله جل جلاله وایي: ﴿ونزلنا علیك الکتاب تبیانا لکل شيء وهدی ورحمة وبشری للمسلمین﴾ پر بعض احکامو مفصل مشتمل دی او پر بعض احکامو مجمل. پر بعض عبارة او پر بعض دلالة، پر بعض اشارة او پر بعض اقتضاء. بعض ایاتونه مبارکان محکم دي، او بعض مجمل، بعض مشکل او بعض متشابه.

حاصل د خبرې دا دی، چې پر ټولو امورو دینیه وو مشتمل دی، په امورو دینیه وو کې سنت، اجماع او قیاس هم داخل دي، نو پر سنت هم مشتمل دی، لکه پدې قول د الله جل جلاله کې، ﴿واطیعوا الرسول﴾ او یا پدې قول د الله جل جلاله کې ﴿وما آتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا﴾. او پر اجماع هم مشتمل دی، لکه پدې قول د الله جل جلاله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿واولی الامر منکم﴾. او یا په دې قول د الله جل جلاله کې ﴿ویتبع غیر سبیل المؤمنین نوله ما تولی﴾.

او پر قیاس هم مشتمل دی، ﴿فان تنازعتم في شيء فردوه الی الله والرسول﴾. او یا پدې قول د الله جل جلاله کې ﴿فاعتبروا یا اولی الابصار﴾. هر هغه شيء چې پدغه څلورو کې په هر یوه ثابت وي، هغه شيء په حقیقت کې په قرآن کریم ثابت دی، دغه څلور اصول او کلیات د امورو دینیه وو لپاره دي، او په دوی کې بیا قرآن کریم اصل الاصول دی، او پر دغه اصولو زمونږ د مذهب فقهاء کرامو د اصول الفقه په نامه باقاعده یو فن جوړ کړی دی، پوره تفصیل یې هلته کتلای سئ.

په نړۍ کې چې څونه جزئیات د امورو دینیه وو دي، هغه په ظاهر کې له دغه څلورو اصولو او په حقیقت کې له اصل څخه چې قرآنکریم دی، نسي وتلای، او هغه امور دینیه چې لدې وروسته تر قیامته پورې پیدا کیږي، هغه هم لدې اصولو او کلیاتو نسي وتلای، ځکه جزئیات خو غیر محصور دي، لکه امور دنیویه چې له خپلو اصولو نسوای وتلای، مثلا: که د زید بچی عبد الله چې لدې وروسته پیدا کیږي، او بالغ سي، پر هغه لمونځ، روژه، او وغیره فرض دي، ځکه په قرآن کریم، حدیث، اجماع او قیاس کې خو دا جذئیه نسته، چې د زید پر بچي عبد الله باندې دغه امور فرض دي، بلکې اصل یې سته، چې پر مؤمن بالغ باندې دغه امور فرض دي، نو د زید پر زوی هم فرض دي، د دغه جزئیاتو په زیادت او نقصان سره زیادت او نقصان في الدین نه بلل کیږي.

د دغه اصولو لپاره بیا خپل احکام او شرائط دي؛ ځکه دغه اصل یا اصول الله جل جلاله خپل بنده ته را لیږلي دي، او پر دغه اصولو احکام مرتب دي، په دغه احکامو باندې بنده مکلف دی، دغه احکام بیا خپل اقسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري؛ ځکه حکم خطاب الله تعالی المتعلق بافعال المکلفین اقتضاء او تخییرا ته وایي. اقتضاء بیا دوه قسمه ده، یو طلب د فعل دی، بل ترک د فعل دی، درېیم: قسم امکان نلري، ځکه داسې کیدای نسي، چې الله جل جلاله دې مطالبه کوي له بنده، مگر نه دې د کولو کوي، او نه دې د نه کولو کوي، ځکه دا ارتفاع د نقیضین ده.

او نه داسې کیدای سي، چې مطالبه دې هم د کیدلو وي، او هم دې د نه کیدلو وي، ځکه دا بیا اجتماع د نقیضین ده.

دوهم قسم: بیا تخییر ده، درېیم بیا امکان نلري، یعني: داسې نسي کیدلای، چې هم اقتضاوي وي، او هم تخییري وي، یعني: هم مطالبه وي او هم نه مطالبه وي؛ ځکه دا اجتماع د نقیضین ده، او داسې هم نسي کیدلای، چې نه مطالبه وي، او نه نه مطالبه وي؛ ځکه دا بیا ارتفاع د نقیضین ده. لهذا احکام دوه قسمه دي، اقتضاء او تخییرا.

اقتضاء بیا اووه اقسام لري: فرض، واجب، سنت، مستحب، حرام، مکروه تحریمي، او مکره تنزیهي؛ ځکه اقتضاء به خالي نه وي، یا به طلب د فعل وي، یا به ترک د فعل وي، که طلب د فعل وو، هغه فرض، واجب، سنت او مستحب دی، صرف د مطالبې په کیفیت کې یې فرق سته، مطالبه د کیدلو په ټولو کې سته، او که طلب د ترک د فعل و، هغه حرام، مکروه تحریمي او مکروه تنزیهي ده، دلته بیا د مطالبې په کیفیت کې فرق سته، نفس مطالبه د نه کیدلو په ټولو کې سته.

او تخییر یو قسم لري، هغه مباح دی، کول او نه کول یې علی السویه دي، نو د دغه اصول اربعه وو دغه احکام دي، فرض، واجب، سنت، مستحب، مباح، حرام، مکروه تحریمي، او مکروه تنزیهي.

فرض، واجب، سنت او مستحب هغه دي، چې په یو اصل د اصولو کې امر په سوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرام، مکروه تحریمي او مکروه تنزیهي هغه دي، چې په یو اصل کې له اصولو اربعه وو منع، یعني: نهي ځیني سوې وي.

مباح هغه ده، چې نه امر په سوی وي، او نه نهي ځیني سوې وي.

امر او نهي هر یو بیا په خپل منځ کې اقسام لري، هغه علماء اصولینو بیان کړي دي، دین په حقیقت کې دغه احکامو ته وایي.

اوس که په نړۍ کې یو چا نوی شيء پیدا کړ، دغه شيء خو من حیث الصورة والتشخص نوی (جدید) دی، ځکه یو جزئي شيء دی، مګر من حیث الاصل نوی نه دی. اصل به حتما په قرآن کریم کې لري، تفصیلا یا اجمالا، عبارة، دلالة یا اشارة؛ ځکه قرآنکریم خو ﴿تبیانا لکل شيء﴾ دی، او قرآن کریم دین دی، او دین مکمل دی، او دغه شيء هم له امورو دینیه وو څخه دی، نو د دغه شيء نوع او حکم دواړه په قرآنکریم کې سته، ځکه دغه شيء خو بیا فرد له لمانځه څخه وي، یا له دعاء، یا له صدقې، یا له وعظ، یا له روژې، یا له غلا، یا له زناء او وغیره څخه وي، کوم وخت چې د دغه شيء اصل معلوم سو، چې له فلانی نوعي دی، هغه به یا له مأموراتو څخه وي، او یا به له منهیاتو څخه وي، او یا به مسکوت عنها وي.

که له مأموراتو څخه و، بیا به خالي نه وي، یا به له ماموراتو معینه مقیده وو څخه وي، او یا به له مطلقه وو څخه وي، بلا تاخیر په دغه صورت کې به دغه شيء یا فرض وي، یا به واجب وي، یا به سنت وي او یا به مستحب وي؛ ځکه امر ته به ګورئ، چې په کوم انداز کې سوی دی.

او که دغه نوع له منهیاتو څخه وه، بیا به خالي نه وي، یا به له منهیاتو معینه موقته وو څخه وي، او یا به له مطلقه وو څخه وي، خو بالآخره په دغه صورت کې به دا شيء یا حرام وي، یا به مکروه تحریمي وي، او یا به مکروه تنزیهي وي؛ ځکه بیا به د نهي انداز ته ګورئ، چې په کوم انداز کې نهي سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که دغه نوع مسکوت عنها وه، دغه شيء بيا مباح دی.آمدم بر سر مطلب. اوس دغه شيء که يو څوک يې خپلې نوعي او حکم ته منسوب کړي، بدعت نه ورته ويل کيږي، که څه هم من حيث الصورة والتشخص خو نوی شيء دی، يعني: بدعت لغوي دی، مثلا که دغه شيء د فرض تر قاعدې او اصل لاندې و، تا هم فرض باله، نو بدعت نده، يعني گمراهي نده، بلکې هم فرض ده من حيث الاصل، اوهم بدعت لغوي ده من حيث الجزئية.

او که تر قاعدې د واجبو لاندې و، او هم تا هم واجب بلی، بيا بدعت نده.

او که تر قاعدې د سنتو لاندې و، او تا هم سنت بلی بيا هم بدعت نده.

او که تر قاعدې د مستحب لاندې و، تا هم مستحب بلی، بيا بدعت نه ده.

او که تر قاعدې د مباح لاندې و، او تا هم مباح بلی، بيا بدعت نه ده.

او که تر قاعدې د حرامو لاندې و، او تا هم حرام بلی، بيا هم بدعت نده.

او که تر قاعدې د مکروه تحريمي لاندې و، او تا هم مکروه تحريمي بلی، بيا هم بدعت نده. او که تر قاعدې د مکروه تنزيهي لاندې و، تا هم مکروه تنزيهي بلی، بيا هم بدعت نده.

په دغو ټولو صورتونو کې بدعت لغوي او صوري ده. دغه بدعت لغوي عين دين ده؛ ځکه خو له فرض سره هم جمع کيږي، او له واجب سره هم جمع کيږي، او له سنت او مستحب سره هم جمع کيږي، او له حرام او مکروه سره هم جمع کيږي، او دغه بدعت ته بدعت حسنه هم ويل کيږي، لدې وجې څخه بعض علماء کرام د بدعت له تقسيم څخه وحسنه او سيئه ته انکار کوي؛ ځکه حسنه خو په حقيقت کې بدعت نه سو؛ بلکې په دين کې داخل سو؛ ځکه خو يا واجب ده، يا سنت ده، او يا مستحب ده، يا حرام ده. او حرام ته حرام ويل هم حسن ده، او بدعت گمراهي او ضلالت ده، لهذا دوی وايي : بدعت صرف سيئه ده، بل قسم نه لري، نزاع لفظي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم:** او که یو څوک دغه شيء و بلې نوع او حکم ته منسوب کړي، بيا بدعت ورته و وايي: هغه بدعت چې ضلالت او گمراهي ده. مثلا: دغه شيء تر قاعدې او اصل دې فرض لاندي و، مگر تا واجب بلی، يا دې سنت بلی، يا دې مباح بلی، هم بدعت ده، او يا ې حرام بلی او يا دې مکروه تحريمي بلی، يا دې تنزيهي بلی، هم بدعت ده، او که دغه شيء تر قاعدې د اصل او واجب لاندي و، مگر تا يا فرض بلی يا دې سنت بلی، او يا دې مباح بلی، او يا دې حرام او مکروه بلی، نو بدعت ده. او که شيء تر اصل د حرام لاندي و، او تا واجب بلی، او يا دې فرض بلی او يا دې سنت بلی، او يا دې مباح بلی، نو بدعت ده، ضلالت او گراهي ده.

احکام موږ ته ول اته (۸) قسمونه ذکر کړو، اته چې په اتو کې ضرب کړې (۶۴) څلور شپېته کيږي، په څلور شپيته اقسامو کې اته قسمونه بدعت لغوي او حسنه دي. مثلا : چې فرض ته فرض ووايي، او واجب ته واجب ووايي، او مباح ته مباح ووايي ، لکه څنگه چې مخته ذکر سو، او (۵۶) شپاږ پينځوس اقسام د بدعت سيئه دي، په دې وجه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دغه قول ( کل بدعة ضلالة ) تأويل داسې کېدای سي، چې اکثر ته يې حکم د کل ورکړې دی، يعني دغه کل په معنی د اکثر کې دی، په حقيقت کې پر کل يې د اکثر په وجه حکم کړی دی، او دغه ۵۶ شپاږ پينځوس اقسام مثلا چې يو فرد د فرضو ته واجب وايي، يا مباح وايي، يا سنت وايي، يا حرام وايي، يا مکروه وايي، او يا و فرد د حرامو ته فرض وايي، يا واجب وايي، يا مباح وايي، يا سنت وايي، يا و فرد د مباح ته فرض وايي، يا واجب وايي، يا سنت وايي، يا حرام وايي، يا مکروه وايي، بدعت سيئه دی.

له دې وجې چې دا احداث في الدين دي، او مخته ذکر سو، چې په حقيقت کې دغو اقسامو ته دين ويل کيږي، نو گواکې دغه کس نوی حکم پيدا کړ؛ ځکه دغه شيء شريعت فرض بولي مثلا: او دغه کس يې حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي، او يا يې حرام بولي او يا يې مستحب بولي، او يا دغه شيء شريعت مباح بولي، او دغه كس يې فرض بولي او يا يې واجب بولي، او يا يې حرام بولي، او يا دغه شيء شريعت حرام بولي، او دغه كس يې واجب بولي، او يا يې فرض بولي، او يا يې سنت بولي او يا يې مباح بولي، او احداث في الدين زيادة في الدين دي، زيادة في الدين ضلالت او گمراهي ده؛ ځكه دا دخالق كار دی، نه د مخلوق، دغه دين خالق و مخلوق ته رالېږلی دی، مخلوق له خپل ځان څخه حلت او حرمت نسي پكې جوړولای، نو كه يو چا د يوه حكم نسبت ځانته وكړ، مثلا: له ځانه يو شيء فرض بولي، يا واجب يا يې حرام بولي، بې له اذنه د شارع، دغه كس ځانته د خدايي او خالقيت نسبت وكړ، او كه يو چا ځانته د خالقيت نسبت وكړ، هغه ضال او گمراه دی؛ ځكه مبدع او خالق په دنيوي شيانو كې هم الله جل جلاله دی، بديع السموت والارض دی، خالق كل شيء دی.

په ټوله دنيا يو مچ نسي پيدا كولی، ﴿لن يخلقوا ذبابا ولو اجتمعوا له﴾، او په اخروي شيانو كې يعني احكامو كې هم مبدع او خالق الله جل جلاله دی، په ټوله دنيا نه يو شيء فرض كولی سي او نه يې حرام كولی سي، او كه يې دغه نسبت ځانته وكړ، كافر او گمراه دی.

او څونه حديثونه مباركان چې د بدعت په ذم كې راغلي دي ، په هغو كې د غه اخېرنی قسم بدعت مراد دی؛ ځكه دا احداث في الدين ده، او احداث في الدين واقعي گمراهي ده، او بعض وخت يوشيء سنت بالذات يا مباح بالذات وي، مگر خلك يې واجب بولي، د هغو مراد واجب بالغير وي، واجب بالغير بيا احداث للدين ده، احداث للدين گمراهي نه ده؛ ځكه زيادة في الدين نه ده، بلكې زيادة لتقوية الدين ده، لكه : تعلم علوم الفنون، بيعت، تقليد شخصي، مدارسي او وغيره.

او كه يوچا دغه شيان واجب بالذات بلل، بيا بدعت دی، لهذا هر نوی شيء

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا هر جزئي تر کلي لاندي کول، او یا هر فرد تر قاعدې لاندي کول، ضلالت او گمراهي نده، که سي، نو ټولي مسائلي قیاسیه، ټولي د تصوف سلسلې، ټول تصنیفونه، ټولي تعلیمي ادارې، ټول جهادي اعدادونه او وغیره به ضلات او گمراهي سي، نعوذ بالله من ذلک.

دلته یو څو احادیث مبارکان، او یو څه مختصر عبارت ذکر کوو، په اخیر کې د علماء کرامو یوه اشتباه ذکر کوو، نور په دغه تحقیق کفایت کوو.

**محمل د هغه احادیثو مبارکانو**: چې د بدعت په ذم کې وارد دي: رسول الله صلي الله علیه وسلم ویلي دي، اما بعد: «فان خیر الحدیث کتاب الله وخیر الهدی هدي محمد صلی الله علیه وسلم وشر الامور محدثاتها وکل بدعة ضلالة».

په بل راویة کې راځي «وکل ضلالة في النار». او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «المدینة حرام بین عیر الی ثور فمن احدث فیها حدثا او آوی محدثا فعلیه لعنة الله والملئکة والناس اجمعین لایقبل منه صرف ولا عدل» مشکوة (۱/۲۷ -۲/۲۳۸).

او رسول صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «ابی الله ان یقبل عمل صاحب بدعة حتی یدع بدعته» ابن ماجه (٦).

او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «من احدث فیها حدثا أو آوی محدثا فعیله لعنة الله والملائکة والناس اجمعین، لایقبل منه صرف ولا عدل» صحیح البخاري (۱/۲۵۱).

او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «من وقر صاحب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام» مشکوة (۱/۳۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «ان الله حجب التوبة عن کل صاحب بدعة» مجموع الزوائد (۱/۱۷۹).

او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد» صحیح البخاري (۱/۳۷۱).

او په بعضي روایتونو کې داسې دي، «من احدث في دیننا مالیس منه فهو رد».

تاسي وګورئ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه ټولو احادیثو مبارکانو کې کوم بدعتي یادوي، آیا پر بل مطلق بدعتي دغه احادیث مبارکان تطبیق کیږي، که ما سیوا له هغه بدعتي چې مونږ یې مخکې یادونه وکړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د الله جل جلاله کتاب تر ټولو ښه خبر او بیان دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او سیرت تر ټولو طریقو د هدایت طریقه ده، په ټولو شیانو کې نوی شيء بد دی، او هر نوی شيء ګمراهي ده، او ګمراهي سبب د دخول نار ده، که یو چا په حرم د مدینې کې نوی شيء ایجاد کړ، او یا یې دغه ایجاد کونکي ته پناه ورکړه، پر هغه دې د الله جل جلاله، د ملائکه وو او د ټولو خلکو لعنت وي، له هغه الله جل جلاله یو شيء هم نه قبلوي. الله جل جلاله تر هغه وخت د بدعتي عمل نه قبلوي، تر څو چې له دغه بدعت څخه لاس نه وي اخیستی. او که چا د بدعتي احترام وکړ، هغه د دین په نړولو کې معاون جوړ سو، الله جل جلاله د بدعتي توبه نه قبلوي، یعني پر بدعتي شخص یې د توبې دروازه بنده کړې ده.

پدې ټولو احادیثو مبارکانو کې هغه بدعتي یادوي، چې هغه احداث في الدین کړي وي. د دین تشریح مونږ مخکې ذکر کړه، چې دغه قرآنکریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، او دغه قرآنکریم پر ټولو امور دینیه وو مشتمل دی.

په دغه دین کې مخصوص احکام دي، په هغو احکامو بندګان مکلف دي، او هغه احکام الله جل جلاله وضع کړي دي؛ نو که بنده له خپل ځان څخه حکم پکې پیدا کړ. یو شيء فرض دی، خو په شریعت کښي دې اعتقاد د فرضیت نلري، واجب، سنت، مباح، حرام او یا یې مکروه بولي. او یو شيء سنت یا مستحب دی، په شریعت کې دې حرام، مکروه، یا واجب او غیره بولي؛ نو دغه بنده د خپل ځان څخه حاکم او واضع جوړ کړ، دغه د خدای صفت یې ځان ته ورکړ، دا ګمراه سو، او دا جهنمي وي، پر دغه کس د الله جل جلاله ، د ملائکه وو او د خلکو لعنت وي.

د دغه کس عزت او احترام د دین اسلام نړول دي، او دغه کس ته پناه ورکول حرامه ده، د دغه کس اعمال نا منظور دي، د دغه کس توبه له ګناهونو څخه منع ده، تر هغه وخت چې مسلمان سوی نه وي، د دغه کس ایجاد سوي احکام په اسلام کې مردود دي، ځکه دا خو د بنده فرض، واجب، حرام او وغیره دي، دغه بدعت في العقیده دی، او دغه بدعت او عقیده کفر دی.

لهذا د الله جل جلاله په لحاظ دغه حدیث مبارکان د هر چا په هکله مه بیان کوئ،که یو چا دعاء وکړه، بس بدعتي او ګمراه سو، که یو چا په دعاء کې لاس پوررته کړ، بس بدعتي سو، که یو چا جلسه وکړه، بس بدعتي سو، که یو چا خیرات وکړ، بس بدعتي سو، که یو چا اسقاط وګرزاوه، بس بدعتي سو، نعوذ بالله، دا خو اعمال دي.

او اعمال موقوف پر نیت او اعتقاد وي، کفر او اسلام خو اعتقادیات دي، له دغه کس څخه پوښتنه وکړئ، چې دغه عمل په کوم نیت او اعتقاد کوي، که یې وویل، چې مستحب یې بولم، ښه کار یې بولم، علماء سلفو خوښ کړی عمل دی، او یا یې سنت بولم، په حدیث مبارک ثابت دی، اوس که

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه عمل هر چا حرام وباله، یا یې مکروه وباله، او یا یې کونکی بدعتي وباله، نو دغه کس خپله گمراه او بدعتي سو؛ ځکه خو مستحب عمل یې حرام او مکروه وبلی.
او که هغه کونکي وویل، چې دغه عمل، یعني: دعا، اسقاط وغیره فرض بولم، یا یې واجب بولم، تارک یې گنهگار بولم، او منکر یې له دغه مخصوص کیفیت څخه کافر بولم، نو واقعي دغه کونکی گمراه او بدعتي دی.

د مخکیني تحقیق او احادیثو مبارکانو په تائید کې د یوڅو علماء کرامو اقوال را نقل کوو.

**د فقهاء کرامو عبارات په بدعت کې:**

یعرض البدعة على القواعد الشرعية فاذا دخل في الايجاب فهي واجبة او في قواعد التحريم فهي محرمة أو المندوب فمندوبة او المكروه فمكروهة أو المباح فمباحة. القواعد الكبرى (۲/۳۳۷). سبيل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد. (۱/۳۷۰).

ان كانت تندرج تحت مستحسن في الشرع فهي بدعة حسنة، وان كانت مما يندرج تحت مستقبح في الشرع فهي بدعة قبيحة، عمدة القاري الحديث ۲۰۱۰- (۸/۲۴۵).

بدانکه هر چه پیدا شود، بعد از پیغمبر علیه السلام بدعت است، وازو انچه موافق اصول وقواعد سنت است، وقیاس کرده شده است، بر آن آن رابدعت حسنه گویند، و انچه مخالف آن باشد، بدعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضلالت خوانند، کلیه «کل بدعة ضلالة» محمول براین است ،وبعض بدعتها واجب است، چنانکه تعلم وتعلیم، صرف و نحو. و بعض مستحسن و مستحب مثل بنائے رباطها و مدرسها، و بعض مکروه، و بعض حرام چنانکه مذاهب اهل بدع و اهوا بر خلاف سنت و جماعت، آه. اشعة اللمعات - کتاب الایمان،(١٣٥/١).

فالمنارة عون لاعلام وقت الصلوة و تصنيف الكتاب عون للتعليم والتبليغ ونظم الدلائل لرد شبه الملاحدة والفرق الضالة نهي عن المنكر وذب عن الدين، وكل ذلك مأذون فيه بل مأمور به اذا قة الاثام (٥٢). نقله حجة الاسلام امام الغزالي رحمة الله عليه.

«كل بدعة» أي سيئة «ضلالة» لقوله عليه السلام، من سن في الاسلام سنة حسنة، آه. مرقات الممفاتيح (١/٣٦٨).

واعلم ان البدعة ما لايكون اصله في الاصول الا ربعة ويزعم الناظر فيه أنه من أمور الدين، عرف الشذي لمولانا انور شاه الكشميري (١/١٩٢).

ما احدث و خالف كتابا او سنة او اجماعا او اثرا فهو البدعة الضالة ، وما احدث من الخير ولم يخالف شيء من ذلك فهو البدعة المحمودة ، كشاف في اصطلاح الفنون (١/١٧٩).

البدعة هو الزيادة في الدين او نقصان منه الحادثان بعد الصحابة، وكذا زمن التابعين وتابعيهم بغير اذن من الشارع لا قولا ولا فعلا ولا صريحا ولا اشارة، فلا تناول العادات اصلا، حديقة الندية (١/١٣٦). وهكذا في المحمودية (٢/٢٥).

فيقال اهل البدع والمبتدعة وأهل الهوى وأهل الأهواء، والمراد بذلك

(c) ketabton.com: The Digital Library



البدعة الشرعية في الاعتقاد لا غير، آه. حديقة الندية (۱/۱۳۹).

غالب استعمال بدعت در اعتقاد افتد، آه. شرح سفر السعادة تاليف محدث دهلوی(۴۱۲).

**بعض علماء کرام اشتباه سوي دي:** هر هغه شيء چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم او يا له صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين څخه قولاً، يا فعلا او يا تقريرا ثابت وي، هغه سنت بولي، او چې ثابت نه وي، د هغه شيء کول بدعت سيئه او مردود بولي، بلکې د دغه نه ثابت شيء، نه کول سنت بولي.

دغه علماء کرام ډير سهوه سوي دي، له سابقه تحقيق څخه واضحه معلومه سوه، مگر يو څو نوري وجې د عامو مسلمانانو د حفاظت لپاره ليکم.

**اوله وجه د سهوې دا ده:** رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: «من احدث في امرنا هذا ما ليس منه، فهو رد». که يو چا نوی شيء په دين کې پيدا کړ، داسې نوی شيء چې له دين څخه نه وو، هغه مردود دی، د دغه حديث مبارک له دغه الفاظو «ما ليس منه» واضح معلوميږي. هغه شيء چې په دين کې اصل نلري، نه په قرآنکريم، نه په حديث، نه په اجماع، او نه په قياس کښې.

او په دين کې د شارع له جانبه، نه صراحة، نه اشارة، نه دلالة ماذون به او مامور به وو، نو بدعت او مردود دی. او که يې په دين کې اصل او قاعده درلوده، هغه شيء د شارع له جانبه ماذون به دی، که څه هم هغه حادث يعني: بدعت دی؛ مگر مردود نه دی، مقبول دی، او بدعت لغوي و ظاهري دی، او په حقيقت کې عين دين دی.

**دوهمه وجه د سهوې داده:** چې هر ثابت شيء له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه سنت نه دی، بعض اشياء د رسول الله صلی الله عليه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصيات وي، او بعضي يې د عذر په وجه کړي وي، او بعض صرف رسول الله صلی الله عليه وسلم د جواز لپاره کړي وي، دا اشياء ثابت دي، مگر سنت منه دي. او هر نه ثابت بدعت نه دی؛ ځکه بدعت سيئه د امر او منهي عنه له افرادو څخه يو فرد دی.

لهذا بدعت نهي غواړي، صراحة، اشارة يا دلالة. نفس عدم الثبوت د شيء مستلزم وجوب د ترک د شيء نه دی، يعني: داسې نه ده، که يو شيء صراحة ثابت نه وو، د هغه شيء ترک واجب دی، ځکه ترک يې هلته واجب دی، که منع او نهي ځيني راغلې وه.

الله جل جلاله وايي: ﴿وما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا﴾. واستنبط من هذه الآية انّ وجوب الترك يتوقف على تحقق النهي، ولا يكفي فيه عدم الامر فما لم يعترض له امرا ولانهيا، لايجب تركه. روح المعاني (۲۸/٤٤).

او رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: «الحلال ما احل الله في كتابه، والحرام ما حرم الله في كتابه، وما سكت عنه، فهو مما عفى عنه- مشكوة (۳٦۷).

او دغه رنگه علماء اصول والفروع وايي: چې اصل په اشياوو کې په نزد د جمهورو احنافو اباحت دی، تر هغه وخته چې پر يو شيء دليل د حرمت نوي قائم سوی، هوکی! حرام او ناجائز نسي ورته ويلای.

و اما الخلاف المنقول بين اهل السنة أن اصل الافعالِ ألإباحة، كما هو مختار اكثر الحنفية والشافعية، آه. مسلم الثبوت (ص-۲۲). الاشباه والنظائر لابن نجيم المصري، (ص-٥٦). القاعدة الثالثة.

والتلفظ عند الارادة بها مستحب وهو المختار وقيل: سنة يعني احبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلف او سنة علمائنا اذ لم ينقل عن المصطفى، والصحابة، والتابعين بل قبل بدعة.

قال: الطحاوي حسنة على المعتمد لاسيئة، حاشية الطحطاوي على الدر– باب شروط الصلاة (١/١٩٤).

والمستحب في النية أن ينوي بالقلب ويتكلم باللسان، وهذا هو المختار، قال: في البحر وصححه في المجتبى، وفي الهداية، والكافي، والتبيين انه يحسن لاجتماع عزيمته، وفي الاختيار معزّيا الى محمد بن الحسن أنه سنة، وهكذا في المحيط والبدائع الى ان قال: بعد نقل خلافه وزاد في شرح المنية انه لم ينقل عن الائمة الاربعة ايضا، فتحرر من هذا انه بدعة حسنة عند قصد جمع العزيمة، وقد استفاض ظهور العمل بذلك في كثير من الاعصار في عامة الامصار، فلعل القائل بالسنية أراد بها الطريقة الحسنة، لا طريق النبي صلى الله عليه وسلم. وفي الغنية بعد نقل انها لم تنقل عن القرون الثلاثة ، لكن عدم النقل وكونه بدعة لا ينافي كونه حسنا لقصد اجتماع الغريبة على ما اشار اليه في الهداية ، وصرح به في التجنيس ، وفي شرح المشكوة لعلي القاري ، ان الاكثرين على ان الجمع بينهما مستحب لتسهيل تعقل معنى النية و استحضارها. آه.

د دغه تهولو كتابونو په كتاب الصلاة كې ذكر دي، چې په خوله نيت ويل ، مثلا، لمموننځ كوم دوه ركعته فرض قطعي، آه. نه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه، نه له قرون الثلاثة وو څخه، او حتى نه له ائمه اربعه وو څخه ثابت دى، د هغه باوجود تهول يې مستحب او ښه عمل بولي؛ ځكه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د خلکو تعامل ور باندي راغلی دی، (ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن) او خلکو ته مفید دی، او د شریعت سره ټکر هم نلري؛ حیله اسقاط خو له ټولو ثابت او منقول دی، که بالفرض له هیڅا نسي منقول، صرف دغه خلکو چې حسن بللی دی، همدغه یې د اثبات لپاره کافي و شافي دي.

په اصولو کې ذکر دي، چې د هر زمن اجماع معتبره ده، تر هغه وخته چې د شریعت سره په ټکر کې نه وي واقع سوې.

**درېيمه وجه د سهوي دا ده:** چې سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم فعل، امر، تقریر، او د صحابه کرامو فعل، امر او تقریر ته ویل کیږي. او متروک د رسول الله او د صحابه کرامو ته سنت نه ویل کیږي. ترک د شيء نه سنت دی، او نه په ترک باندي د شيء ثواب سته، بلکې ثواب په کف کې د نفس ده له حرامو څخه. مسلم الثبوت(۳۹).

**څلورمه وجه د سهوي دا ده:** دغه علماء کرام ډیر ځله یو شيء د زمان په وجه بدعت بولي، وايي: مثلا دعا منم، خیرات منم، او وعظ منم چې ثابت دي، مگر په دغه وخت کې نه دي ثابت، لهذا بدعت دی، نو واجب الترک دی.

**مونږ ورته وايو:** هر هغه عبادت چې موقت نه وي تر وخت پوري، بلکې مطلق وي، دا قاعده ده، چې مطلق په صفاتو کې پر خپل اطلاق پاته کیږي، (المطلق يجري على اطلاقه)، که بالفرض یو شيء په اعتبار د زمان بدعت کیږي، نو باید په اعتبار د مکان هم بدعت سي، ځکه دواړه ظرفونه دي، دغه سنن مؤکده و هدی باید ټول بدعت سي، ځکه زمونږ په کور، کلیو، او مساجدو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه سنت ندي کړي، او دا ستره سهوه ده، لهذا عبادت مطلق وقت نه غواړي او نه مکان، چې یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانع موجود نه وي.
هغه وخت بدعت ځیني جوړیږي، چې په هغه معین زمان، یا مکان کې واجب او لازم اعتقادا وبلل سي.
له مولانا رشید احمد گنگوهي رحمه الله یوه پوښتنه سوې دي، چې د یو مصیبت په وخت کې د بخاري شریف ختم کول، په قرون ثلاثه وو کې ثابت دی، او که نه، دغه ختم کول بدعت دی او که نه.؟
نوموړي ځواب ورکړی دی، چې په قرون ثلاثه وو کې د بخاري شریف ختم نه وو سوی، مگر ختم یې کول صحیح عمل دی، ځکه دا ذکر خیر دی، او هر ذکر خیر وروسته دعاء قبلیږي، د دې اصل د شرعي څخه ثابت دی، لهذا بدعت نه بلل کیږي.
**لومړی سوال:** بعض علماء کرام وایي: د حیله اسقاط په وجه خلک بې لمانځه کیږي وایي: چې په اسقاط مې غاړي خلاصیږي، نوځه ضرورت لرم چې أوس یې کوم، لدې وجې باید حیله اسقاط بند سي.
**مونږ جواب ورکو:** چې علماء کرام خلکو ته وایي: چې که چا په قصد لمونځ قضا کوی، د هغه لمونځونو قضاء او اسقاط د بعض علماء کرامو په نظر بالکل نسته، د یوې روژې په قضاء ټوله زمانه انسان روژې ونیسي، د هغې روژې ځای نه نیسي، که څه هم ذمه په خلاصیږي.
لهذا مونږ په خپل ټول ژوند کې داسې سړی ندی لیدلی، چې په دغه طمع بې لمانځه سوی وی. او که داسې وي، لکه دوی چې وایي، بیا دې دغه اعتراض پر قرآن هم وسي العیاذ بالله، چې په قرآن کې توبه څو ځایه ذکر ده، او الله جل جلاله بار بار وایي، چې زه توبه قبلونکی یم، او رحیم یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه په دغو اياتونو، هم انسان جرأت مند کيږي پر گناه باندي، وايي، الله جل جلاله يې را معاف کوي، هسي خپلې گناه وي کوي.

**دوهم سوال:** بعض علماء کرام وايي: حيله اسقاط داسې حيله ده، لکه د بني اسرائيلو حيله، هغوی د ماهيانو د ښکار لپاره حيله جوړه کړه، د شنبې په ورځ به يې په نهر يا وياله کې رابند کړو، د يکشنبې په ورځ به يې بيا ښکار کړو، الله جل جلاله داسې عذاب وربانديي نازل کړ، چې بيزوگان يې ځيني جوړ کړل. الله جل جلاله وايي: ﴿کونوا قردة خاسئين﴾.

**مونږ ورته وايو:** چې دا قياس مع الفارق دی، د بني اسرائيلو حيله لپاره د تحليل د تحريم وه، او حيله اسقاط لپاره د وصول د حلال ده، ځکه حيله اسقاط لپاره د تکثير د مال د ولي ده، او دا جائز ده.

**دريم سوال:** بعض علماء کرام وايی، چې په حيله اسقاط کې رجوع في الهبة وي، يو ځل يې ورکړي، بيا يې بيرته ځيني غواړي، او دا ډير بدکار دی؛ ځکه رسول الله «صلی الله عليه وسلم» وايي: رجوع في الهبة داسې ده، لکه سپی چې قيء و وهي، او بيا يې بيرته خټي.

العائد في الهبه کالعائد في قيئه. وقال النبي صلى الله عليه وسلم، «ليس لنا مثل السّوء الذي يعود في هبته کالکلب يرجع في قيئه»، نوحيله اسقاط بايد بنده سي، ځکه دا ناجائز ده.

**مونږ ورته وايو**: چې دا رجوع في الهبة نه ده، که رجوع في الهبة سي، بيا خو مقصود فوت سو، اسقاط نه په راځي؛ بلکې فقير يې په خپل اختيار ورکوي. هغه دويمه هبه شروع سوه، اوله هبه د فقير په قبض کيدلوسره تامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه؛ ځکه ورکونکي ورته وايي: «وهبتک». او فقير ورته وايي: «قبلت و وهبت اليک». لدغو الفاظو ښکاره معلوميږي. او که بالفرض فقير په ورکړه کې يوڅه درنگ وکړي، نو گرزونکی د استيهاب لپاره لاس ور وغزوي، رجوع في الهبة نه کوي، او په بعض ځايونو کې دا طريقه مروجه وي، چې فقير يې بيرته گرزونکي ته نه ورکوي، بلکې د څنگ فقير ته يې ورکوي، په هغه کې توهم د رجوع في الهبة هم نسي کيدای؛ مگر زمونږ طريقه راجحه ده ؛ ځکه په هغه طريقه کې تبرع د اجنبي راغله، په تبرع د اجنبي کې د فقهاء کرامو اختلاف دی.

مهمه خبره دا ده: چې په مذکورو احاديثو مبارکانو حرمت د رجوع في الهبة هم نه ثابتيږي ؛ ځکه سپی خو حيوان دی، غير مکلف دی، پدې صرف مکروه طبعي ثابتيږي، نه شرعي.

(والکلب غير مکلف فلا يکون فعله حراماً، ولا مکروها شرعيا، بل يکون مکروها طبيعيا و يتنزه الانسان عن فعل يشبه الکلب) زاد المحتاج في تحقيق المنهاج - لمولنا ورئيسنا ورئيس المذاکرات الافغانية في هذا العام في دولة القطر. (۵/۷۳).

**څلورم:** د نن عصر بعض علماء کرام وايي: چې يو کس که په دائره کې ناست وي، او مبلغ مذکور قبض کړي، او بيرته يې ورنه کړي، تاسو يې ځيني اخلي، نو دا طريقه هم صرفمسخرې او مزاق دی، او هم رجوع في الهبة ده، او دا په څو واره په اوس وخت کې خلکو تجربه کړې ده، لهذا دا باطله حيله ده، بندول يې لازمي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مونږ ورته وايو:** دا مهم سوال او مهمه خبره ده، او ډير خلک هم د دغه سوال په وجه په اوس وخت کې له حيله اسقاط څخه نفرت کوي، په حقيقت کې دغه سوال کونکي علماء د مجموع رسائل ابن عابدين په يو عبارت دوکه سوي دي، او يا يې ځان دوکه کړی دی، نو يې نور عوام غريبان هم دوکه کړو، له دغه عظيم تعاون څخه يې بې برخي کړو.

هغه عبارت دا دی:

و يجب ان يحترز في الدورة الدفع الى الفقير بطريق الهزل اوالحيلة سواء كان الدافع الولي او وكيله بل يجب ان يدفع عازما على تمليكها اليه حقيقة لا تحيلا ملاحظا ان الفقير اذا ابى عن هبتها كان له ذلك ولا يجبر على الهبة. مجموع الرسائل (ص-۲۲۵).

دوی ترجمه داسې کوي، وايي: په دوره اسقاط کې، چې ولي او يا وکيل و فقير ته فديه په اسقاط کې ورکړي، بيرته به يې نه ځيني غواړي، او د هر چا خپله خوښه ده، ورکوي يې، او که يې نه ورکوي. او په اوس وخت کې مونږ تجربه په کړې ده، چې کوم څوک منع وکړي، له هغه يې بيرته اخلي، نو معلومه ده، چې دا يو مذاق دی، احتراز ځيني وکړي.

مگر د عباراتو مقصد دا نه دی، مخته تمهيد واوري، بيا د عبارت ترجمه واوري، يوه صدقه ده، او بله هبه ده. صدقه هغه ته وايي، چې يو څوک ورکړه خاص د خدای لپاره وکړي، پدې معنا چې عوض يې له الله جل جلاله څخه په اخرت کې غواړم، په دنيا کې له دغه کس څخه هيڅ نه غواړم، نه يې پسې وينم.

او هبه ديته وايي: چې په آخرت کې ثواب غواړم له الله جل جلاله څخه، او په دنيا کې له دغه کس څخه ثناء او صفت، يا عوض او تعاون هم غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو عام طور و فقير ته ورکړه، او ذي رحم قريب ته ورکړه، صدقه بلله کيږي. او غني ته ورکړه هبه بلل کيږي. په صدقه کی مصدِّق رجوع نسي کولای، او په هبه کې واهب رجوع کولای سي، ځکه صدقه داسې ده، گواگي بنده دغه ورکړه و الله جل جلاله ته ورکړه، الله جل جلاله و فقير ته ورکړه.

او په هبه کې شرط دا دی،چې واهب به پدغه ورکړه راضي وي، د زړه له کومي به يې ورکوي، او په دوره اسقاط کې ټول هغه وعده دار کسان ناست وي، چې ميت له وارث سره د ميت په شان کې د تعاون وعده کړې وي، هر فقير نوي ناست، او نه د ناستي اجازت ورکوي، که هر فقير کښيني، بيا خو حيله اسقاط نه سوه، د فديې ادا علی الحقيقت سوه، د مجلس مقصود فوت سو، مخته مونږ ذکر کړي دي، چې په اول کې له خلکوسره مشوره کيدله، او رأيه ځيني اخيستل کېدله، چې هر سړی که و دغه تعاون ته تيار وي له دغه عاجز ميت سره، نو مونږ هم تعاون ورسره کوو، دا به عين له مونږ سره محبت او قرا بت وي، نو به هر سړی تيار سو، او دا فکر به يې و واهو، چې راسئ، په اخلاص دا کار او تعاون وکړ؛ ځکه دا خو له خپله ځان سره په حقيقت کې تعاون کول دي، دونه خير او صدقې دې په زندگي کې نه دي کړي.

په مرور د زمان سره دغه اعلان او مشوره ختمه سوه، خلک ورسره عادت سوو اوس د خلکو عرف او عادت پر دغه رنگه راغلی دی، چې په دائره کي خامخا هغه کس کښيني، چې بيرته د هبې کولو قصد لري، او واهب هم په خپله هبه و هغه چا ته راضي کيږي، چې هغه يې بيرته ورکوي؛ ځکه دواړو جانبينو دغه ايات مبارک ﴿هل جزاء الاحسان الا الاحسان﴾ او دغه حديث مبارک «تهادو تحابوا» په نظر کې نيولی وي. يعني: د احسان بدله احسان دی، او يو له بله هديې او هبې سره کوي، او يو له بله محبت سره کوي، اوس نو که چيري موهوب له د هبې له ورکولو منع وکړي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واهب رضاء ختمه سي، بیرته په خپله هبه کې رجوع وکړي، لکه څنګه چې بائع پر مشتري باندي یو شيء خرڅ کړي، ایجاب او قبول هم وکړي، او تسلیم او تسلم هم وکړي، له هغه وروسته مشتري د مبیع پر پټ عیب باندي خبر سي، هغه سابقه رضاء یې ختمه سي، بیرته دغه شيء و بائع ته ورکوي، او هم د دریدلو حق لري، او رجوع هم د صدقې او هبې دریدلو ته وایي: (لان الرجوع هو اقالة الصدقة والهبة اي فسخها).

لهذا د عبارت ترجمه دا ده، چې ولي، او یا وکیل د ولي یې فدیه و فقیر ته په طریقه د هزل او مسخرو نه ورکوي، بلکې د زړه له کومې به یې ورکوي، دا به یې قصد وي، چې پدغه ورکړه یې دغه فقیر مالک جوړ سو، او پدې ورکړه به راضي وي، ځکه که دغه قصد او رضا نه ولري، بیا خو اسقاط نه په کیږي، د ورکونکي له ملکیت څخه نه وځي، او دا نظر به لري، چې دغه فقیر که منع وکړي له هبې کولو، پر هبه به نه مجبور کیږي؛ ځکه که پر مجبور سي، بیا خو د فقیر له ملکیت څخه نده وتلې، فقیر راضي نه دی، په هبه کې د واهب رضاء لازمي ده، بلکې فقیر به یې په خپله رضاء بیرته هبه کوي.

اوس نو که فقیر بیرته هبه نه کوله، په عبارت کې دا نسته چې مه یې ځیني اخلي، دلته واهب په خپله هبه کې رجوع کوي؛ ځکه د ده رضاء سابقه ختمه سوه، دغه کس یو داسې نامردي وکړه، چې د ټول مجلس مقصد یې فوت کړ، او د خپلې وعدې خلاف فرضي یې وکړه، او د مسلمانانو د اجماع مخالفت یې وکړ، لدې وجې واهب په خپله هبه کې رجوع کوي، او رجوع في الهبة د احنافو په مذهب کې جائز ده؛ ځکه په هبه ملک غیر لازم ثابتیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: «الواهب احق بهبته مالم یُثَب منها».

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: «من وهب هبة فهو احق بها حتی یثاب بها». یعني: واهب تر هر چا په خپله هبه باندي حقدار دی، تر هغه وخته چې عوض یې نوي اخستي، په دې ټوله فقهه ډکه ده، رد المحتار، طحطاوي، بدائع الصنائع، هندیه، او وغیره کتاب الهبة وګورئ.

**که څوک و وایي:** چې دا خو هبه و فقیر ته ده، هبه و فقیر ته صدقه ده، او په صدقه کې رجوع منع ده، لکه څنګه چې صدقه و غني ته هبه ده، او رجوع کې جائز ده.

**مونږ ورته وایو:** چې دغه قاعده کلیه نده، بلکې اکثریه ده. و هغه فقیر ته هبه صدقه ده، چې د عوض او تعاون طمع نه ځیني کیږي د ده د فقر له وجې، او په صورت مسئوله کې چې کوم فقیر دی، دا خو ناست د تعاون لپاره دی، دا خو د فدیې له قبضېدلو وروسته پر ورکړه قادر دی، و دې فقیر ته خو ورکړه پدغه غرض سوې ده.

لهذا دغه فقیر له هغو فقیرانوڅخه ندی، چې هبه ورته صدقه وي، او دغه ډول هر غني هم داسې ندی، چې صدقه ورته هبه وي، بلکې بعض وخت یوڅوک غني ته ورکړه پدې نیت ورکړي، چې مقصد یې د الله جل جلاله رضاء ماسوا بل شيء نه وي.

والصدقه کالهبة بجامع التبرع وحینئذ لا تصح غیر مقبوضةٍ، ولا في مشاع یقسم ولا رجوع فیها، ولو علی غني؛ لان المقصود فیها الثواب لا العوض. ولو اختلفا فقال الواهب هبة، والآخر صدقة، فالقول للواهب، خانیة در

(c) ketabton.com: The Digital Library



المختار على هامش رد المحتار- كتاب الهبة –(٤/٥٨١).(قوله ولوعلى غني) اختاره في الهداية مقتصرا عليه؛ لانه قد يقصد بالصدقة على الغني الثواب لكثرة عياله. البحر الرائق – ردالمحتار - كتاب الهبة (٤/٥٨٢).

لهذا يوځوک چې پداسې ذريعه لکه څنګه چې په سوال کې ذکر سو، مثلا: يو ځوک د دغه شيء لپاره کښيني چې خلکو ته په ذهن کې ورکړي، چې دغه خلک صرف مذاق کوي، او نه يې ورکوي، په دغه ذريعه خلک له حيله اسقاط څخه متنفر کوي. مونږ د دې ذريعې سد باب کوو، فديه بيرته ځيني اخلو، په هبه کې رجوع کوو، او دی هم د خلکو و مخته رسوا کوو، چې دا بې وعدې او بي زبانه د وعده دارو او معاويننو خلکو په مينځ کې نښوتلی دی. د هرې بې خيرۍ دروازه او ذريعه بندول پر مسلمانانو لازمه ده، دا بيا فقه په ډکه ده. هلته يې وګورئ. او هم په اصولو کې ذکر دي، چې د واجب سبب واجب دی، او د حرام سبب حرام دی.

**پينځم:** بعض علماء کرام وايي: په دوره اسقاط کې غنيان ناست وي، فديه خو فقير ته ورکول کيږي، غني ته نه ورکول کيږي، لهذا د دې حيلې بندول لازمي ده.

**مونږ ورته وايو:** د غني کښيناستل حيله اسقاط ته نقص نه رسوي، د غني په کښيناستلو که سړی اسقاط پريږدي، نو د کوچني او ليوني په راتګ باندي و مسجد ته دغه خلک بايد لمونځ او مسجد پريږدي؛ ځکه رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله صلی الله علیه وسلم وایي: چې مساجد له کوچنیانو او لیونیانو وساتئ، مسجد ته یې مه را بولئ، د غني کښیناستل له ۲دوو وجهو خالي نه وي.

**لومړی:** دغه عالم چې حیله اسقاط دده په رهنمائي کې کیږي، که یې غني پیژندی، چې غني دی. هغه یې په حساب کې نه شمیري، غني ته چې کومه فدیه ورکړي، په هغه اسقاط د روژې یا کفارې وغیره نه شماري.

**دوهم:** که عالم دغه غني نه پیژندی، بیا یې په حساب کې شماري، او دغه حسابیدل یې اسقاط ته نقص نه رسوي؛ ځکه د فقهي مسلمه مسئله ده، که یو سړي زکوة او یا صدقة الفطر غني ته په نیت د مسکین ورکړ، د ورکونکي په خیال مسکین ؤ، مگر په حقیقت کې هغه غني ؤ، دغه زکوة او صدقة الفطر اداء کیږي.

**دریېم:** باقاعده په اکثره ځایونو کې عالم دغه اعلان هم وکړي، چې فقیران دې کښیني، او غنیان دې نه کښیني، له هغه وروسته د حیله اسقاط پر ورکونکي هیڅ جرم نسته، اخستونکي مجرم دی.

**څلورم:** کیدای سي غني ناست وي، او قبض هم کوي، او پدې هم خبر وي، چې غني قبض نسي کولای؛ بلکې د یو مسکین وکیل به وي، د هغه مسکین لپاره به قبض کوي، او دغه رنگه به بیرته په هبه کې هم وکیل وي. ډیرخلک په اوس وخت کې پر علماء کرامو اعتراض کوي، وایي: فلانی عالم مالدار دی، او په حیله اسقاط کې ناست دی، و دیته نه گوري، چې د عالم پدغه ناسته کې فائده څه شيء ده، که یې هغه اخیرنی صدقه مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هغه خو بې له هغه و ټولو ته ورکوي. که غني وي او که فقير وي، په دائره کې ناست وي او که له دائرې وتلی وي.

او په دغه حرمت چې ته خبر يئ، عالم خو په طريقه يې اولی خبر دی، ځکه خو تا دغه حرمت له عالم څخه زده کړی دی، نو معلومه خبره ده، چې عالم د يو چا په قبول او په ايجاب کې وکيل دی، په موجوده عصر کې که هر غني ملا وي، که امي وي او که طالب وي، بايد داسې وکړي، چې د خپل کور والا وکيل سي.

زمونږ په قومونو کې د اکثره خلکو بي بي گاني مسکيناني وي، د نصاب مالکاني نه وي، له هغه مسکيني بي بي وکالت مطلق را واخلي.

بي بي ورته ووايي: چې په هر حيله اسقاط کې زما له طرفه په اختسلو او ورکولو کې وکيل يئ، او خاوند دغه وکالت قبول کړي، پدې کې ډيري فائدې دي.

**لومړی فائده دا ده:** چې په موجوده دور کې فقيران ډير کم دي، اکثره خلک صاحب نصاب دي، په بعضي کفاراتو کېشپېته مسکينان په قول راجع باندي ضروري دي، او شپېته مسکينان پر يو ځای نه پوره کيږي، نو چې غنيان وکيلان سي، دغه تعداد تقريبا پر يوه ځای پوره کيږي.

**دوهمه فائده دا ده:** که ټول خلک په دائره کې نه کښيني، او بيا خاص ملايان. عوام دا فکر کوي، چې دغه ملايان هم له هغو ملايانو څخه دي، چې له حيله اسقاط څخه منکر دي، نو دغه حيله اسقاط د هغو په ذهن کې ناجائز گرزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېيمه فائده دا ده:** چې په دغه کار خير کې به ډېر کسان حصه واخلي، فقيران او زنانه به يې په طريقه د اصالة واخلي، او غنيان به يې پهطريقه د وکالت واخلي.

**شپږم سوال:** بعض علماء کرام وايي: چې په حيله اسقاط باندي دفن ځنډيږي، او رسول الله وايي: چې د ميت په دفن کې تلوار کوي، لهذا د حيله اسقاط بندول په کار ده.

**مونږ ورته وايو:** حيله اسقاط غالباً د قبر د جوړيدلو په وخت کې کيږي، بې لدې هغه ميت انتظار وي، او که په بعض وخت کې بالفرض والتقدير راسي هم، باک نه لري؛ ځکه له رسول الله څخه هم يوڅه تاخير په دغه خاص مقام کې ثابت دی.
يو پوروړی «قرضدار» غير متروک الوفاء وفات سو، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې د جنازې له کولو منع وکړه، تر هغه وخته چې دغه قرض يو څوک پر خپله ذمه واخلي، بيا ابوقتادة رضي الله عنه د قرض ضامن سو، له هغه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم جنازه ورکړه، د جنازې په تاخير سره هم تاخير د دفن راځي.
**اووم سوال:** بعض علماء کرام وايي: چې ولي يې خاص په دغه ورځ کوئ، ولي يې په بله ورځ نه کوئ، پدې کې تعين د وخت راځي.
**مونږ ورته وايو:** لومړی: هغه ورځ ته را معلومه کړه چې بيا تعين د وخت نه پکې راځي. دوهم: تعين د وخت نقص او تاوان څه شيء دئ.؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم: په دغه ورځ یې پدې وجه کوي، چې پدغه ورځ خلک ټول را جمع وي، په بله ورځ بیا د دغه شيء لپاره خلک راجمع کول ډیر مشقت او تکلیف دی.

څلورم: هلته خو بیا دغه سوال په طریقه اولی کیږي. وایي: ولې یې د میت په ورځ نه کوئ. ښه خبره دا ده: چې تر دفن لمخه حیله اسقاط وسي، لدې وجې چې هغه ځای ته، یعني قبر ته فارغ الذمة ورسي. (و الی انه لو لم یوص بفدائهما وتبرع وارثه جاز، ولا خلاف انه امر مستحسن یصل الیه ثوابه، وینبغي ان یفدي قبل الدفن، و ان جاز بعده، کما في القهستاني). مجموع الرسائل – ابن عابدین (۱/۲۱۹).

**اتم سوال:** بعض علماءکرام وایي: ولې یې همیشه کوئ، دا خو التزام د ما لایلزم دی، یعني: دغه حیله اسقاط واجب بولئ، پر دغه وجوب د دوی همیشه توب دلالت کوي.

**مونږ ورته وایو:** التزام په عقیده راځي، نه په عمل. دغه کونکي ته و وایئ، چې دغه حیله اسقاط ته واجب اعتقادي بولئ.؟

که یې درته وویل: چې هو. نو واقعي ستاسوخبره صحیح ده، ماسوی له یوه صورت څخه.

هغه دا دی: چې هم میت وصیت کړی وي، او هم متروک الوفاء وي، پدغه صورت کې اسقاط پر وارث واجب اعتقادي دی. صرف په دوام لزوم نه ثابتیږي. پر ختم خواجگان د صوفیانو کرامو معمول داسې دی، چې روزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کوي. سلام مونږ همیشه وایو. د مسجد د دخول او خروج دعاګانې همیشه کوو. د اذان دعا همیشه کوو. د قران کریم سورة الملک ماخوستن په وخت کې همیشه ویل، او سورة یاسین د سهار په وخت کې همیشه ویل په کار دی. د لمانځه په نیت کې مونږ همیشه په ژبه باندې الفاظ وایو. داسې نور را واخله، دا ټول سنتیات او مستحبات دي، او سره لدې چې مونږ يې همیشه کوو.

او بل رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: «احب الاعمال الی الله ادومها وان قل» و خیر العمل مادیم علیه، کان احب العمل الی رسول الله الذي یدوم علیه صاحبه.

پر مستحب عمل دوام هلته ممنوع دی، چې کول يې واجب و بولي، او ترک يې ګناه و بولي، لکه: الطیبي شارح مشکوة چې لیکلي دي: مَن اصرَّ علی مندوب، ولم یجعله رخصةً، فقد اصاب منه الشیطان.۱۲.

**نهم سوال:** او بعض علماء کرام وایي: چې په حیله اسقاط کې مفاسد دي، کله کوم کوچنی ناست وي، او کله لیونی ناست وي، او کله غائب په وارثانو کې موجود وي، او کله د صغیرانو په مال کې تصرف کول کیږي، لهذا د دغو مفاسدو په وجه يې بندول لازمي دي.

**مونږ ورته وایو:** دغه مفاسد هر انسان مفاسد بولي، لیکن د مفاسدو په وجه سړی یو عبادت نه معطل کوي، بلکې مفاسد ختم کړئ، که یو څاه او ټینکۍ ته مرداري ولویږي، مرداري سړي ځیني باسي، ټینکۍ نه ختمه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کار د علماء کرامو مسئولیت دی، باید عالم یې پر هغه صحیح طریقه وکړي.

علامه ابن عابدین «رحمة الله علیه» په کتاب الجنائز کې لیکلي دي: که پر قبرونو او مزارونو غیر شرعي امور کیدل، پدغه وخت کې به انسان زیارت القبور کوي، او که نه.؟

په جواب کې وایي: چې د دغو مفاسدو په وجه به زیارت القبور نه پریږدي؛ ځکه هغه مسنون او مستحب عمل دی، مفاسد دې تر خپله قدرته پوري بند کړي. او دغه رنگه وایي: که په جنازې کې نائحې ښځې، یعني: سر او گریوان شکونکې ښځې رواني وي، تر خپله وسه پوري دې دغه ښځې بندي کړي، که یې په توان کې نه وه، له دغه نائحو ښځو سره دې په جنازه کې ولاړ سي.

قال: ابن حجر في فتاویه ولا تترك لما يحصل عندها من منكرات و مفاسد كإختلاط الرجال بانساء، و غير ذلك؛ لان القربات لا تترك لمثل ذلك، بل على الانسان فعلها، و انكار البدع، بل و ازالتها إن أمكن، آه. قلت: و يؤيده ما مر من عدم ترك اتباع الجنازة، وان كان معها نساء ونائحات، تأمل. رد المحتار-باب زيارة القبور (١/٦٦٥).

بل لو وقع مثل هذه الامور في الاجتماع لصلاة الجمعة مثلا كانت قبيحة شنيعة، ولا يلزم من ذلك ذم أصل الاجتماع لصلاة الجمعة كما هو او واضح، وقد رأينا بعض هذه الأمور يقع في ليالٍ من رمضان عند اجتماع

(c) ketabton.com: The Digital Library



الناس لصلاة التراويح، فهل يتصور ذم الاجتماع لصلاة التراويح لأجل هذه الأ مور التي قرنت بها.؟

كلا بل نقول اصل الاجتماع لصلاة التراويح سنة و قربة وما ضم اليها من هذه الأمور قبيح و شنيع. الحاوي للفتاوي - لجلال الدين السيوطي - م- رشيدية (۱/۱۸۵).

**لسم سوال:** بعض خلک وايي: چې په حيله اسقاط کې د عوامو او علماء کرامو فرق کوي، لدې وجې علماء کرام دغه کار ته ترجيح ورکوي، يعني: ملايانو ته ډيره صدقه ورکوي، او عوامو ته لږ ورکوي.

**مونږ ورته وايو:** دا خو هيڅ سوال نه دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: «من حسن اسلام المرء ترکه ما لا يعنيه».

دويم: علماء د معاشرې نيکان او صالحان خلک دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: د صالحانو طعام او صدقه خورئ، او صالحانو ته طعام او صدقه ورکوئ؛ ځکه پدغه صدقې سره د دين په قيام او اشاعت کې انسان معاوين جوړيږي، او فاسقانو و فاجرانو ته خورشک ورکول که څه هم صدقه ده، مګر تعاون على الاثم والعدوان دی.

دريیم: علماء د دې لپاره ترغيب نه ورکوي، لکه څنګه چې دوی وايي: بلکې علماء کرامو ليکلي دي:

وان لم يحسن ذلك فيلقنه من يحسن ذلك من اهل العلم ان أمكن والا فتكون الوكالة لاحد أهل العلم العارفين بذلك، ولا ينبغي ان يتساهل في

(c) ketabton.com: The Digital Library



هذا الامر فان به نجاة الانسان من عذاب الله تعالى و غضبه، آه. مجموع الرسائل (۲۲۳).

وايي: که د وارث حيله اسقاط نوي زده، له يو عالم څخه دې زده کړي، او که يې نسواى زده کولاى، بيا دې يو داسې عالم وکيل کړي، چې اسقاط يې زده وي، مطلق عالم دې نه وکيل کوي، مگر حيله اسقاط دې نه پريږدي؛ ځکه پدې انسان د اللهله عذاب، قهر او غضبه څخه خلاصيږي.

لهذا حيله اسقاط علماء کرام د خپل مفاد لپاره نه کوي، بلکې د ميت د نجات لپاره يې کوي.

**يوولسم سوال:** بعض خلک وايي: چې حيله اسقاط بايد د بې لمانځه او بې عمله سړي وسي؛ ځکه ديندراه خو لمونځ، روژه او وغيره نه قضا کوي.

**مونږ ورته وايو:**

چې ديندراه که څه هم لمونځ کوي، مگر احتمال د دې لري، چې په لمانځه کښې دې خطاء سوى وي، يو رکن يا شرط او وغيره دې ځيني پاته سوى وي، او احتياط په عباداتو کې واجب او لازم دى.

هکذا ينبغي ان يفعل، و ان کان الشخص محافظا على صلواته احتياطا خشية ان يکون وقع خلل، ولم يشعر به. مجموع الرسائل (۱/۲۱۲).

که يو شخص هر څونه لمونځ گزار وي، د هغه باوجود د هغه حيله اسقاط بايد وگرزوي، لهذا حيله اسقاط بايد په هر مسلمان پسې د تعاون او کومک په نيت وگرزوي، که دغه مسلمان لمونځ گزار وي، او که نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوولسم سوال:** بعض علماء کرام پر هغه دعاء سخت رد کوي، کومې دعاء ته چې د جنازې له لمانځه وروسته خلک کښيني، او اکثر وخت يو څه تلاوت هم وکړي، بيا دعاء وکړي. وايي: فقهاء کرامو صراحة ليکلي دي، چې د جنازې له لمانځه ورسته دعاء کول مکروه ده.

**مونږ ورته وايو:** چې دا بله غټه سهوه ده، علماء کرامو د اصولو په کتابونو کې ليکلي دي. الحکم يدور علی العلة. د حکم دوران پر علت باندي وي، يعني: حکم پر علت را گرزوي.

فقهاء کرام چې يې مکروه بولي، د کراهت علت او سبب څه دی، چې علت يې زده کړو د حکم محل خپله معلوميږي. د امام صاحب او امام شافعي «رحمة الله تعالی عليهما» په هغه جنازه کې اختلاف لري، چې پر ميت باندي دوباره کول کيږي.

امام شافعي رحمة الله عليه وايي: که پر ميت باندي يوه جنازه وسي، بله جنازه هم پر کيدلی سي.

امام ابوحنيفة رحمة الله عليه وايي: که يوه جنازه د اصولو مطابق وسي، بله جنازه پر کول ناجائزه ده.

لهذا فقهاء کرامو تصريح وکړه، چې له جنازې ورسته دعاء کول مکروه ده؛ ځکه بيا د خلکو دا گمان سي، چې دغه دوهمه جنازه ده، يعني: پر دغه ميت باندي دويم لمونځ دی. او دغه گمان څه وخت کول کيږي، دا هغه وخت کول کيږي، چې صفونه پر خپل ځای له سلام گرزيدلو وروسته ولاړ وي، او دعاء شروع سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فقهاء کرامو د کراهت ویلو محل هم دغه دی؛ ځکه خو علت دلته موجود دی، او که خلک کښیني او صفونه مات سي، بیا هیڅوک دا گمان نکوي، چې دغه بله جنازه ده؛ ځکه جنازه خلک په ناسته نه کوي.

بل دلته غالبا قرآن کریم ویل کیږي، دغه دعاء د قرآن کریم له ویلو وروسته ویل کیږي.

دویم: ټول د فقهي کتابونه وگورئ اکثره به وایي: لا یقوموا بالدعاء بعد صلوة الجنازة، ولا یقوم بالدعا، و یکره القیام، آه.

بعض به وایي: ویکره الدعاء بعد صلوة الجنازة وان الدعاء بعد صلوة الجنازة مکروه. یعني بعض کتابونه وایي: چې په ولاړه باندي د جنازې له لمانځه ورسته دعاء کول مکروه ده. او بعض مطلق وایي: د ولاړې قید یې ندی ذکر کړی، دا بیا د علماء کرامو «رحمة الله تعالی علیهم اجمعین» مسلمه قاعده ده، چې د مطلق او مقید تعارض سره راسي، مطلق پر مقید ور محمول کیږي، لهذا هغه کتابونه چې دعاء د جنازې د لمانځه څخه وروسته مکروه بولي، د هغو مقصود هم دا دی، چې په ولاړه پر هغه ځای د جنازې مکروه ده؛ ځکه یو به یې له نورو فقهاء کرامو سره تطبیق راسي، بل د کراهت علت او سبب نسته.

دریم: ټول مذاهب او مسالک پردې متفق دي، چې دعاء وروسته له صلاة مکتوبه څخه سنت ده، په احادیثو مبارکانو ثابته ده. «و یدعوا دبر کل الصلوة». «و یدعوا دبر کل صلوة المکتوبة». او یا: «ادعوا دبر کل صلوة المکتوبة».

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني: رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: د فرضي لمانځه په وروسته کې دې دعاء کوي، او يا دعاء وکړي، او د لمانځه وروسته دعا وکړئ.

او الله ﷻ وايي: ﴿فاذا فرغت فانصب﴾. هر وخت چې له لمانځه فارغه سئ، په دعاء کې کوشش وکړئ.

او د جنازې لمونځ هم «صلوة» دی، دعاء نه ده، لکه: سلفيان او پنجپيريان چې وايي، د ټولو احاديثو په کتابونو کې يې د صلاة باب ورته لګولی دی. او د ټولو فقهاء کرامو په کتابونو کې يې هم د صلوة باب ورته لګلولی دی، صلوة الجنازه ورته وايي: او دغه رنګه طهارة د بدن او د مکان ورته شرط دی، اودس ورته شرط دی، استقبال القبله ورته شرط دی. او هم «مکتوبه» دی، په ټولو کتابونو کې وايي: صلوة الجنازة فرض کفاية، يا الصلاة على الميت فرض على الكفاية، يعني: د جنازې لمونځ فرض کفايې دی، طحطاوي على المراقي الفلاح ليکلي دي، چې صلاة الجنازه فرض کفايي ده، او منکر يې کافر دی، يعني: د ټولو علماء کرامو په اتفاق فرض ده، د فرض کفايې او د فرض عين په فرضيت کې هيڅ فرق نسته.

لهذا د جنازې لمونځ چې هم صلوة المکتوبة دی، او د صلاة مکتوبه په وروسته کې دعاء په اتفاق باندي سنت ده، نو د جنازې د لمانځه په وروسته کې بيا ولي نده سنت، په کوم دليل مکروه ده.؟

څلورم: له دغو علماء کرامو سوال کوو، چې د جنازې له لمانځه وروسته دعاء مکروه ده، ځکه تاسو واياست، چې فقهاء کرامو ليکلي دي: و يكره الدعاء بعد الصلاة الجنازة. مونږ خو و دغه کراهت ته محمل ور پيدا کوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له جنازې ورسته په ولاړه له مخه د صفو تر ماتيدلو دعاء مکروه ده، ځکه دا دغسي سو، لکه دويمه جنازه. او يا شبه دا پيدا کيږي، چې دا زيادت سو په اوله جنازه کې، تاسو دغه بعديت او وروسته والی تر کومه ځای پوري مقصد دی، که صفونه مات سي، تاسو واياست، چې دعاء مکروه ده؛ ځکه بعد صلاة الجنازه ده.

که خلک کښيني هم، تاسو واياست چې دا بعد صلاة الجنازه ده، او که تلاوت وکړي له هغه وروسته هم، تاسو واياست چې دا بعد صلاة الجنازه ده، بعد تلاوة القرآن يې نه بولي.

نو له دفن څخه وروسته خو هم په دغه تقدير بعد صلاة الجنازه ده، او له يو بل فرضي او يا نفلي عمل وروسته خو هم بعد صلاة الجنازه ده، د دغه بعديت اطلاق خو د دغو خلکو تر مرگه پوري د دوی پر زندگي کول کيږي. که مو يوکال وروسته دغه خلک پر دعاء وليدل، بايد ورته وواياست، چې دغه مکروه ده، ځکه له جنازې وروسته ده، تيرکال تاسو د فلاني کس جنازه وکړه، دغه دعاء تر هغه وروسته ده، له جنازې وروسته دعاء کول مکروه ده؛ ځکه فقهاء کرام وايي: ويکره الدعاء بعد صلاة الجنازة، او «بعد» مطلق ذکر دی، مطلق پر خپل اطلاق پاته دی، نو تر مرگه بايد دا خلک دعاء در څخه ونکړي.

او که تاسو واياست: چې دغه بعديت تر فلاني وخته پوري مقيد دی، پر دغه توقيت دليل پيش کړئ، او تر قيامته به داسې دليل پيش نکړئ، چې له جنازې وروسته دونه ساعته مکروه ده، له هغه وروسته بيا نده مکروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کلام خلاصه دا ده:** محترمو دعاء عبادت غیر موقت دی، په هر وخت کې کول مستحب دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وايي: «الدعاء مخ العبادة». او رسول الله صلی الله علیه وسلم وايي: «الدعاء هو العبادة». منع کول يې دليل غواړي، تکبر ځيني کول کفر دی، او انکار ځيني کول کفر دی.

الله ﷻ وايي: ﴿وقال ربكم ادعوني استجب لكم، ان الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين﴾.

فالوعيد انما هو في حق من ترك الدعاء استكبارا، و من فعل كفر. فتح الباري(۱۱/۱۱٤).

فمن ابطل الدعاء فقد انكر القرآن، آه. تفسير كبير(٤/۱۵۹).

يعني: له دعاء انکار کول کفر دی، او دعاء استکبارا پريږودل يعني دعاء ته اهميت نه ورکول، خوار او سپک شيء بلل دا هم کفردی.

علامه انور شاه کشميري په اکفار الملحدين کې، او قاضي بيضاوي «رحمة الله عليهما». په تفسير بيضاوي کې وايي: مستحب قبيح بلل کفر دی، نو دغه دعاء چې د جنازې له لمانځه وروسته په ناسته د قرآن کريم له تلاوته هم وروسته کول کيږي، مسنون او مستحب عمل دی. په اثبات يې کتابونه ډک دي، که يو چانه کوله، داسې دې وايي: چې دا يو مستحب عمل دی، زه يې د سستۍ او کمزورۍ په وجه نسم کولی، نه دې په سپکه سترګه ورته ګوري، او نه دې قبيح بولي، او نه دې بدعت بولي؛ ځکه بدعت بيا اثبات غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخته د بدعت بیان په ښه تفصیل سره ذکر سوی دی، او د اثبات لپاره د فقهي و مشهورو کتابونو ته مراجعه وکړئ، لکه: بدائع الصنائع، بحرالرائق، فتح القدیر، هندیه، رد المحتار او وغیره د هر مفتي په نامه او په فتوی مه دوکه کیږئ.

**دیارلسم سوال:** بعض علماء کرام د میت د کور ډوډۍ خوړل مکروه بولي مطلقاً، که لیرې وي، او که نیږدې وي.

**مونږ ورته وایو:** چې راسئ، په فاتحه خوانۍ کې نه چای خوري، او نه ډوډۍ خوري، دغه فاتحه په کور کې وي، او که په مسجد کې وي، دغه چای وغیره کلیوالو او قریبانو راوړي وي، او که د میت د خپل کور وي، دغه مسئله یوڅه تفصیل غواړي؛ مگر زه یې مختصره او خلاصه ذکر کوم؛ ځکه یو مې د کتاب په سر کې وعده د اختصار کړې وه؛ ځکه مې ټولې مسائلې بې عباراتو او اجمالي ذکر کړې.

او بل د روژې مبارکې اخیرنی مازدیگر دی، د عرفات ورځ ده، یوڅه کم پنځه بجې دي، سهار په وطن مالؤف او محبوب افغانستان کې د کوچني اختر ورځ ده.

او هم الحمدالله د نړۍ ټولو کفارو د امریکا په سرپرستۍ کې په افغانستان کې د غازیانو او فدایانو له طرفه ماته خوړلې ده، او روان دي، الله ﷻ دې ټول معاونین هم دغسې رسوا او شرمنده کړي، زمونږ هم له افغانستان سره په پاکستان کې اختر دی. لهذا د دې وجې ځواب مختصر لیکم.

محترمو! د مړي د کور ډوډۍ اقسام لري. یوه حاجت ډوډۍ وي، او یوه د خیرات او صدقې ډوډۍ وي، او یوه د مېلمستیا ډوډۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول: د حاجت ډوډۍ دېته وايي: چې د مړي کور ته له ليري ځای خلک راسي، دغه خلک بله مرجع نه لري، خاص دغه کور ته د غم شريکي لپاره راغلي وي، چې د خوراک او څيښاک وخت سي، نو دغه د کور خلک ميلمنو ته ضرور يوځه ورکوي، او هغه يې هم ضرور خوري، دا اتفاقاً جائز ده، مشکل نه لري. او يا د خوراک او يا څيښاک وخت سي، همسايه ګانو شيء نوي راوړی، نو د کور خلک مجبور دي، چې يو شيء وخوري، دا له خپله کوره د حاجت ډوډۍ ده.

دوهمه: صدقه او خيرات دی، دا هغه خوراک او څيښاک دی، چې د مړي د کور خلک د ايصال ثواب لپاره يو شيء مسجد ته او يا کوڅې ته او يا مېلمهخانې ته او يا نورو کورونو ته ورليږي، دا غالباً خلک و هر چا ته ورکوي، کوچنيان، ليونيان،مسکينان، غنيان، او منع هم نوي پکښې.

او په عرف کې هم خلک خيرات ورته وايي. او ډير تکلفات هم نوي پکښې، دا بيا اتفاقاً جائز ده؛ بلکې يو مسنون او مستحب عمل دی؛ ځکه تر اوو شپو پورې مرده داسې وي، لکه: «غريق الماء» هر شيء ته يې طمع وي.

دريېم: قسم خوراک او څيښاک، ضيافت او مېلمستيا وي، دغه ضيافت مکروه دی؛ ځکه د ضيافت وضع د سرور او خوشحالي لپاره وي، او د مړي پر کور تر درو ورځو پوري غم او خفګان وي.

مېلمستيا هغه ته وايي: چې مقصود اصلي اولاً د خلکو خوشحالي او رضاء وي، ثانيا د الله ﷻ رضا وي، د خيرات برعکس وي. او هر څوک نه غواړي، او نه ور تللای سي، د کور مالک خاص خاص خلک دعوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، او په عرف کې يې نوم هم مېلمستيا وي، او غالباً تکلفات هم پکې وي.

له رسول الله صلی الله عليه وسلم دوه حديثنو مبارکان منقول دي: يو حديث دا دی: چې رسول الله په خپله د مړي د کور ډوډۍ د مړي په ورځ خوړلې ده. او بل حديث له جرير ابن عبد الله څخه منقول دی: چې د مړي کور ته د خوراک او څيښاک لپاره ورجمع کيدل داسې ناروا ده، لکه نياحه. نو د حديثونو مبارکانو تطبيق داسې دی، چې د منع حديث محمول دی، پر هغه خوراک او څيښاک، چې د کلي خلک د ډوډۍ پر وخت ټول د مړي کور ته ور جمع سي د خوړلو لپاره، هغه په تکليف کې مبتلاء کړي، له خپله غمه او رنځ څخه يې وباسي، او يا په ورثه و کې صغيران موجود وي، او يا بعض وارثان غائب وي، حاضران هم خيرات له ميراثه کوي، او هم ټول خرڅ له خپلې حصې څخه نه شماري، دغه صورت د خوراک ناروا دی. او که يې حاضر له خپلې حصې شماري، بيا دغه صورت هم ندی ناروا.

او يو هغه خوراک او څيښاک دی، چې د کلي عام خلکو او قريبانو د دعاء ځاي ته را وړی وي، لکه: څنګه چې په موجوده عصر کې په ډيرو ځايونو کې رواج دی، دغه خوراک او څيښاک بيا اتفاقاً جائز دی، هر کس يې خوړلی سي، له ليري راغلي وي او که له نزدې، او دا سنت عمل دی، هم له مړي سره مدد کول دي، او هم خيرات دی، او هم يې هر سړی بې د کوم شک او تردد څخه خوړلی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حديث المنع** : حدثنا محمد بن يحي، قال: حدثنا سعيد بن منصور، قال: حدثنا هشيم ح، و حدثنا شجاع بن مخلد ابو الفضل، قال: حدثنا هشيم عن اسماعيل بن أبي خالد، عن قيس بن أبي جازم، عن جرير بن عبد الله البجليِّ، قال: كنا نرى الاجتماع إلى أهل الميت وصنعة الطعام من النياحة. رواه ابن ماجه في سننه. رقم الحديث-١٦١٢.

**حديث الاباحة** : حدثنا محمد بن العلاء، اخبرنا ابن ادريس، اخبرنا عن عاصم بن كليب، عن أبيه، عن رجل من الانصار قال: خرجنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم في جنازة، فرأيت رسول الله عليه وسلم وهو على القبر يوصي الحافر: "يقول اوسِع من قِبَلِ رجليه، أوسع من قِبَل رأسه". فلما رجع استقبله داعي امرأة، (أي امرأة الميت) فجاء، وجيء بالطّعام، فوضع بين يده، ثم وضع القومُ فأكلُوا، فنظر آباؤنا رسولُ الله صلى الله عيله وسلم يلوك لقمة في فمه، ثم قال: " أجد لحم شاةٍ أخذت بغير إذن أهلها". فأرسلت المرأة، قالت: يارسولَ الله، إني أرسلت الى البقيع يشتري شاةً، فلم أجد، فأرسلت الى جارٍ لي قد اشترى شاةً ان أرسل اليّ بها بثمنها، فلم يُوجَد، فأرسلت الى امرأته، فأرسلت اليّ بها. فقال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: " أطعِمِيه الأسارى". سنن أبي داود - رقم الحديث (٣٣٣٢).

وقال المجلس في شرح المنية فهذا الحديث يدل على اباحة صنع أهل الميت الطعام والدعوة اليه، آه. (ص-٦٠٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقال العلامة ملا على القاري: «رحمة الله عليه» "في المرقات في شرح حديث عاصم". ان هذا الحديث بظاهره يرُدّ ما قرره اصحاب مذهبنا، فينبغي أن يقيَّد كلامُهم بنوع خاص من اجتماع يوجب استيحياء اهل بيت الميت فيطعمونه كُرهاً، او يُحملُ على كون بعض الورثة صغيرا، او غائباً، و لم يعرف رضاه، او لم يكن الطعام من أحد معَيَّن من قبلَ قسمته، ونحو ذلك، انتهى. و قد ذكر في زاد اللبيب عن منهاج الاسلام عن تنبيه الغافلين: ان الله ورسوله بريءٌ من الذين يأكلون الطعام من أهل المصيبة قبل ثلاثة ايَّامٍ ولياليها، قال: والمرارطعام الضيافة، لاطعام الصدقه لارواح الموتى، انتهي.

وقال ابن الهمام: «رحمة الله عليه» في " فتح القدير "ويكره اتخاذ الضيافة من الطعام عن أهل الميت؛ لانه شرع في السرور لا في الشرور، قالوا: وهي بدعةٌ مستقبحة، آه. فتح القدير(١/٢٤٦).

وفي مواهب الرحمن: ويكره اتخاذ الضيافة ايام المصيبة إلا للفقراء، اذا كانت الورثة مكّلفين.(ص-٩٠٣).

ويكره اتخاذ الضيافة في أيام المصيبة؛ لانها ايّام تأسفٍ، فلا يليق بها مايكون للسرور، وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسناً اذا كانو بالغين. قاضيخان(٣/٣٥٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال الشيخ أبوالحسن السندي: في " البدر المنير " عن مباحث "فتح القدير" قوله: «الاجتماع الى اهل الميت» اى لموته، لا لدعوة أهل الميت ايّاهم للتبرك بهم، أو التقرب باطعامهم، قال وقوله: «اتخاذ الضيافة» أي اتخاذ الطعام على وجه الضيافة للأقرباء والأحباء ممّن يبعد حضورهم على وجه الاجتماع على الطعام، الا في الضيافات والعروس ، لاعلى وجه القربة للصالحين و أولى الحاجة، انتهى. وفي شرعة الاسلام السنة أن يتصدق وليّ الميت قبل مضِيّ الليلة الأولى بشيء ممّا تيسر له ، فان لم يجد شيأً فليصل ركعتين يُهدى ثوابها للميت، انتهى.

وفي خزانة الروايات عن ابن عبّاسٍ «رضي الله عنهما» يقول: اذا كان يوم الجمعة او يوم عاشوراء او ليلة نصف من شعبان يأتي ارواح الاموات يقومون على أبواب بيتوهم، فيقولون: هل من أحدٍ يترحم علينا.؟

هل من أحدٍ يذكر غربتنا كتبنا مطويّة و كتبكم منشورة، انتهى. الدرة المضية(ص-٥٠٣).

وبالجملة فاتخاذ طعام الضيافة من اهل الميت في الايام الثلاثة ممنوع، واما التصدق، و اطعام الحاجة، والتقرب، والتبرك، فمستحب خصوصاً في الايام الثلاثة، وباقي ايام السنة المتبركة كالجمعة وغيرها. الدرة المضية في ضيافة التعزية(ص-٥٠٢).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يادونې وړ ده، چې د احاديثو مباركانو په حقيقت كې ټكر بلكل نسته، د ابو الحسن كلام په غور سره وګورئ. والله اعلم و اتم و اكمل.

**څوارلسم سوال:** بعضي علماء كرام وايي: چې په هر هغه شيء كې چې مقتضى موجود وي، او مانع نوي موجود، د هغه باوجود رسول الله نوي كړى، د هغه ترک سنت دى، نو د اسقاط په هكله هم مقتضى موجود و، او مانع نه و موجود، رسول الله «صلى الله عليه وسلم» ترک كړى دى، نو موږ لره يې ترک سنت دى.

**موږ ورته وايو:** نفس اسقاط د رسول الله په زمانه كې موجود و، يوه جنازه حاضره سوه، رسول الله پوښتنه وكړه، چې پور خو به نوي پر باندئ.؟

خلكو وويل: پر باندي دى. رسول الله وويل: «صلوا على اخيكم». تاسو لمونځ وركړئ، رسول الله يې له لمانځه منع وكړه، بيا يو صحابي مبارک اعلان وكړ، چې دغه قرض زه ادا كوم.

په نورو احاديثو مباركانو كې ذكر دي، چې رسول الله به اعلان وكړ، چې هر سړى كه مړ سو، او مال يې پا ته سو، مال يې د وارث دى. او كه يې مال نه درلود، او قرض پر باندي وو، هغه زه اداء كوم بس دغه اسقاط دى؛ ځكه اسقاط وايي: " ازالة الحق عن الذمة ".

دويم: بعض فقهاء كرام د حيلة الاسقاط نسبت رسول الله ته كړى دى، لكه څنګه چې د كتاب په سر كې ذكر سو.

دريېم: د رسول الله په وخت كې مقتضى نه و موجود؛ ځكه خلک يعني: مسلمانان، كامل مسلمانان وو، پر خپله ذمه يې هيڅ هم نه پريښودل، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوق الله، او نه حقوق العباد.. د اوس وخت مسلمانان خو په هر عبادت کې سستان دي، لهذا قوي امکان وي، چې پر ذمه يې حقوق الله پاته دي، او د اسقاط قدرت يې وارث نلري، نو د اسقاط لپاره حيله جوړه کړي، و مجموع ته حيله الاسقط وايي: او دغه خپله مشروع حيله ده.

څلورم: متروکات د نبي صلی الله عليه وسلم مسنونات نه دي، يعني: متروک ته سنت نسي ويل کيدی؛ ځکه الله ﷻ فرمايي: ﴿وما اتكم الرسول فخذوه، وما نهكم عنه فانتهوا﴾. يعني: په کوم شيء چې رسول الله امر کړي ياست، په هغه عمل کوئ. او له کوم شيء چې رسول الله منع کړي ياست، هغه مه کوئ.

داسې نه دي ويلي: "ما ترك الرسول فانتهوا عنه". کوم شيء چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نوي کړی، هغه مه کوئ.

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «الحلال ما احل الله في كتابه، والحرام ما حرم الله في كتابه، وما سكت عنه فهو مما عفا عنه» يعني: مسکوت عنه عفوه ده، مباح دی. مکروه او يا حرام ورته ويل حرام دی.

په اوس وخت کې ډير خلک فرق په مابين د "مسکوت عنه" او د "متروك" کې نسي کولی، او فرق په مابين کې د "ترك الشيء" په معنی د "عدم الفعل" او د "كف النفس عن الشيء" نسي کولی.

د تفصيل مقام نه دی، که يو څوک ښه وضاحت او تفصيل غواړي، نو مسلم الثبوت صفحه(۵۵) مسئلة "لا تكليف الا بالفعل" دې په غور سره وګوري. او التوضيح والتلويح صفحه (۳۰) "تعريف الفقه" دې وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه دا سوه: چې رسول الله دې نوي کړی، د هغه باوجود کول يې ناروا نه دی؛ ځکه ډېر داسې شيان سته ، چې رسول الله ندي کړي، مگر زموږ لپاره يې کول سنت او مستحب دی.

پنځم: دوې خبرې په غور زدهکړئ!

**لومړۍ خبره:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم متروکات ډېر قسمونه لري.

لومړی: "متروك عادتا او طبعا". لکه: رسول الله چې د سمسارې له خوراک څخه لاس ونیوو، صحابه کرامو ورته وویل: یا رسول الله حرامه ده.؟

ده مبارک ورته وویل: یا حرامه نه ده، زمونږ په علاقه کې نسته. یعني: په طبیعت کې خوند نه ورکولو.

دوهم: "متروك نسیانا". لکه: د رسول الله یوه ورځ په لمانځه کې یو شيء هیر سو، صحابه کرامو پوښتنه ځیني وکړه، چې په لمانځه کې نوی أمر راغلی دئ.؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «انما أنا بشر أنسی کما تنسون، فاذا نسیت فذکروني»

دریېم: "متروك خوفاً علی أمته". لکه: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې تراویح په جماعت سره پرېښودې، کوم وخت چې صحابه کرام د تروایحو کولو لپاره را جمع سوو، رسول الله نه ورته راووت، بیا یې ورته وویل: چې ما پدې وجه تراویح په جماعت ترک کړې، چې پر تاسو باندي فرض نسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم: "متروك لعدم التفكر" . لکه: رسول الله چې خطبه د خرما و درختې ته ویله، د منبر فکر یې نه و وهلی، صحابه کرامو مشوره ورکړه، بیا یې منبر جوړ کړ.

پنځم: " متروک وي، له جهته د دخوله په عموماتو د ایاتونو او احادیثو مبارکانو کې ". لکه: رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې ترك د صلاة الضحی او د ډیرو مستحباتو کړی دی؛ ځکه دا پدې قول د الله ﷻ کې داخل دی: ﴿وافعلوا الخير لعلكم تفلحون﴾.

شپږم: "متروک له جهته د خوف د تغیره د زړونو د صحابه کرامو". لکه: څنګه چې رسول الله عائشې صدیقې رضي الله عنها ته وایي: «لولا حداثة قومك بالكفر لنقضت البيت، ثم لبنيته على أساس ابراهيم عليه السلام؛ فان قريشا استقصرت بناءه».

او داسې نور اقسام هم لري، د دغو متروکاتو حکم دا دی: چې د متروک ترک مشروع دی، نه یې ترک واجب دی، او نه یې کول حرام دی، لکه: رسول الله ترك د وضوء مما مسته النار  څخه کړی دی.

یعني: یو شيء چې په اور پوخ سوی وي، د هغه له خوراک څخه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس ندی کړی. نو نه یې کول حرام دی، او نه یې ترک واجب دی؛ بلکې ترک یې مشروع دی.

پدې أساس د اصولینو قاعده ده: " جائز الترك ليس واجب " .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او علامة عبد الله بن صديق ويلي دي.

"الترك ليس بحجة في شرعنا - لا يقتضي منعا ولا ايجاباً".

"فمن ابتغى حظراً بترك نبينا - ورآه حكماً صادقاً و صواباً".

"قد ضل عن نهج الأدلة كلها - بل أخطأ الحكم الصحيح وخابا" آه.

خلاصه دا سوه: چې ترك ډير احتمالات لري، نو ترك زموږ په شريعت كې نه سنت دی، او نه حجت دی.

دا بيا قاعده ده: "اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال ان ما دخله الاحتمال سقط به الاستدلال".

او دغه رنگه ترك، عدم الفعل دی. عدم اصل دی، او فعل عارضي دی، اصل په اشياوو كې اباحة دی. لهذا كراهت اوحرمت دليل غواړي.

**دوهمه خبره:** مستحبات ډير افراد لري، ټول افراد كول د يوه سړي لپاره ناممكن دی، لهذا ډير مستحبات دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ندي كړي؛ ځكه هغه افرادو په هغه وخت كې وجود نه درلودل.

مثلا: د ايصال ثواب لپاره مسجد ته قرآن شريفان رسول الله ندي راوړي، جاى نماز (قالين /مسلې) يې ندي راوړې، پنكې يې ندي راوړې، حكومتي روغتونونه يې ندي جوړ كړي، خلكو ته يې پاخه پلونه او سړكونه ندي جوړ كړي، داسې ډير شيان سته دا ټول بايد منع سي. او سره لدې چې دغه ټول مستحسن او مستحب كارونه دي؛ ځكه په عموماتو كې داخل دي.

امام شافعي رحمة الله عليه ويلي دي. "كل ماله مستند من الشرع فليس ببدعة، ولو لم يعمل به السلف" هر هغه شيء لره چې په شرع كې اصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هغه نه دی بدعت؛ کڅه هم سلفوصالحينو نوي کړی. نو حيله اسقاط دې هم نه رسول الله کړې وي، او نه دې سلف صالحينو کړې وي، د هغه باوجود نه يې کول حرام دی او نه يې ترک واجب دی؛ بلکې په شرع کې اصل لري، له خپل مؤمن ورور سره د حق په اداء کولو کې تبرع او کومک کول دي، مسلمان ته نفع او خير ور رسول دي. «خير الناس من ينفع الناس». ﴿وافعلوا الخير لعلكم تفلحون﴾. ﴿وتعاونو على البر والقوى﴾ و غيرهم. د دغه سوال ډيرجوابونه سته، بس په دغو مذکورو جوابونو اکتفاء کوم.

خلاصه دا سوه: اول: خو له رسول الله ثابت ده، که هغه نه منئ.

په دوهم ځل کې وايم: ستاسو منکرينو له جانبه عدم الرواية دی، نه رواية العدم، عدم الروايت دليل نه دی.

دريم: د رسول الله په وخت کې مقتضی نه و موجود.

څلورم: د رسول الله او د صحابه کرامو قول، فعل او تقرير سنت دی، ترک يې سنت نه دی.

پينځم: ترک د رسول الله نه تقاضا د کراهت کوي، او نه تقاضا د حرمت کوي.

شپږم: ترک په معنی د عدم الفعل حجت نه دی؛ بلکې سکوت په معرض د بيان کې حجت دی، له رسول الله صلی عليه وسلم څخه د حيله اسقاط په هکله سکوت ثابت نه دی، سکوت په معرض د بيان کې بيان دی، د دې دا معنی ده، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخ کې يو څوک يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قول، یا یو فعل وکړي، او رسول الله سکوت اختیار کړي، هیڅ نه ورته ووایي: و ددېته تقریر د رسول الله هم ویل کیږي، دغه قول او فعل بیا حجت دی. او یا رسول الله د یو شيء په هکله بیان کوي، مثلا: د اختر لمونځ بیانوي، ټول شیان د اختر د لمانځه بیان کړي؛ مگر اقامت او اذان نه کړي بیان، له هغو ساکت سي، نو دا بیا پردې باندې حجت دئ، چې د اختر د لمانځه لپاره اقامت او اذان نسته؛ ځکه سکوت په معرض د بیان کې بیان دی، او سکوت په معرض د غیر بیان کې بیان نسي کیدلای؛ ځکه سکوت په معنی د عدم القول دی، عدم القول او عدم الفعل حجة نسي کیدلای؛ ځکه نه قول دی، نه فعل دی او نه تقریر دی؛ بلکې په دغه قول کې داخل دی: «وما سکت عنه فهو مما عفا عنه». لهذا دغه ترک حجة نسي کیدلای.

**اهمه مسئله:** کفارة الظهار د میت له جانبه یو مسلمه مسئله ده، او ډیرو کتابونو کې هم لیکلي دي، چې د میت کفاره ظهار باید وارث اداء کړي، او سره لدې چې هم دغو کتابونو کې لیکلي دي، چې په مرگ د احدهما باندي کفارة الظهار ساقطیږي، دغه دواړې خبرې سره ټکر دي، د تحقیق په بنیاد سقوط د کفارة الظهار راجح معلومیږي؛ مگر له ډیره وخته د خلکو عملورباندي راغلی دی، لهذا تر نه کولو یې کول بهتر بولم.

که کوم چا وضاحت غوښت، د هغو لپاره مختصر عبارت او حوالې نقل کوم، د تفصیل موضع نه ده.

هغه عبارت: چې د نارینه مړي له جانبه د کفارة الظهار د اداء کولو اثبات کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



والثاني : أن الكفارات كلها واجبة على التراخي ، هو الصحيح من مذهب اصحابنا في الامر المطلق عن الوقت حتى لا يأثم بالتأخيرعن اول أوقات الإمكان، ويكون موديا لا قاضياً......... ولو تبرع عنه ورثته جاز عنه في الاطعام والكسوة، و أطعموا في كفارة اليمين عشرة مساكين او كسوتهم، و في كفارة الظهار والافطار اطعموا ستين مسكينا، ولا يجبرون عليه، ولا يجوز ان يعتقوا عنه؛ لان التبرع بالاعتاق عن الغير لا يصح ، ولا ان يصوموا عنه؛ لانه عبادة بدنية محضة فلا تجري فيه النيابة. بدائع الصنائع (٢٥١/٤). كتاب الكفارات- فصل في كيفيت الوجوب، و هكذا في رد المحتار ، و بحر الحرائق، و منحة الخالق ، و منة الجليل.

او هغه عبارت چې د كفارة الظهار نفي كوي، او وايي: په مرگ د احد الزوجين سره كفاره ساقطيږي:

و اما بيان ما ينتهي به حكم الظهار او يبطل، فحكم الظار ينتهي بموت احد الزوجين ، لبطلان محل حكم الظهار ، ولا يتصور بقاء الشيء في غير محله، آه. بدائع الصنائع كتاب الظهار – فصل في ما ينتهي به حكم الظهار - (٥/١٩).

الكفارة انما تجب على المظاهر اذا قصد وطئها بعد الظهار، وان رضا ان تكون محرمة عليه بالظهار، ولا يعزم على وطئها لم تجب عليه الكفارة....... و كذا لو مات احدهما بعد العزم كذا في الينا بيع، الفتاوى الهندية – الباب العاشر في الكفارة – (١/٥٣٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتكلم العلماء رحمهم الله تعالى في سبب وجوب الكفارة........ والمحققون من اصحابنا رحمهم الله تعالى قالوا سبب وجوبها العود وحده، و هذا القول اقرب الى الفقه.......... ولو دعا ثم بدا له أن لا يطئها سقطت الكفارة فكانها تجب عندنا غير مستقرة، ولهذا سقط بموته و بموتها؛ لان الكفارة تجب بالعزم عندنا وما بالعزم تجب غير مستقرة ؛ لأن العزم يرد عليه النقض والفسخ ، المحيط البرهاني – الفصل الثالث والعشرون – مسائل الظهار – (٥/١٩٢). والله اعلم و أتم و أكمل.

**مهمه مسئله**: په كفارة القتل كې هم د علماء كرامو اختلاف دی؛ مگر احتياط پدې كې دی، چې كفاره ادا كړي، او هم دغه ادا كيدل له ډيره وخته د علماء كرامو معمول به ده.

لهذا هر كس يې بلا ترده ادا كړي. د تفصيل مقام نه دی. دغه ډول هغه موركی چې خپل زوی يې لاندې كړی وي، او په خپل ژوند كې كفاره نوي ادا كړې، د هغې له جانب څخه هم بايد ادا سي.

**د كلام خلاصه دا ده:** چې حيله اسقاط د ذمې د فراغت يوه طريقه ده، كه يو شيء حرام وي، د هغه د وصول لپاره طريقه هم حرامه ده. او كه يو شيء حلال وي، د هغه لپاره طريقه جوړول هم حلال كار دی، يعني: اسبابو لره حكم د مقاصدو وي، نو په حليه اسقاط كې مقصود د مړي ذمه فارغه كول دي، او له الله جل جلاله څخه د مړي بخشش او خلاصون دی، لهذا دغه فراغت د ذمې د مسلمان د بنده له حق څخه او يا د الله ﷻ له حق څخه مستحب او مستحسن عمل دی، نو د دغه عمل لپاره چم او طريقه جوړول هم مستحب او مستحسن عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې طريقې کيفيت داسې دی، کوم وخت چې انسان مړ سي، که يې وصيت کړی ؤ، او مال يې هم پاته ؤ، د ده پر وارثانو باندي په درېيمه د مال کې وصيت نافذ کول واجب دی، دغه اسقاط واجب ده، وارثان حاضر وي، او که غائب وي، صغيران وي، او که کبيران وي، صغير او غائب تغير نسي ورکولای.

او که يې وصيت نه ؤ کړی، او مال يې پاته ؤ، بيا که بعض غائب ؤ، او يا کوچنيان ؤ، هغه غټان به بالفعل دغه اسقاط له خپلې حصې وکړي.

او که يې مال نه ؤ پاته، بيا صغير او غائب فرق نه کوي، حاضر به له خپل مال ځخه اسقاط پسې وکړي.

که ميت نارينه و، دوولس کاله به د ده له عمر ځخه د کوچنيوالي کاټ کړي. او که ميت ښځينه ؤ، نه کاله عمر به يې د کوچنيوالي ځيني کاټ کړی. د دې نور عمر به يې حساب د لمونځونو، روژو او وغيره وکړي. لمونځونه له وترو سره د ورځې۶ شپاړ لمونځونه دي، د مياشتې ۱۸۰يو سل و اتيا دي، او د کال ۲۱۶۰دوه زره يو سل او شپېته دي، د هر لمانځه او روژې فديه احتياطا دوه کېلو غنم او يا د غنمو قيمت دی.

مثلا: مرده پنځوس کلن دی، او روپۍ ۵۰۰۰۰پنځوس زره دي، نو دوولس کاله ځيني کاټ کړه، اته ديرش کاله پاته سوو، د اته ديرش کاله ۸۲۰۸۰دوه اتيا زره اتيا لمونځونه کيږي.

غنم فرضا په سل روپۍ کيلو دی، نو فديه يې ۲۰۰دوه سوه روپۍ سوه، نو ۵۰۰۰۰پنځوس زره روپۍ ۲۵۰دوه نيم سوه فديې کيږي، يعني دغه پنځوس زره روپۍ چې يوه کس ته ورکړې، د دوه نيم سوه لمونځونو فديه ادا سوه. نو تقريبا په ۳۲۸درې سوه اته ويشت قبضه باندي، د ټولو لمونځونو فديه ادا سوه. وارث به خپله دغه روپۍ را واخلي، او يا به يو په اسقاط پوه شخص وکيل کړي، او يا به مولوي صاحب يو نا پوه کس په وکالت پوه کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسې طريقه باندې چې وارث به ورته ووايي: چې هر ځل فقير ته په ور کولو کې ته زما وکيل يئ، او په هر ځل له فقير څخه په قبض کولو کې ته زما استازی يئ؛ ځکه دغه وکيل به قبض د موکل لپاره کوي. که يې د ځان لپاره قبض کړي، بيا خو دغه وکيل د مال مالک سو، او وکيل اجنبي دی، د اجنبي ورکړه په قول صحيح باندې جائز نه ده.

دا شرائط به موجود وي: چې په ناستو خلکو کې به کوچنی نه وي، لېونی به نه وي، مرېيی به نه وي، د مړي وارث به نه وي، کافر به نه وي، معتو بې عقل به نه وي، غني/مالداره به نه وي، که بالفرض غني يا وارث موجود وي، په حساب کې به يې نه شماري، او دغه ورکړه به د ملکيت په توګه وي، هزل او مسخرې به نه وي، د ورکونکي به هم دغه عقېده وي، چې دغه مال زما ملک سو، خو په خپل اختيار تبرعا او نيکي له ميت سره په ورکړه کې کوم، او دغه مال که د وارث خپل نه ؤ، له بل چا څخه به يې په خواست نه را اخلي، بلکې په قرض به يې را اخلي، نو پدغه طرېقه باندې به يو ځل د لمونځونو فديه ورکړي.

دوهم: بيا به د روژې فديه ورکړي، درېيم: بيا به د روژې کفاره ورکړي، د روژې کفاره شپېته قبضه غواړي، که په مجلس کې کسان کم وي، په يوه قول باندې په دوهم ځل ورکړه هم صحيح کيږي، دا قول د هدايې د مولانا صاحب رحمة الله عليه دی، او په بل قول باندې بيا نه صحيح کيږي، احتياط هم پدغه قول کې دی، نو بيا دې له مجلس څخه خارج خلکو ته ورکړي، لکه: څنګه چې زمونږ په علاقه کې رواج دی، چې هغه پاته روپۍ د کفارو په اسقاط کې و زنانه وو ته او يا ماشومانو ته ورکوي، او دا احسنه طرېقه ده.

څلورم: بيا به يې په کفاره کې د قسمونو ورکړي، چې دا بيا لس قبضه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم: بيا به يې په کفاره د قتل خطاء کې ورکړي.
شپږم: بيا به يې په کفاره د ظهار کې ورکړي.
اووم: بيا به يې په کفاره د ټولو حقوقو شرعيه و کې ورکړي، مثلا: اختری، صدقة الفطر، زکوة او وغيره.

اول: اسقاط نماز است - ثاني: اسقاط روزه رمضان.
دو ر ثالث کفاره رمضان - شد کفاره ظهار رابع دان.
شصت قبض شرط است در این دو جا - اگر خواہی گردن میت رہا.
بار پنجم گردن ایمان را - شرط در این ده قبض شد ای جانما.
بار ششم گردن اسقاط را - از حقوق جملها شاید رہا.

لدې وروسته به د جنازې لمونځ وکړي، له لمانځه وروسته که صفونه مات سي، او خلک کښيني دعا دې وکړي، او يا قرأت ووايي هم، هيڅ پروا نلري، بلکې ودې کړئ، بيا دې ميت دفن کړي، له هغه وروسته د ميت و سرته دې سورت البقرة اول آياتونه ووايي، او د ميت د قبر پای ته دې د سورت البقرة آخيري آياتونه ووايي، له هغه وروسته دې په ولاړه باندي دعاء وکړي، او ډيرې دعاګانې دې وکړي، له هغه وروسته که يو څوک خيرات کوي، مه يې منع کوئ؛ ځکه خيرات يو مستحب عمل دی، هر وخت کيدلای سي، معين وخت نلري، له هغه وروسته بيا تعزيي مراسم ادء کيږي.
مقصد مې دا دی: چې اسقاط خيرات او دعاګانې په افغانانو کې مروجې دي، بلکل د شريعت او مذهب سره موافق دي، هيڅ شک او تردد پکې نسته، د نورو قومونو په څير لکه: سنديان او پنجابيان او وغيره، مونږ علم نه په لرو، چې په دوی کې کوم ډول مروج دي. لهذا زمونږ اسقاط مروج

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحب او مستحسن عمل دی، هیڅ وخت باید څوک سستي او کاهلي پکې ونکړې.

او دغه هره خبره ما له خپلو معتبرو کتابونوڅخه را اخیستې ده، له ځان څخه مې یوه مسئله هم نده لیکلې، د اختصار له کبله مې د هغو کتابونو عبارتونه ندي را اخیستي، ځکه کتاب پرې مفصل کیږي.

والسلام مع الاحترام

اللهم ارنا الحق حقا و ارزقنا اتباعه، و ارنا الباطل اجتنابه.

آمین یا رب العالمین.

حرره فداء محمد المعصومي غفر له الباري و لوالدیه و لكافةالمؤمنين، آمین.

۱٤٤٥/رمضان البارك/۲۹

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**